

د افغانستان دفتر

Konrad
Adenauer
Stiftung

Konrad
Adenauer
Stiftung

www.kas.de

# اسلامي ګوندونه، کيڼ لاسي
# او يوه تشه د دوی تر منځ
# د افغانستان سياسي ګوندونه له کومه راغلي دي
# (۱۹۰۲ - ۲۰۰۶)

توماس روتيګ

۱۳۸۶

# سرلیک

په دغه نوې مقاله کې توماس روتیګ (Thomas Ruttig)موږ ته داسې یوه لیکنه وړاندې کوي چې په ربښتیا له هره اړخه بې سارې ده. دا لیکنه یوازې د ګوندونو فهرست کول او ستاینه نه ده، مګر یوه لنډه لیکنه د افغانستان د تاریخ ده چې ځانګړې پاملرنه یې د سیاسي خوځښتونو پرمنظمه وده باندې ده.

دا لیکنه د لوستونکو پام د تیرې پیړی لمړنیو رځوته اړوي، کله چې د افغانستان د خپلواکو متفکرانو وړو سیاسي ډلو، سیاسي موخو ته درسېدلو لپاره تړون وکړ او یوه ګډه سیاسي اجنډایې ومنله. توماس روتیګ د افغانستان په اړه له پنځه ویشتو کلونو نه ډیر کار کړی دی، د سیاسي ګوندونو بهیرونه یې څیړلي، تحلیل کړي او په ماهرانه توګه یې سیاسي ډلې او ګوندونه د لسیزو په ترڅ کې له پېښنو او پر مختګونو سره پېیلي دي. لیکوال د خپلې پوهې په مرسته چې د افغانستان په د واړو ژبو پښتو او دري کې یې لري، لوستونکي هغو نویو ادبیاتو ته چې په دې لیکنه کې راغلي معرفي کوي. په دې توګه لیکوال په ډیر واضح او ژور ځیر سره لوستونکو ته واکمن جوړښت او تعینونکی ژوند ور پېژني. همدارنګه دا لیکنه زموږ پام دې ته را اړوي، چې په افغانستان کې د د یموکراسی او سیاسي پلوراليزم لپاره هڅې په ربښتیا د طالبانو د رژیم له نسکوربدو نه وروسته نه دي پیل شوي. او دا لیکنه زموږ پوهه د هغو احتمالي ملګرو په اړه ډیره وي چې ډیر وخت په پام کې نه دي نیول شوي، تر څویوځای د یوسوله ییز افغانستان لپا ره هڅې وکړو.

د توماس روتیګ ښه پوهه له دې هیواد نه د لوستونکو لپاره اړینه ده، چې څوک ځان د سیاست په لر لید کې ورک نه کړي، هغه لرلید چې ډیروخت د کارپوهانو او نوي نا ظرینو لپاره بې نظمه بریښي. کله چې توماس روتیګ په کابل کې د آلمان سفارت د سیاسي سلاکار په توګه دنده ترسره کوله، هغه د آلمان حکومت او نړیوالې ټولنې ته ګټورې مشورې ورکړې دي. زه له توماس روتیګ اود کنراد– ادناور له بنیاد (Konrad-Adenauer-Foundation) نه مننه کوم چې دا مقاله یې لیکلې او خپره کړې ده، او هغوکسانو ته چې د افغانستان د راتلونکې بیا رغاونې سره لېوالتیا لري، دا فرصت برابروي چې د توماس روتیګ له پراخو تجربو څخه یو ځل بیا ګټه پورته کړي.

ډاکټر هانس اولریش زایت
په افغانستان کې د فدرالي جمهوري آلمان سفیر

**د مظامینو فهرست**

سریزه ........................................۱
دمشروطه غوښتونکوخوځښت........................................۴
دلومړنی دیموکرا تیکې دورې ګوندونه :د ویښ زلمیا ن غورځنګ..........۴
د دویمې دیموکراتیکې دورې ګوندونه اود محمد داود جمهوریت..............۷
د جهاد د وخت ګوندونه........................................۱۱
د نجیب الله کنترول شوي څو ګوندي سیستم ........................۱۴
د مجاهد ینو او طالبانو په رژیمونوکې ګوندي سا زما نونه.................۱۶
طالبانو له دورې نه وروسته ګوندونه ................................۱۸
د ۲۰۰۳ کا ل د ګوندونو قانون........................................۱۸
سني تنظیمونه ........................................۲۰
دننه اوبهر: اسلامي ګوند........................................۲۵
د طالبانو یو قانوني ګوند؟........................................۲۷
شیعه ګوندونه........................................۲۷
غیرې جهادي تنظیم، جنبش........................................۲۸
قومي ملت پال اوقومي کیڼ لاسي........................................۳۰
پخوانی کیڼ لاسی، د افغا نستان دخلق دیموکراتیک ګوند......................۳۲
نوي د یموکراتان........................................۳۶
د معتدلو تشه او د جمهوریت غوښتنکي ګوند نشتوالی..........................۴۲
د ۲۰۰۴ کال دولس مشري او د ۲۰۰۵ کال دپارلماني ټولټاکنو د پیر ګوندونه.........۴۵
پایله: درې تاریخي بهیرونه........................................۴۸
د لیکوال په هکله ........................................۵۱

هم د ډلو لپاره کارول شوي دي. د ۱۹۶۰ په لسیزه کې د ګوندونو ترڅنګ ورانديځینوسیاسي ډلو د بهیر اصطلاح غوره ګڼله. دلومړني مشروطیت نه ورسته، د محافظه کارانو سیاسي توپیر داساسي قانون له پلویانو سره یوازې دا وو چې محافظه کارانو غوښتل د هغه وخت حالت (status quo)په خپل حال وساتي. د تېرې پېړی په دویمې نیمایي کې دې سیاسي ځواکونو تنوع پیدا کړه او درې ځانګړي سیاسي بهیرونه را څرګند شول چې تراوسه هم شته: سیاسي مذهبي(اسلامي) بهیر، کمونست کیڼ لاسي، چې پخوا د مسکو د پلویانو او د مخا لفانو په ډلو وېشل شوي وو، او بېلابېل قومي ملت پال وو[3]. له لومړني بهیر نه په ځانګړې توګه سني جهادي تنظیمونه وو چې د ۱۹۸۰ په لسیزه کې په پاکستان کې مېشته وو، او د پېښور په اووه ګونو یادیدل، او شیعه مجاهدین چې په ایران کې وو، او د تهران د اته ګونو په نامه یادېدل استازیتوب کاوه. په دویم بهیر کې په ځانګړې توګه دافغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند چې د خلق او پرچم دوې ځانګې یې لرلې، اوماویستي ډله چې له نوي دیمو کراسی څخه راوتلي وه او خلګو شعلیان هم بلل، جوړ شوی و. دریيم بهیر د افغان ملت نه چې د پښتنو ملت پالو درې ځانګې لري، د تاجکو ملي ستم چې ځینې ازبک او ترکمن عناصر هم پکې شته، دافغانستان د خواریکښو انقلابي سازمان – سازا، او د ملي کنګرې له نوې ګوند څخه تشکیل شوی دی. د هزاره په قوم کې داسې معادل ګوند نشته، ځکه د هزاره قوم مذهبي، سیاسي او د قضایي برابری غوښتنو ته د وحدت ګوند ځواب ویلې دي.

د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر په نیمايي کې د عدلیه وزارت سره ۸۱ ګوندونه ثبت شوي وو[4]. له لسو تر پنځلسو غوښتنلیکونه اوس هم ترغورلاندې دي، کله چې سیاسي ګوندونه د ۲۰۰۵ کال له پارلماني ټولټاکنو بې برخې شوو، ځینو نورو ګوندونو بیا دا پرېکړه وکړه چې ځانونه ثبت نه کړي. که څه هم ډېری افغانان دګڼو سیاسي ګوندونو پریو ځلي را پیدا کېدو نیوکې کوي[5]، ولې دا هم باید له پامه ونه غورځوو چې دا په انتقالي[6]حکومتونو کې یو عادي امر دی.د بهرنیانو په

۳ –اسماعیل اکبربیا دا ډلې له یو څه توپیر سره په دې کټګوریو ویشي: ۱– سیاسي مذهبي خوځښتونه، ۲– د کیڼ لاسو خوځښت یا د کمونستانو ډلې، قومي مذهبي (Sectarian)، سیمه ییزې ډلې، د ملي مسلې سوال را پورته کول، او دیموکرات خوځښت. دفتر مطالعات سیاسی راه آینده (د راتلونکی لاري د سیاسی مطالعاتو دفتر) (ایدیتور)، محمد اسماعیل اکبر، راه آینده، کابل، ۲۰۰۶ کال، ۱مخ.

۴–دا ویب پاڼه وګورئ: <http://www.moj.af/dari/list_plitical_parties.htm> www.moj.af/dari/list_plitical_parties.htm، دا لست په انګریزي ژبه کې نشته. دا لست د ډیرو ګوندونو له کړنلارو سره هم اړیکې(Link) لري. د ګوندونو د اسنادو چاپي نسخې هم د افغانستان د عدلیې په وزارت کې شته، د افغانستان سیاسي ګوندونه، کابل، ۱۳۸۴ کال.

۵–د سیاسي ګوندونو یووالی د یوې رایې ورکوونکي او یوې رایې د سیستم په وړاندي ورکشاپ چې د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر په ۲۱ او۲۲ د آلمان د کنراد ادناور په بنیاد کې د سیاسي ګوندونو د استازو او دپارلمان د وکیلانو په ګډون جوړ شوی وو، ډیرو ګډونکوونکو یاني ددوي په اند، دوي ویل چې په افغانستان کې د ګوندونو شمیر ډیر دی.

2006 in Kabul, most participants spoke against as they saw, the unnessary high number of political parties in Afghanistan.

Vote (SNTV) System held with party representatives and MPs at the Konrad-Adenauer- Foundation on 21 and 22 September

During the workshop of Political Parties Consolidation vs. Single Non-Transeferable

## سریزه

د دوديز قضاوت خلاف په افغانستان کې سياسي ګوندونه شته، مګر تر اوسه په هغه مانا نه چې په لوېديځ کې دي: په ډېروکې دوام، جوړښت، ښېله کړنلاره او داخلي ديموکراسي نشته. ډېرېې مذهبي دي، او اکثراً د قومي ليکو په شا وخوا تنظيم شوي دي. دا ډول ګوندونه کېداى شي په آلمان کې د ۱۹۶۰ په لسيزوکې ليد ل شوي وي[1]. سرې دا ويلى شي چې افغا ني ګوندونه تراوسه ابتدايي بڼه لري او د جوړښت په حال کې دي. موږ په دې نه پوهېږو چې کوم ګوندونه به په راتلونکې کې پاتې شي، ولې ډېروېې په تېرو لسيزو کې له ځانه د پام وړ ثبات ښودلي دى.

دا ټول دهيرانتيا وړ نه دي: پرته له يو څو کلونو څه نا څه آزاده سياسي فضا د ۱۹۴۰ او د ۱۹۵۰ په لسيزو کې، دمحمد داود د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون ترسيورې لاندې، د نجيب الله د حکومت په ورستي کلونوکې، او په ۲۰۰۱ کال کې د طا لبانوله نسکورېدو وروسته، نور داسې کوم وخت نه ليدل کېږي چې سياسي ګوندونه دي له پټو ځايونو راووزى، ځانونه منظم کړي، له خلګو سره اړيکې ټينګې کړي او يوه مدني مباحثه چې هيواد بايد په کوم لورې ولاړشي پيل کړي.

لومړنى منظمې سياسي هڅې سل کاله وړاندې (۱۹۰۳-۱۹۰۹) د مشروطه غوښتونکو له خوا پيل شوي. افغانان دا پير د مشروطيت په نامه هم يادوي. افغان تاريخ پوه ميرغلام محمد غبار، لا پخوا خپله ډله د ګوند په نامه نومولې وه چې په پښتو کې ګوند او په دري کې حزب ورته وايي، خو داسې نه بريښي چې دغو ډلو دې خپله دا اصطلاح کارولې وي[2].

نورې اصطلاح ګاني هم شته: خوځښت، تحريک، نهضت، غورځنګ، جنبش، چې دا ټول د حرکت مانا لري. عربي اصطلاح ګانې لکه جبهه او محاز دواړه د ټلوالې په مانا دي. تنظيم، سازمان او کانون د سازمان لپاره کارول شوي. جميعت او مجمعه د ټولنى لپاره او ګروه يا ګروپ

---

۱-په آلمان کې لومړني سياسي ګوندونه له سيمه ييزو وګړوجوړ شوي وو، له دې کبله چې ډير لږغړېې لرل، خلګو په خپل منځ کې اړيکې نيولې. وګورئ : آسکار نيدر ماير، ګوندونه او د ګوندونو سيستم: پلوراليزم او د کاري تغيراتو محدوديتونه.

See: Oskaer Niedermayer, Parties and the Party System: Pluralization and Functional Change within Limits.

او د لودجر هيلمز په ليکنه کې (ايديتور): په فيدرالي جمهوري آلمان کې بنسټونه او په بنسټونو کې بدلونونه، لندن، ۱۶۹مخ.

In: Ludger Helms (ed.): Institution and Institutional Changes in the Federal Republic of Germany, London, pp. 169.

۲-هغه د جميعت سرى ملى (پټې ملي ټولنى) نوم وړاندې کړى دى. ميرغلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ (افغانستان د تاريخ په اوږدو کې)، کابل ۱۳۶۴ کال، ۷۱۷ مخ. د مشروطه غوښتونکو په اړه عمومي معلومات وګورئ: غبار، له ۷۱۶ مخ نه پيل کيږى. عبدالحى حبيبي، جنبش مشروطيت در افغانستان (د مشروطيت غورځنګ په افغانستان کې)، کابل ۱۳۶۳ کال، مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخير (افغانستان په وروستيو پنځو پيړيو کې)، ۳ ټوک، کابل، په ۲ ټوک کې، ۴۶۳aå مخ نه پيل کيږى. س س هاشمى، افغانستان معاصر (معاصر افغانستان)، کابل، ۱۳۵۹ کال.وارتن ګريګورين، د معاصر افغانستان ځرګنديدل، ستانفورد، ۱۹۶۸ کال.

Vartan Gregorian, the Emergence of Modern Afghanistan, Stanford, 1968.

غبار په ځوانى کې د مشروطه غوښتونکو په دويم غورځنګ کې برخه لرله، او حبيبي په لومړنى ديموکراتيکي دوره کې د ۱۹۴۰- ۱۹۵۰ په لسيزو کى فعال و.

## د مشروطه غوښتونکو خوځښت

لومړني مشروطه غوښتونکي[۱۰]چې په ارګ کې دننه او بهر د ليبرالانو او اصلاح پالو علماوو يوه وړه ډله وه[۱۱]، هڅه کوله چې مطلقه شاهي په مشروطه شاهي واړه وي[۱۲]. هغوی په هېڅ ډول د يوه سياسي ګوند بڼه نه درلوده. دا به تر ډېره کچه سمه وي که ووايو، لکه چې مصباح زاده وايي، دا دفکري او سياسي بهير پيل و[۱۳]. په ۱۹۰۹ کال کې په ډېره بې رحمانه ډول د دې ډلې مخه ونيول شوه، او د دوی اووه مشران اعدام شول[۱۴]. په ۱۹۱۱ کال کې يوې نوې ډلې د مشروطه غوښتونکو بيرغ بيا اوچت کړ. د دې ډلې مشري محمود طرزي کوله چې په عثماني ترکيه کې يې زدکړې کړې وې، او وروسته دامان الله خان په پاچاهی (۱۹۱۹ - ۱۹۲۹) کې د بهرنيو چارو وزير وټاکل شو. د امان الله خان اصلاحي کارونه د دې ډلې په مرسته پيل شوي و. دا ډله دځوان افغانان په نامه يادېدله[۱۵].

## دلومړنی ديموکراتيکې دورې ګوندونه:

د ويښ زلميانو خوځښت د ۱۹۳۰ په لسيزه کې پښتنو روڼ اندو چې د پاچا له کورنی سره يې تړاو نه درلود، او د امان الله خان د اصلاحاتو په پايله کې را څرګند شوي وو، يو خوځښت پيل کړ چې پښتو ژبې ته وده ورکړي. وروسته بيا د ۱۹۴۰ په لسيزه کې د ا ډله اصلاح پال شو او موخې يې پراخې شوې، چې بې له پښتنو نور قومونه هم ورسره يو ځای شوو. ځينې مشران يې پارلمان ته وټاکل شو، دوی خپلواکې خپرونې او سازمانونه جوړ کړل، چې دلومړي ځل لپاره دوی ګوند ورته وويل. افغان ليکوالان دې دورې ته لومړنی ديموکراتيکه دوره وايي[۱۶] .
په ۱۹۴۷ کال کې پښتنو پوهانو بيا د مونږ ويښ زلميان غواړو تروينا لاندې يو غير منظم خوځښت د ويښ زلميان په نامه جوړکړ. دا وينا پښتون شاعر عبدالروف بينوا ليکلې او خپره

---

۱۰-غبار دې ته ديموکراتيک څوځښت وايي، ۷۱۶مخ.

۱۱-دغبار او حبيبي په اند، په دې کې درو ډلو ګډون درلود: د اخوان افغان ډله، په هندوستان کې روزل شوي د حبيبې د ليسې ښوونکي، دوی خپلې ډلې ته جان نثاران اسلام ويل، اويوه بله ډله د غلام بچګانو په نامه يادېدله، دا د قومي مشرانو زامن ول چې په ارګ کې يې ژوند کاوه. حبيبي، ۲۳ مخ. غبار، ۷۱۷ مخ.

۱۲-شيرزمان تايزي ، د ثور انقلاب، پيښور، ۱۹۸۶، ۵ مخ. Sher Zaman Taizi, The Saur Revolution, Peshawar, 1986, p. 5.

۱۳-مصباح زاده، ۲ او ۳ مخ.

۱۴-ځينې پاتې شول او بيايې وروسته د طرزي په بيا نوي خپرې شوي سراج الاخبار کې کار کاوه.

۱۵-حبيبي، ۱۵۳ مخ. غبار، ۷۲۳ مخ. کورګن (Korgun) دا ادعا کوي چې امان الله خان په ۱۹۲۸ کال کې د استقلال او تجدد په نامه د يوه سياسي ګوند د جوړولو هڅې وکړې. وګورئ وج کورګن پدې اړه لاندې::

(V. G. Korgun ، Intelligencija v politicheskoi zhizni Afghanistan، Moscow، ۱۹۸۲، pp 37f.

۱۶-ظاهر طنين، افغانستان په شلمه پيړی کې (افغانستان در قرن بيستم)، ۱۹۰۰ - ۱۹۹۶، تهران، ۱۳۸۳ کال، ۸۶ مخ. واحيدي، ددې لپاره چې تصلصل ته اشاره وکړي، دې ته دريم مشروطيت وايي، ۹۷ مخ.

منځ کې هم داسې یو احساس شته چې ګواکې سیاسي ګوندونه له طالبانو نه ورسته په افغانستان کې جوړشوي دي، تر ډېر مرستې تر لاسه کړي، او بې له غیرې دولتي سازمانونو (NGOs) بل څه نه دي، چې په سیاسي ډېره کې را ښکاره شوي دي.[7] کېدای شي دا په ځینو برخو کې رښتیا وي، مګر د ډېرو مهمو ګوندونو په اړه ناسم او غیرعادلانه ارزونه ده. ځینې افغانان هم داهیروي چې سیاسي سازمانونه د دوی په هېواد کې اوږد تاریخ لري. که څه هم د دې مسایلو په اړه یو څه لیکنې شوي دي[8]، مګر دا لیکنې هڅه کوي چې یو سیستماتیک عمومي نظر د افغانستان دنن ورځې د سیاسي ګوندونو په اړه وړاندې کړي، چې دوی له کومه راغلي او څه دریځ لري. د افغانستان په اوسني تاریخ کې د سیاسی نظرونو دوام او سازمانونه ښیي، او دا استدلال کوي چې د افغانستان په سیاسي نظام[9] کې ګوندونه کولای شي مشروع دنده تر سره کړي.

۶–له ۱۹۸۹ کال نه وروسته دا د ختیځې اروپا په هیوادونو کې هم کېدای شي لیدل شوي وي. حتا په با ثباته دیموکراسیو کې له پارلمانه بهرهم ډېر ګوندونه شته. د۲۰۰۵ کال دآلمان په ټولټاکنو کې څلور دیرشو ګوندونو د فیدرالي پارلماني (Bundestag)د ټولټاکنو په کچه ګډون کړی وو. وګورئ: http:/www.politics1.com/parties.htm. په ۲۰۰۶ کال کي د آلمان د فیدرال د ټولټاکنو افسرانو (Bundeswahlleiter) یوسلو اوه ګوندونه په ټولټاکنوکي ثبت کړی ول. ددې ګوندونو د لست لپاره دا لاندې ویبپانه وګورئ:

http//www.bundeswahlleiter.de.bundestagswahl12005/download/anschriftenverzeichnisparteien.pdf

په متحده ایالاتو کې یوینځوس ګوندونه شته. وګورئ: http://www.politics1.com/parties.htm

۷–د مثال په ډول وګورئ: رسول رحیم، په افغانستان کې د دیموکراسي حرکت، ټوټې ټوټې دی او مالي توان نه لري. د دویچه ویلې د خبریال، رسول رحیم، له خوا یو سیاسي تحلیل، کابل، ۲مخ.

Afghanistan-fragmented and in lack of funds, a political analysis by Rassoul Rahim, a journalist for Deutche Welle, Kabul, nd. p.2.

See for example: Rassoul Rahim, the democracy movement in

۸- افغاني لیکنې یوازې ګوندونه معرفي کوي بې له دې چې د ډلو ارزونه وکړي. وګورئ مثال: الحاج محمد امین فروتن، ګام به ګام نهضت اسلامي و انقلابي افغانستان (د افغانستان له اسلامی او انقلابی نهضت سره ګام په ګام)، کابل ۱۳۷۰کال. سید محمد باقر مصباح زاده، آغاز و فرجام جنبش هاي سیاسي در افغانستان (د افغانستان د سیاسي غورځنګونو پیل او پای)، کابل، ۱۳۸۴ کال، دا لیکنه په ۱۳۷۹ کال کې هم لیکل شوې وه ، ولې وروستني حقایق پکې نه وولیکل شوي. تقی واحدی، د افغاني ګوندونو نن اوپرون (دیروز و امروز احزاب افغانی). او په: دریم لیک (خط سوم) کې، مشهد ز۲ او ۳ شمېره، ۱۳۸۲ کال اوړی او دوبی، له ۹۴ – ۱۰۶ مخونه.

بیا هم وګورئ: س فدا یونس، افغانستان: سیاسي ګوندونه، ډلي، بهیرونه، د مجاهدینو ټلوالې او حکومتونه، ۱۹۷۸ – ۱۹۹۷، پیښور، .

See also: S. Fida Yunas, Afghanistan: political parties, groups, movements and mujahideen alliances and governments (1978-1997), Peshawar, nd.

ځانګړې لویدیځې سرچینې دا دي: اولیور روی ، اسلام او مقاومت په افغانستان کې، لندن او نیو یارک، ۱۹۸۶کال. هنری س براد شیر، افغان کمونیزم او د شوروی مداخله، اکسفورد او نیو یارک ۲۰۰۰ کال. جیلز دورانسورو، بی پایله انقلاب. افغانستان له ۱۹۷۹ تر نن، لندن، ۲۰۰۵ کال. دننیو پیښنو په اړه وګورئ: دنړیوال کړکیچ ډله، په افغانستان کې سیاسي ګوندونه، د آسیا معلومات، ۳۹ شمېره، کابل او بروکسل، د ۲۰۰۵ کال د جون ۲. کیت سپنس، د افغانستان د سیاسي ګوندونو ارزونه، د نړیوالو چارو ملي دیموکراتیک انستیتوت، کابل د ۲۰۰۶ کال اوړی.

The major western sources are: Oliver Roy, Islam and Resistance in Afghanistan, London and New York, 1986. Henry S. Bradsher, Afghan Communism and the Soviet Intervention, Oxford and New York, 2000. Gilles Dorronsoro, Revolution Unending: Afghanistan: 1979 to the Present, London 2005. On recent development see: International Crisis Group, Political Parties in Afghanistan, Asia Briefing No 39, Kabul/Brussels, 2 June 2005. Kit Spence, Political Party Assesment Afghanistan, National Democratic Institute for International Affairs, Kabul, spring 2006.

۹–دطالبانو د خوځښت په اړه څه نشته.

په دې اړه وګورئ: ویلیام مالی (ایدیتور) ، بنسټ پال بیا را ژوندي شول؟ افغانستان او طالبان، لندن، ۱۹۸۸ کال.

On this issue see: William Maley (ed), Fundamentalism Reborn? Afghanistan and the Taliban, London, 1988.

کمال متین الدین، د طالبانو ښکارنده (پدیده)، افغانستان له ۱۹۹۴ – ۱۹۹۷ کلونو، کراچي، ۱۹۹۹ کال.

Kamal Matinudin, The Taliban Phenomenon, Afghanistan 1994-1997, Karachi 1999.

احمد رشید، طالبان، دجګړه مارانو اسلام، تیل او بنسټ پالی په منځنی آسیا کې، نیو هاوین، ۲۰۰۰ کال.

Ahmad Rashid, Taliban: Militan Islam, Oil, and Fundamentalism in Central Asia, New Haven, 2000.

وروسته له دې چې نوي حکومت سیاسي فضا آزاده کړه او نوریې په ټولټاکنو کې په ډاګه لاسوهنه نه کوله، د ویښ زلمیان پنځه مشران د ۱۹۴۹ کال په ټولټاکنو کې ولسي جرګې ته وټاکل شوو[۲۴].

په دې ټولټاکنو کې د لومړي ځل لپاره له پټو رایو کار واخیستل شو[۲۵]. د ګاونډي هیواد ایران د پیښو تر اغېزې لاندې، دې پنځو کسانو د مصدق د ملي تړوالې نوم غوره کړ[۲۶]، دا د افغانستان په پارلمان کې لومړنی سیاسي ډله وه. له دوی سره یوولس نور وکیلان یوځای شوو، او د دوی له اصلاحي اجنډا له دېرشو تر څلوېښتو نورو وکیلانو پلوي کوله[۲۷]. د دوی په ځانګړو لاسته راوړنو کې، یو هم د ۱۹۵۱ کال د جنوری په میاشت کې تر ډېره کچه درسنیو آزاده قانون و، چې د لنډې مودې څو نورو اصلاحي دورو ته چې د دوی له اجنډا یې پلوي کوله لاره پرانیستله[۲۸].د افغانستان د شمال اتحاد او ترقی یوه ډله چې د ترکمن ټوکمو د نظرونو پلوي یې کوله او پټ فعالیت یې درلود هم استازې په ولسي جرګې کې لرل او له ملي تړوالې سره یې همکاری کوله.[۲۹]

د لومړني ګوندونو دجوړلو لپاره هڅې، اوپه ځانګړې توګه د ندای خلق د لومړني ګوند د خپرونې را ایستل، ددې ګوند او د خپرونې د بندیدلو سبب شو. دې ګوند او د وطن ګوند پټ فعالیت کاوه، د وطن ګوند پنځه کاله نور هم فعالیت وکړ. وروسته له دې چې غبارله بنده آزاد شو،[۳۰] ګوند منحل شو، کېدای شي چې دا به د ده د آزادی یو شرط و. حتا که اصلاح پال وکیلان ددوی پخپلې ارزونې سره بریالي نه وو[۳۱]، مګر غبارد تقنیني کال په پای کې ولیکل چې ملي تړوالې صادقانه او په میړانه خپل ماموریت د اصلاحاتو په روحیې او له ملت او حکومت سره په پخلاینې کې تر پایه سرته ورساوه، او یو دیموکراتیک حکومت ته د رسیدلو لپاره د ملت توان روښانه شو[۳۲].

---

۲۴–غبار او شیعه ډاکټر عبدالرحمن محمودي، اصلاً د غزني د ولایت د جاغوري د ولسوالی و، او په کابل کې یې ژوند کاوه. عبدالحی حبیبي له کندهاره، پښتون شاعر ګل پاچاه الفت له ختیز ولایاتو، او محمد کریم نیازی د اندخوی له شمالي ولایته و. وګورئ: روتیګ، ۹۶ مخ.

۲۵–واحیدي، ۹۶ مخ. رحیم، ۱ مخ.

۲۶–غبار، په ملي شورا کې مو څه وکړل؟، وطن (کابل)، د ۱۳۳۰ کال د مرغومي ۱۹.

۲۷–لویس دوپري، افغانستان، پرنستون ۱۹۷۳، ۴۹۴ مخ. ج ګراسموک، ل وادامیک اوف چ ایروین، افغانستان: ځیني نوي لاري، ان اربور، ۱۹۶۹، ۱۵۳مخ.

۲۸–انګار، فیض محمد انګار د دې خپرونې مسول چلوونکی وو. غبار د وطن د خپرونې خپروونکی او فرهنګ مسول چلوونکی وو. محمودي د ندایې خلق خپروونکی وو. الفت د ولس د خپرونې خپروونکی او علي محمد شینواری یې مسول چلوونکی وو. ددې خپرونو شمیره یوزرو پنځه سوو ته رسېدل. وګورئ: روتیګ ، ۷۳ مخ. دوپری، ۴۹۵ مخ. میګویند، وطن (کابل) د ۱۳۳۰ کال د غبرګولي ۹. محمد کاظم آهنګ او محمد زصدیق، مطبوعاتو ته یوه کتنه: د افغانستان د مطبوعاتو د ورځې په ویاړ، کابل ۱۳۵۱ کال، لیکوال سره مرکې، کابل ، ۱۹۸۳ او ۱۹۸۴ کال.

۲۹–ددی مشري د فاریاب د ولایت د وو ورونو وکیلانو محمد نظرنوا او ابولخیرخیري کول. بیا وروسته دوی د وسلوالې ستراتیژی لاره غوره کړه او د ملي ستم ځایې ونیو. دې نوم له هغه نوم سره چې په ۱۸۷۰ کال کې د اساسي قانون زلمي پلو یانو په عثماني ترکیه کې کار اخیست ورته وو. ددې ډلې نوم د اوس وخت په اسنادو کې راغلي دي: راه آینده (ایدیتور)، ۱۰ مخ.

۳۰–دلیکوال مرکه، کابل ۱۹۸۳ او ۱۹۸۴ کال.

۳۱–نطق آغای سخي امین خان (د ساغلی سخی امین خان وینا)، د دوشي دولسوالی وکیل، وطن (کابل)، ۱۳۳۰ کال د مرغومې ۱۲.

۳۲–غبار، په ملي شورا کې مو څه وکړل؟، وطن (کابل)، د ۱۳۳۰ کال د مرغومې ۱۹.

کړې وه[۱۷]. يو کال وروسته په ۱۳۲۷ کال کې د جوزا په ۷، د کندهار، ننګرهار او کابل دوه ويشت ځوان ليکوالان په کابل کې را غونډ شول اوله دې خوځښت نه يې يو سياسي سازمان جوړ کړ، چې کړنلاره، منظمې غونډې اوغړيتوب يې درلود. د دې سازمان موخې له مشروطه پاچاهی پلوي، د قواو بیلتون، آزادې ټولټاکنې او مدني آزادی وي، مګر د دوی مشران په ټولټاکنو کې ونه ټاکل شوو[۱۸]. په دې موده کې د سلو کسو په شاه وخوا کې غړي د ننګرهار، کندهار او فراه په ولايتونو کې فعال وو. د غبار او مير محمد صديق فرهنګ ډلې چې ښاري تاجکان وو، او د ډاکټرعبدالرحمن محمودي شيعه ډله لا څه موده وړاندې له ويښ زلميان وتلې وو، دوی په بينوا نيوکې درلودې چې د ده په وينا کې د حکومت د پلوي آواز شته. له دغو بېلابېلو تمايلاتو څخه د افغانستان دسياسي ګوندونو په تاريخ کې لکه چې واحيدي وايي، د ګوندونو لومړنی بڼه (proto-parties)را څرګند شو[۱۹].

هغه خوځښتونه چې په پيل کې ځوقومي وو، وروسته د قومونو پرليکو سره ووېشل شوو، دا يوه لويه تېروتنه وه چې تراوسه يې افغاني اصلاح غوښتونکي خوځښتونه پريشانه کړي دي. لومړنی ګوند چې د ۱۳۲۹ کال د تلې په ۲۷ د ښست پالو پښتنو ځوانانو له خوا جوړ شو، هغه د ويښ زلميان ګوند و[۲۰].

د دې ګوند کړنلارې د پښتنو پرمسايلو، ژبه او د پښتونستان پر مسلې ټينګار کاوه، اودا يې هم ويل چې له دولت سره دې ګډ کار وشي[۲۱]. دې ګوند په فعاله توګه نوي غړي نيول اوپه ۱۹۵۱ کال کې د غړوشمېر ۱۸۱۶ ته ورسيد[۲۲]. پدې ګوند پسې د ۱۳۲۹ کال د مرغومې په مياشت کې د غبار په مشری د وطن ګوند جوړ شو. اوبيا په ۱۹۵۱ کال کې د خلق ګوند د ډاکټرمحمودي په مشری تاسيس شو. دې دواړو ګوندونو د ديموکراسی په پلويتوب شعارونه ورکول: ملي حکومت، آزادې ټولټاکنې اود سياسي ګوندونوجوړول، مګر د خلق ګوند اجندا يوڅه کيڼ لاسې وه، ټولنيزعدالت، دښکېلاک پروړاندې مبارزه اود ديموکراتيکو حقونو غوښتنی پکې ډېرې شوی وې[۲۳].

۱۷-عبدالروف بينوا، ويښ زلميان غواړو، کابل شميره ۱۳، ۱۳۲۶ کال ز۲ مخ. دا بيانيه څلور څلويښت ليکوالو چې څلور پکې ښځې وې ليکلی وه،

See: Thomas Ruttig? Zur Bedeutung de burgerlichen Oppositionsbewgun der 50er Jahre unseres Jahrhunderts fur die Formierung progressiver politischer Krafte in Afghanistan, Diplomarbeit, Humboldt-Universitat zu Berlin, 1985 pp 46ff.

شميره ۲۱۱ او۲۱۲، ۱۳۲۶ کال، پښتو ټولنه.

محمد علم بځرکی، ويښ زلميان: د افغانستان يو سياسي تحريک، له ۱۳۲۵- ۱۳۵۰، هالند، ۱۳۷۹ کال.

۱۸-محمد ولي زلمی، ملي مبارزې، کابل ۱۳۸۲ کال، له ۲۶۸ مخ نه پيل کيږي.

۱۹-واحيدي، ۹۷ مخ.

ويليام بويوکو، په معاصرافغانستان کې د سياسي ګوندونو سرچينه د آرشيف د نويو اسنادو په رڼا کې، د منځنی آسيا ژورنال، شميره ۴۶، ۲۰۰۶ کال، ۱۹۶مخ.

۲۰-بځرکی ادعا کوي چې دا ګوند لا پخوا د ۱۳۲۸ کال د زمري په ۲۷ جوړ شوی و، ۳۶مخ.

۲۱-د ويښ زلميان کړنلاره (نه ده چاپ شوی)، کابل nd. ددې کړنلارې جرمني ژباړه وګورئ: روتيګ (Ruttig)، op cit، دريم ټوک، ۳ ضميمه. بيا هم وګورئ: زلمی، ۲۶۸ مخ. بځرکی، ۲۷ مخ.

۲۲-کابل، کندهار، جلال آباد، ګرديز، مزارشريف، بغلان، ميمنه، پلخمري اوهرات. وګورئ: بويوکو (Boyoko)، ۱۹۳ مخ.

۲۳-روتيګ (Ruttig)، ۷۱ - ۷۲ او۷۵ مخونه. امين صيقل، مډرن افغانستان، لندن ۲۰۰۴ کال، ۱۱۵ مخ.

شو[۳۸]، اووجه یې دا وه چې ملی ستم د طبقي (class)ترمسلي د ملی پوښتني مسله مهمه ګڼله. ملي ستم کېن لاسي ملي شعارونه اوماویستي لاره سره ګډوله اوپاملرنه یې د کلیو دخلګو پر راټولولو باندې وه.

دویم بهیر د نوې دیموکراتیک بهیر وچې خلګو ماویستان بلل[۳۹]. د دې بهیرغړې د شعلیانو په نامه مشهور و، دانوم یې دخپلی خپروني شعلې جاوید نه اخیستې وه. د دې خپرونې یووازې ۱۱ ګڼې په ۱۹۶۸ کال کې خپرې شوې دي. د نوي دیموکراتیک بهیر بنسټ اینښوودنکي د خلق ګوند د موسس، ډاکټر محمودي خپلوان، عبدالرحیم اوعبدالهادي محمودي، سره له دووهزاره جاغوري ورونو اکرم اوصدیق یاري دي. دې ډلې د ۱۹۶۵کال د اکتوبر په میاشت کې یو پټ سازمان د مترقي ځوانانو سازمان په نامه جوړکړ، دې سازمان خپل نوم اوشتون خلګو ته اعلان نه کړ، اوپه ۱۹۷۲ کال کې له منځه ولاړ. دریيم بهیر د معتدلو کېن لاسو ځوډلې وې. د یوې ډلې مشري پخواني مشروطه پال غبار کوله، هغه د خلق دیموکراتیک ګوند د جوړولو په لومړنیو ورځو کې هم برخه درلوده، مګر د دې ګوند تررسمي اعلانولو وړاندې یې دا ګوند پرېښود.
د یوې بلې بې نومې سوسیال دیموکرات ډلې مشري فرهنګ کوله. وروسته له دې چې د ګوندونو قانون توشیح نه شو دا ډله له فعالیته ولوېدله[۴۰]. درېیم ګوند چې را څرګند شو د افغانستان مترقي دیموکرات ګوند وو. افغانان دا ګوند د دې ګوند د ورځپاڼې په نوم (مساوات) پېژني. د دې ګوند مشري هاشم میوند وال کوله، هغه له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ کاله صدراعظم و. مساوات ته معتدل سوسیالیست ویل کېدل، شاهي پلوه و او اسلامي تمایلات یې درلودل[۴۱]، اوهغو پښتنو روڼ اندو چې پخوایې له ویښ زلمیان سره خواخوږي درلوده ددې ګوند مینه وال وو[۴۲].

۳۸-دا رسمي نوم نه و، مګر دوکتورین (پالیسی) اصلي بڼې ته یې اشاره کوله، د پښتنو په وړاندې د نورو قومونو مبارزه. دننه د دې ډلې نوم محفل انتظار و.
See: Horst Buscher? Demokratisierung und Ansatze zur Parteienbildung in Afghanistan, Forschungsinstitut der Friedrich-Ebert-Stiftung, Vierteljahresberichte, Probleme der ?Entwicklungslander, Vol. 39, 1970, p. 22

د سازا په اړه د ۱۹۸۳ کال د غبرګولي میاشت، د ختیځ آلمان (GDR )د سفارت کاري ترجماني په کابل کې.
پر دې برسیره، د خلق دیموکراتیک ګوند لړترلړه څلور نورې ډلې درلودې چې په ۱۹۶۰ او ۱۹۸۰ کلونو کې له دې ګوند نه بیل شول اوبیا ورسره یوځای شوو. دافغا نستان د شمال په ولایتونو کې د کار ډله (ګروه کار) د انجنیر امان الله استوار په مشری د ازبکو او ترکمنو په منځ کې فعاله وه. د افغانستان د خواریکښو انقلابي ټولنه (جمیعت انقلابي زحمتکشان افغانستان – جازا) د کندهاري ظاهر افق په مشری د خلق پر دیموکراتیک ګوند باندې له یو څه ډیرې کېن لاسي اړخه نیوکې کولې اویو مثال یې دا وو چې د غویي له کودتا وروسته ولې د خلق دیموکراتیک ګوند د پرولیتاریا د دیکتاتوري ادعا ونکړه. کارګر خلک (خلق کارګر) د دستګیرپنجشیري په مشری، او بله بې نومه ډله د ډاکټر عبدلکریم زرغون په مشری، هغه د خلق د دیموکراتیک ګوند د رژیم له خوا وژل شو. دلیکوال مرکه په کابل کې ۱۹۸۳ او ۱۹۸۴ کال. بیا هم وګورئ تایزي ۴۵ مخ. برادشیر ( Bradsher) ۱۳ مخ.
هایمن (Hyman) وایي چې دې ګوند له پیکنګ سره نږدې اړیکې نه درلودې چې د دې ساده تعریف لیاقت ولري. وګورئ: هایمن ۵۹ مخ. ددې حرکت افغاني غړوویل چې دا یو سازمان نه و، مګریو شعار و چې د ماوزیدونګ (Mao Zedong) له نوې دیموکراسي اخیستل شوی و: موږ د نوې دیموکراسي د افکارو خپروونکی یو (ما ناشر افکار دیموکراسی نوین هستیم)، د لیکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.
۳۹-هایمن (Hyman) وایي چې دې ګوند له پیکنګ سره نږدې اړیکې نه درلودې چې ددې ساده تعریف لیاقت ولري. وګورئ: هایمن ۵۹ مخ. ددې حرکت افغاني غړوویل چې دا یو سازمان نه و، مګریو شعار وچې د ماوزیدونګ (Mao Zedong) له نوې دیموکراسي اخیستل شوی و: موږ د نوې دیموکراسي د افکارو خپروونکی یو (ما ناشر افکار دیموکراسی نوین هستیم)، د لیکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.
۴۰-فرهنګ ویلي وچي ده دا احساس کاوه چې دی هغو لیبرال د یموکراتانو ته چې سوسیالیستي تمایلات لرل نږدې و" او د هندوستان د کانګرس ګوند له سوسیالیزم سره یې خواخوږي درلودله.
See: Horst Buscher? Demokratisierung und Ansatze zur Parteienbildung in Afghanistan, Forschungsinstitut der Friedrich-Ebert-Stiftung, Vierteljahresberichte, Probleme der Entwicklungslander, Vol. 39, 1970, p. 22

۴۱-د انتوني هایمن اوسراج الدین رسولي لاندي لیکنې وګورئ.
Anthony Hyman, op. cit., p. 58. Sarajudin Rasuly, Die politischen Eliten Afghanistan: Ihre Entstehungsgeschichte, ihre Bedeutung und ihr Versagen in de Gegenwart, Europaische Hochschulschriften, Reihe XXXXI, Politikwissenschaft, Vol 323, Frankfurt a. M. Berlin, Bern etc, 1997, p. 151.

## د دویمې دیمکراتیکې دورې ګوندونه (۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳) او د (محمد داود په جمهوریت کې له (۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸)

وروسته له دې چې محمد ظاهرشاه د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون توشیح کړ، دا بهیر بیا له نوي کول سره چې بېلا بېل سیاسي نظرونه یې لرل په دویمې دیموکراتیکې دورې کې تر پخوا ځواکمن را څرګند شو. دا له پورته وکښته ته یو پرمختګ و، مګردوی هغه څه لاسته راوړل چې دمشروطه غوښتونکو دربیو کولونو ورته مبارزې کړې وې. که د ګوندونو قانون توشیح شي د ګوندونو جوړولو ته اجازه و، او ډېر ګوندونه چې په تمه وو، میدان ته راووتل: کیڼ لاسې، معتدله، محافظه کاران، او اسلامي ګوندونه، لکه پنځلس کاله وړاندې د خپلو خپرونو په شاوخوا کې را ښکاره شوو[۳۳]. وروسته له دوو کلونو خبرو په ۱۹۶۸ کال کې پارلمان دګوندونو قانون تایید کړ[۳۴]، مګر پاچاه د دې قانون له توشیح کولو ډډه وکړه، صیقل دا یوه ستره خطا بولي[۳۵]، او وجه یې دا وه چې هغه کیڼ لاسي او اسلامي سخت دریزه ګوندونه چې پاچا غوښتل فعالیت ونه کړي، خپلو فعالیتونه ته یې دوام ورکړ، او پایله یې دا وه چې سیاسي نظم ویجاړ شي.

کیڼ لاسي په دریو بهیرونو وېشل شوي وو: لومړی د مارکسسیتي ښوونځي کړی وه، چې د ۱۹۶۰ په لسیزه کې د لمړني سازماني واحد په بڼه څرګند شوي و[۳۶]، اود ۱۹۶۵ کال د جنوری په میاشت کې نورمحمد تره کي د مرکزي کمیټې په مشری او د ببرک کارمل په مرستیالی د خلق دیموکراتیک ګوند سره یو ځای شو. دوی په خپلو اسنادو کې له مارکسیستي او لیلیني اصطلاحګانو نه کار وانخیست، لکه څنګه چې وروسته بیا کریم میثاق ددې ګوند بنسټ ایښودونکي وویل[۳۷]، د یوې سوسیالیستي ټولنې جوړولو موخې هم پکې پټې نه وې. ولې د خلق دیموکراتیک ګوند ونه شو کړای د ننه یووالی ومومي، ددې ګوند د پخواني ښوونځي کړی دخلق او پرچم په دوو ډلو ووېشل شوو. خلق او پرچم خپل نومونه له خپلو پخوانیو خپرونو اخیستي دي. د ۱۹۶۸ کال د اګست په میاشت کې ملي ستم د طاهربدخشي په مشری له دې ګوند نه بېل

---

۳۳–ددې لست لپاره وګورئ: دوپری، ۶۰۲ – ۶۰۷ مخونه.

۳۴–رسولي، ۲۵۲ او ۲۵۳ مخونه.

۳۵–صیقل، ۱۵۵ مخ.

۳۶–طنین، ۱۲۹ مخ، د دریو نومونه اخلي چې د یوه مشري غبار کوله. برادشیر (Bradsher)، ۳ مخ، د دریو لست ورکوي، چې لومړیې د نورمحمد تره کي له خوا په ۱۹۵۶ کال کې پیل شوی و.

۳۷–ظاهرطنین، ۱۳۱ مخ. په ۱۹۸۵ کال کې کارمل په خپلې وینا کې د خلق دیموکراتیک ګوند باندی د نوي تایپوس (Typus) ګوند یا د شلمې پېړی د پرولیتاریا او د کارګرانو"د نوې محرکه ګوند" نوم کیښود، دا یوه لینیني اصطلاح وه، اوموخه یې د افغانستان د ټولنې جوړول د سوسیالیزم پر بنسټ و. دا رسمي نوم نه و، مګر د دوکتورین (پالیسی) اصلي بڼې ته یې اشاره کوله، د پښتنو په وړاندې د نورو قومونو مبارزه. دننه د دې ډلې نوم محفل انتظار و.

See: Die DVPA - Tribebkraft und Organisator des Kampfes des afghanischen Volkes fur nationalen und sozialen Fortschritt, Rede Babrak Karmals…, unofficial translation, GDR Embassy, Kabul p 1.

د سیاسي ډلوجوړښت د شیعه لړکیو په منځ کې د کلتوري انقلاب نه وروسته پیل شو، او له دویمې نړیوالې جګړې نه وروسته ډېرژر سید محمد اسماعیل بلخي د جوزجان د ولایت مذهبي روڼ اندی یو خوځښت پیل کړ. بلخي په خپلو ویناووکې او د جومات په وعظونو کې د شیعو لپاره د مساواتو خبرې کولې، چې تر اوسه د مساواتو او دیموکراسی خبرې په هیواد کې د ټولو سیاسي شیعه فعالینو د ډلو له خوا په لوړ آواز او رېدل کېږي[۴۹]. د ۱۹۷۳ کال له کودتا وروسته ځینو ډلو چې له بلخي نه یې الهام اخیستی وو او د ۱۹۶۰ کال په لسیزه کې پیل شوي وې، او د ایرانیانو تراغیزې لاندې و، لکه د علي شریعتي بې له روحانیونو اسلام، د مقاومت په سازمان بدل شوو. په دې کې مهمې ډلې، د اسلام مکتب توحید ډله د مولانا محمد عطاوالله فیضاني[۵۰]، او د مستضعفینو مجاهیدنو سازمان ډلې وې[۵۱]. دوپري(Dupree)[۵۲]دا اټکل کړی چې په دې وخت کې د خلق ګوند لړترلړه دوه زره پنځه سوه غړي او پرچم له دوزرو تر دووزرو پنځه سووغړي، ماویستانو او اسلامي ګوندونو هم په دې شمیر غړي لرل. دورانسورو(Dorronsoro) وایي چې په ټولیزه توګه په کیڼ لاسو او اسلامي ګوندونو کې د کوم څرګند قوم عناصر په ځانګړې توګه نه لیدل کېدل. په ربښتیا چې په ټولو سیاسي بهیرونو کې پښتنو، تاجکانو او هزارګانو غړیتوب درلود. له بله پلوه له دوی نه بیلو شو یو ډلو په ډاګه ټولنیزوبش بیا پیدا کړ، دې وېشونو قومي، مذهبي او سیمه ییزې بڼې لرلې[۵۳].

پنځلس کاله وړاندې په ۱۹۶۵ کال کې د خلق دیموکراتیک ګوند او اسلامي مشرانو د پارلمان لپاره د خپلواکو کاندیدانو په توګه رسماً په بریالیتوب کمپاین وکړ. د لومړي ځل لپاره دوی د ټولټاکنو کمپاین له مارشونو او ویناوو سره پیل کړ، چې د زرګونو کابلیانو پاملرنه یې ځان ته راواړوله. ماویستانو چې په پارلماني چارویې باور نه درلود، په کمپاین کې ګدون ونه کړ. یو ځل بیا حکومت غبرګون ونښود او د ۱۹۶۹ کال په پارلماني ټولټاکنو[۵۴] کې یې په خپله ګټه

---

۴۹-بلخي (۱۹۲۲-۱۹۶۸) د صدراعظم شاه محمود خان په وړاندې د کودتا په تور بندي شو؛ دا د ۱۳۴۷ د افغان د نوي کال د ګاوسوار د دسیسي په نامه یادیږي. بلخي څوارلس کاله په بند کې پاتې شو. دلیکوال مرکه په کابل کی. بیا هم وګورئ: ایدواردز، ۳۲۶ مخ . محمد اسماعیل اکبر، راه آینده (راتلونکی لاره)، ۲ مخ.

۵۰-کېدای شي فیضاني به د غویي له کود تا وروسته وژل شوی وي. د نوروجزیاتو لپاره وګورئ: ایدواردز، له ۲۲۸ - ۳۲۶ مخونه.

۵۱-دې سازمان په لمړی ځل د ایران د پاچاه له مخالفینو، مجاهدین خلق نه الهام اخیستی و او په ۱۹۷۷ او ۱۹۷۸ کلونو کې د مجاهدین خلق افغانستان له نامه کار اخیست. ولې ډیر ژرېې ځان له دي نومه لرې کړ او د مستصعفین نوی نوم یې غوره کړ. په دې کې شیعه، سني، هزاره، ازبک او تاجکانو برخه درلودله.

۵۲-لویس دوپري، سور بیرغ پر هندوکش، ۳ مخ، ۱۳۸۰ کال، ۲۸ راپور Vبرخه، ۳ مخ.
Louis Dupree, Red Flag over the Hindu-Kush, Part V, AUFS report no, 1980, p. 3.

۵۳ -دورانسورو(Dorronsoro)، ۷۲ مخ.

۵۴-د خلق دیموکراتیک ګوند لږترلږه اته کاندیدان لرل: ببرک کارمل، د پرچم مشر او له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۵ د افغانستان ولس مشر، اناهیتا راتب زاد د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د پوهنې وزیره، او نورمحمد نور او فیضان الحق فیضان په ټولټاکنوو کې بریالي شول. نورمحمد تره کی، حفیظ الله امین، سلطان علي کشتمند، شارا جوزجاني او مجید کلکاني په ټولټاکنو کې ناکامه شول. د بریالیو په ډله کې فرهاد د افغان ملت له ګوند نه، فرهنګ؟، الفت د ویښ زلمیانو، معصومه عصمتي د کندهار له ولایته، او محمد نبي محمدي له اسلام پالو، چې بیا وروسته د افغانستان د اسلامي انقلاب د حرکت مشر شو ګډون درلود. په ۱۹۶۹ کال کې کارمل او امین د خلق له دیموکراتیک ګوند نه وټاکل شول. فرهنګ ونه ټاکل شو او د میوندوال د کاندیدی مخه ونیول شوه. وګورئ: بوشیر (Buscher)، ۱۴ - ۱۶ مخونه. آرنولد (Arnold) ۳۱ - ۳۲ او ۴۲ مخونه. رسولی، ۱۵۱مخ. طنین، له ۱۴۶ مخ نه پیل کیږي، د لیکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.

د ميوندوال ډله چې د سوسيال ديموکرات له بهير نه يې استازيتوب کاوه، له افغان ملت سره يې سيالي کوله. د افغان ملت اصطلاح د افغان سوسيال ديموکرات (Afghan Social Democrat) [43]پر ځای ډ يره ليدل کيږي، په سوچه پښتو کې افغان ملت، د ټولنپال ولسواک ګوند (Afghan Social Democratic Party) په نامه ياديږي، چې په ۱۹۶۶ کال کې يې غلام محمد فرهاد[44] بنسټ کېښود. افغانان دا ګوند د لوی افغانستان يا پښتونستان پلويان بولي، او منتقدين ورته حتا فاشيست هم وايي، مګر د دې ګوند مشران وايي چې دا يو معتدله، ملي، او مترقي دريم ځواک دی[45].د ښي لاس اسلامي ګوندونو په کتار کې هغې ډلی وې چې د اخوان المسليمين نه يې الهام اخيستی وو. په دې ډله کې په ځانګړې توګه هغه د پوهنتون پروفيسران ووچې د قاهرې د الاظهر په پوهنتون کې يې زده کړې کړې وې. په الاظهر کې افغان محصلينو هم لکه نورو اسلامي هيوادونه سهميه درلوده.

لومړنی اسلامي کړی په غلام محمد نيازي باندې چې د کابل پوهنتون دشرعياتو د پوهنځي ريس و په ۱۹۵۷ کال کې راټول شو[46]. په ۱۹۶۳ کال کې د دې حرکت د محصلينو څانګه چې مشری يې عبدالرحيم نيازي کوله په مسليمين ځوانان بدله شوه، چې بيا ورسته له دې اسلامي جميعت جوړ شو، او په ۱۹۷۳ کال[47] کې يې منظم غړيتوب او د مشرتابه شورا لرله. بله غيرې منظمه ډله د خدام الفرقان په نامه د ۱۹۶۰ په لسيزه کې د علماوو په منځ کې د ابراهيم مجددي او د مجددي د کورنی تراغيزې لاندې را څرګند شوه[48].

۴۲-دا ګوند د طالبانو د حکومت له نسکوريدووروسته بيا جوړ شو. ددې ګوند مشر محمد ولي آريا د ګوند د خپرونې مساوات مسول چلوونکی د ۱۹۶۰ په لسيزو کې و، او د متحده ايالا تو په هيواد کې يې ژوند کاوه. دليکوال مرکه په کابل کی، ۲۰۰۶ کال.

۴۳-د آلمان د SPD ګوند يې پلوي کوله، او دې يو څه مودې لپاره يې د نړيوال سوسيالست ناظر دريځ درلود. په اوس وخت کې داسې ويل کېږي چې دفرانسې PS د کنګرې ګوند ته د افغان نړيوال سوسيالست څوکی ورکولو پلوي کوي. د نړيوال سوسياليست ويبپاڼه اوس په لست کې کوم افغان ګوند د غړي، سلا کار او يا ناظر په توګه نه لري. په دې اړه دا لاندې ويبپاڼه وګورئ: http//:www.socialistinternational.org/maps/english/asia/htm:

۴۴-په ۱۹۴۸ کال کې فرهاد د کابل دښار لو مړنی منتخب ښاروال و. هغه په ۱۹۳۴ کال کې په نازي آلمان کې زده کړې کړې وې او د دې رژيم ځينو پاليسيو د ده زړه وړی و. وګورئ: عبدالحميد مبارز، تحليل واقعات سياسی افغانستان (دافغانستان د سياسي پېښو تحليل) له ۱۹۱۹ تر ۱۹۹۶ کال، کابل ۱۳۷۵. او دا لاندې ويبپاڼه وګورئ: http//www.afghanmellat.de/farhad/Farhad.htm:

۴۵–سرليک د انجنير استقلال له خوا، افغان ملت ، پېښور، ۱۹۸۸ کال د جنوري مياشت. Editorial by Eng. Istiqlal, Afghan Millat (Peshawar), 5 Jan 1988.

۴۶–محمد حسن کاکړ، افغانستان: د شوروي مداخله او د افغانانو ځواب، ۱۹۷۹ – ۱۹۸۲، برکلي، لاس انجلس اولندن ۱۹۹۵ کال، ۸۶ مخ.
نيازي د داود په جمهوريت کې اعدام شو.
M. Hasan Kakar, Afghanistan: The Soviet Invasion and the Afghan Response, 1979-1982, Berkeley, Los Angeles and London 1995, p. 86.

۴۷–داود ب ايدواردز (David B Edwards)، ترطالبانو وړاندې: د افغانستان د جهاد شجره، برکلي (Berkeley)، لاس انجلس اولندن، ۲۰۰۲ کال، ۲۰۰ او۲۰۱ مخونه.
David B. Edwards, Before Taliban: Geneologies of the Afghan Jihad, Berkeley, Los Angeles and London, 2002, pp 200-201.

۴۸-يدواردز( Edwards)، ۲۵۵ مخ. دورانسورو (Dorronsoro)، ۶۹ مخ، ليکي چې دا لومړی د ۱۹۵۰ په لسيزه کې د هرات په ولايت کې د فيضاني تر مشرې لاندې را پيدا شو او بيا وروسته د مجددي کورنی ته ورنږدې شو. داسې ويل کېږي چې دا به سمه نه وي، او دا به سمه وي چې ووايو فيضاني مسلمين ځوانان (جوانان مسلمين) سره اړيکي ټينګي وساتلې.

کې دا پريکړه وکړه چې مرستې يووازې د پېښور اوه ګونو تنظيمونو ته ورکړي.[۶۱] کېڼ لاسي او ملت پال له دې مرستو نه برخمن نه وو[۶۲]. پاکستان د دوو لويو جرګو د جوړولو هڅو مخه ونيوله، چې کيداي شو پدې لويو جرګو کې بيا قومي مشران د اسلامي ګوندونو له لارې ځواکمن شوي واى.

د جهاد په لومړنيو ورځو کې څو اسلامي تنظيمونو جوړ شو. د پاکستان او متحده ايالاتو هڅې وکړې چې له ټولو اسلامي ډلو يو سازمان جوړکړي، مګر ددې هڅو پايلې لنډ محاله اتحادونه او دنويو ډلو جوړېدل وو. د اسلامي انقلاب حرکت اودافغانستان د آزادی لپاره اسلامي اتحاد دواړه د يوه ټلوالې لپاره جوړ شوې وو، مګر ډيرژر د محمد نبي محمدي اوعبدالرب رسول سياف په مشري له دوی نه نوې ډلې جوړې شوې. دورانسورو (Dorronsoro) په دقيقه توګه وايي، سره له دې چې تنظيمونه د قومونو په ليکو جوړ شوي وو، مګر دا قومونه نه ووچې جګړې يې کولې، البته دا سياسي سازمانونو ووچې ايديولوژيکې موخې يې لرلې او په خانګړې توګه يې بنسټيز کارونه اوجګړې کولې[۶۳].

د شيعه ډلو جهاد په دوو پړاوونو وېشل کيږي: يو د جهاد کاميابه پړاو، له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۳ کاله پورې، چې مشري يې د افغانستان د اسلامي انقلاب د اتحاد شورا کوله، او بل د خپل منځي جګړو وخت او د ايران پلوو هزاره ډلو را څرګندېدل وو[۶۴]. د شيعګانو جهاد ټوټې ټوټې پيل شو، برادشير (Bradsher) تر ۱۹۷۹ کاله پوري د ۳۷ ډلو نومونه شميرلي وو[۶۵] د اتحاد شورا د ۱۹۸۱ کال د سيپټمبر په مياشت کې جوړه شوه، کله چې د ټول هزاره جات د هزاره قوم سرکښه خانان سره يوځای شول او تر خپل واک لاندې سيمو کې يې بله موازي اداره جوړه کړه[۶۶].

په ۱۹۸۳ کال کې د تهران مشرانو خميني پلوې ډلې، لکه پاسداران او نصر له افغانستان نه ليرې کړل[۶۷]. شورا او د شورا ټولنيز بنسټ په ډيره ظالمانه توګه د هزاره ګانو په کورنۍ جګړې کې وځپل شو. په ۱۹۸۷ کال کې تهران د هزاره ګانو اته ګوني[۶۸] مجبوره کړل چې د افغانستان د

---

۶۱–د تنظيم اصطلاح افغانان هغو د مجاهيد ينو سني تنظيمونو ته کاروي چې د خلق د ديموکراتيک ګوند د رژيم او د شوروي په وړاندې يې له ۱۹۷۸ تر ۱۹۹۲ کاله پورې جګړې کولې. لوېديځې سرچينې په اوس محال کې پردوی د جهادي ډلو نوم ايښی دی.

۶۲–کول (Coll)، ۱۶۵ مخ. محمد اسماعيل اکبر، فصل اخير، پېښور، ۱۳۸۲ کال ۱۴۰ مخ.

۶۳–دورانسورو (Dorronsoro(، ۱۵ مخ.

سيد عسکر موسوي، د افغانستان هزاره ګان، ۱۹۹۸ کال، ريچموند، ۱۸۰ مخ. بيا هم وګورئ: نعمت الله ابراهيمي، د لمړني مذهبي حکومت ناکامي، ۶۴-هزاره جات ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۴، د کړکېچنو هيوادونو د څېړنې مرکز، د لندن د اقتصاد ښوونځی، کاري سند، ۶ شميره.

S. A. Mousavi, The Hazaras of Afghanistan, Richmond 1998, p. 180. See also: Niamatullah Ibrahimi, The Failure of a Clerical Proto-State, Hazarjat 1979-1984, Crisis States Research Center, London School of Economics, working paper no. 6.

۶۵–برادشير (Bradsher(، ۱۸۹ مخ.

۶۶–سيد عسکر موسوي، له ۱۷۹ مخ نه. د سيد علي بهشتي بنسټ اينبودونکي زوی، سيد محمد جمال فکوري بهشتي دی چې اوس په ولسي جرګې کې وکيل دی.

۶۷- نصر د ۱۹۷۸ کال د غويي (ثور) تر کودتا وړاندې شتون درلود او له اسلامي انقلابي او کيڼ لاسي اسلامي ډلو سره په ټلوالې کې و، بيا وروسته د خميني د ولايت فقهه دتصور دنه منلو په اړوند وايستل شول. دليکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال. بيا هم وګورئ: رسولي، ۲۰۵ مخ.

۶۸-د نصر د سازمان مشري، عبدالعلي مزاري، دافغانستان د اسلامي جهاد پاسداران مشري محمد اکبري، آصف محسني د افغانستان د اسلامي حرکت مشري ، علي افتخاري د اسلامي نهضت مشري، د اسلامي انقلاب تلوالې جبهې (د څلورو ګوندونو ايتلاف) مشري يوسف علي ذکي ، شيخ حسين قره باغي د اسلامي دعوت ګوند مشري، د حزب الله مشری يزدان علي وثوقي، او د سازمان نيروې اسلامي مشري حجت الاسلام سيد محمد ظاهر محقق کابلي کولې. وګورئ: سيد عسکر موسوي، ۱۸۵– ۲۴۹ مخونه.

لاسوهنه وکړه، او څو ځلې يې د اسلامي ګوندونو مخنيوی وکړ. په ۱۹۷۳ کال کې د محمد داود[55] له کودتا وروسته دې مخنيوي يو زور واخيست. محمد داود د ۱۹۶۴کال د اساسي قانون له تصويب نه وروسته د خلق د ديموکراتيک ګوند د صاحب منصبانو په مرسته د صدراعظمی څوکی له لاسه ورکړه. وروسته له دې د اسلامي ګوندونو مهم غړي پاکستان ته ولاړل او هلته يې[56] د محمد داود د حکومت د پښتنو او بلوڅو د مبارزينو د ملاتړ په وړاندې د آی اس آی ځواب ته شکل ورکړ[57]. د احمد شاه مسعود او ګلبدين حکمتيار په ګډون دمرغومې د پاڅون هڅې وشوې، مګر د ۱۹۷۵ کال د جولای په ۲۲ دا پاڅون ناکام شو، او پايله يې دا شوه چې په جمعيت کې انشعاب را پيدا شي، رباني ددې نوم ترلاندې پاتې شو، حکمتيار او قاضي محمد امين وقاد د افغانستان د اسلامي ګوند بنسټ کېښود[58]. غير پښتنو، قومي ملتپالو او ماويستانو ډلو له دی کبله چې دوی د داود حکومت د پښتنو د پلوي حکومت ګڼانه، نو ددې حکومت په وړاندې يې وسله واله مبارزه ډيره کړه. په ۱۹۷۳کال کې ماويستان د يوه متحد سازمان په بڼه له مينځه لاړل، او په دولسو ډلو وويشل شول، هغه پرمختګونه چې په نړيوالو ماويستيي حرکتونو کې او د چين په کمونيست ګوند کې، لکه د لين بياو لاين (Lin Biao Line) جګړه، د سهيلي امريکا په ګوريلايي ډلو کې او ښېلابېلو ايراني انقلابي ډلو کې راغلي و، دافغانستان ماويستي غړو ويل چې پردوی يې هم اغيز وکړ[59].

## د جهاد د پير ګوندونه

اسلامي ګوندونو د خلق د ديموکراتيک ګوند د غويي د اومې له کودتا او يا انقلاب، لکه دا ګوند چې ورته وايي وروسته، او په ځانګړې توګه وروسته له دې چې پخواني شوروي په ۱۹۷۹کال کې افغانستان ونيو، اسلامي ګوندونو اهميت پيدا کړ. دوی له ډېرونظامي او مالي مرستو نه ګټې پورته کړي، دا مرستې د امريکي متحده ايالاتو او د سعودې عربستان له خوا راتلي، او آی اس آی[60] اسلامي ګوندونو ته ورکولې. آی اس آی د ۱۹۷۹ کال د می په مياشت

۵۵–محمد داود د پاچاه د اکا زوی و، هغه د ۱۹۶۴ کال تر اساسي قانون د هيواد پرچارو واکمن وو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۶۸ کلونو د دفاع وزير، له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۱ د کورنيو چارو وزير، له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ صدراعظم و. کله چې هغه د پاچاهی نظام نسکور کړ، له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ د هيواد ولس مشرو. د ده حکومت پخپله بيا د۱۳۵۷ کال د غويی (ثور) په کودتا کې نسکور شو او دی ووژل شو.

۵۶–آی آس آی د داخلي او خارجي استخباراتو ټولول، او د پاکستان د رديبو نظامي څانګو په منځ کې د ښه همغږئ مسوليت لري. استخبارات کيدای شي په مختلفو ډولونو لکه کشف، د اړيکو څارل، استخبارات راټولول او په نور ډولونه را ټول شي.

۵۷–فرهنګ دريم ټوک، ۲۳ مخ. پنځه زره جنګيالي او يوسلو پنځوس قوماندانان، د مسعود او حکمتيار په ګډون په دې وخت کې په پاکستان کې روزل شوي وو. وګورئ: براډشير (Bradsher)، ۱۷ او ۱۸ مخونه.

۵۸– د ميوندوال د مترقي سوسيالست ډله په جهاد کې د راوستولو پر سرهم شخړه وه.

۵۹–د ليکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.

۶۰–ستيو کول (Steve Coll) پټې جګړې (Ghost Wars)، نيو يارک، ۳۴۴ مخ. لوريته ناپوليونې (Loretta Napoleoni)، مدرن جهاد: د ترهګری د شبکو ترشاه د ډالرونو څرک پيدا کول. لندن او ستيرلينګ (Sterling)۲۰۰۳ کال، ۷۹ – ۸۳ مخونه.

Steve Coll, Ghost Wars, New York, p. 344. Loretta Napoleoni, Modern Jihad: Tracing the Dollars behind the Terror Networks, London and Sterling 2003, pp. 79-83.

پاڅون کې د بدخشان په ولایت کې بندي او ووژل شو. د سازا نور مشران په ۱۹۸۴ کال کې د خلق له دیموکراتیک ګوند سره یوځای شوو[۷۵]. وروسته له دی چې د خلق دیموکراتیک ګوند د ۱۹۷۸ کال د اپریل په ۲۷ واک تر لاسه کړ، د یوه ګوند حکومت یې جوړ کړ. د خلقیانو د رژیم له خوا پنځه ډلې غلیمان اعلان شول: پرچمیان، اسلامي ګوندونه، ماویستان، ملي ستم او افغان ملت[۷۶]، له دوی سره ډېر خپلواک روڼ اندي هم کله له ټولې کورنی سره ونیول شول، چې یا ووژل شوو او یا تري تم شوو[۷۷]. د ګوند پاکول له پرچمیانو او بیا وروسته چې پرچمیانو واک تر لاسه کړ د خلقیانو لیري کول، ددې دووځانګړو ډلو ترمنځ انشعاب دایمي کړ.

## د نجیب الله کنترول شوی څو ګوندي سیستم

کله چې ولس مشر نجیب الله د خلق د دیموکراتیک ګوند مشري په ۱۹۸۶ کال کې له کارمل نه ونیوله اویو کال وروسته ولس مشر شو، د خپل ملي پخلاینې په سیاست کې یې یوه کنترول شوې سیاسي لاره پرانیستله. په ۱۹۸۷ کال کې دا سیاست اعلان شو، او په پخواني شوروي کې ګورباچوف ددې سیاست پلوي وکړه. د ګوندونو قانون د ۱۹۸۸ کال د جولای په میاشت کې تصویب شو، اوو ګوندونو وکړای شول چې د ۱۹۸۸ کال د جولای تر میاشتې ځانونه ثبت کړي[۷۸] . د محبوب الله کوشاني په مشری سازا د لمړي ځل لپاره د ملي ستم پرځای را څرګند شو[۷۹]. د شورویانو په وړاندې نه جنګېدل، مګر له دوی سره یې نظامي اړیکې په افغانستان کې وساتلې، او ځانونه یې د خلق د دیموکراتیک ګوند د کیڼ لاسي بدیل په توګه څرګندول[۸۰]. د حمدالله ګران په مشری د افغانستان دخواریکښو سازمان د ۱۹۷۰ لسیزې په وروستیو کلونو کې دخلق په دیموکراتیک ګوند کې دنورو بېلو شویو ډلو ځای ونیو. دا دواړه د خلق له دیموکراتیک ګوند سره یوځای شوو او د کیڼ لاسو د ګوندونو اتحاد یې جوړ کړ، مګر د خلق

۷۵–محمد اسماعیل اکبر، فصل اخیر، ۲۳ مخ. د لیکوال مرکې په کابل کې، ۲۰۰۶ کال.

۷۶–فرید هالیدي او ظاهر طنین، کمونیستي رژیم په افغانستان کې ۱۹۸۷ – ۱۹۹۲: بنسټونه او جګړې، داروپا او آسیا مطالعات، ۵۰ ټوک، ۸ شمیره، د ۱۹۸۸ کال د دسمبر میاشت، ۵ مخ.

Fred Halliday and Zahir Tanin, The Communist Regime in Afghanistan 1978-1992: Institutions and Conflicts, Erupe-Asia Studies, Vol. 50, Dec 1998, p. 5.

۷۷–غلام محمد نیازي د اسلامي ګوندونو له مشهورو قضیو څخه و. البته د کیڼ لاسو مشهور مشران لکه، طاهر بدخشي، بهاولدین بایز، مجید کلکاني، اکرم او صدیق یاري ووژل شول. میوندوال لا پخوا د محمد داود په رژیم کې وژل شوی و. عبدالرب رسول سیاف یوازې د طالعو خاوند کس و، دی د خپل وطنوال حفیظ الله امین په وساطت خوشې شو، دوی دواړه پښتانه خروټي دي.

۷۸–لومړني ګوندونه د ۱۹۸۷ کال د نومبر په میاشت کې، سازا، سیزا، هدا او دافغانستان د خلګو ګوند (هما) د قاري عبدالستار سیرت په مشری (دا د روم د ډلې مشرنه ووچې د بن په غنډه کې یې ګډون کړی وو). وګورئ: د غویې د انقلاب حقیقت، کابل د ۱۹۸۷ کال د نومبر ۲۸. په دوی پسې بیا دافغانستان دخلګو د پیوستون نهضت (فدایین) د سفر محمد خادم په مشری، د انصارالله اتحاد د میر سرور نورستانی په مشری، او د افغانستان حزب الله د مولوی عبدالرحیم رقیم په مشری (دا یوه شیعه ډله د وحدت د ګوند وه، ۱۳ مخ وګورئ).

۷۹–کېدای شي دا نوم به یې په ۱۹۷۷ کال کې غوره کړې وي، مګر دې ګوند په خپلو اسنادونو کې دې ته ګوته نده نیولي ( ۳۸ ریفرنس وګورئ).

۸۰–محمد اسماعیل اکبر، فصل اخیر، ۳۵ مخ . رسولي، ۱۵۵ مخ.

اسلامي ټلوالې په شورا کې سره یوځای شي، له دې شورا بیا په ۱۹۸۹ کال کې د وحدت ګوند جوړ شو. ددې ګوند مشري لومړی عبدالعلي مزاري کوله چې په ۱۹۹۵کې ووژل شو، او بیا وروسته عبدالکریم خلیلي د دې ګوند مشر شو. غیر هزاره د افغانستان اسلامي حرکت د مذهبي مشر شیخ آصف محسني[۶۹] تر مشرۍ لاندې د یوازې فعالې شیعه ډلې په توګه د وحدت د هزاره ګانو ګوند پرېښود. د وحدت په ګوند کې ګډې ډلې ترننه په ځانګړې توګه په کلیو کې له یو بل سره اړیکې ساتي. مستضعفینو په دې ټوله موده کې خپلواکي ساتلې وه. ډېرونورو ډلو دخپل سازماني ژوند د ساتلو لپاره د شوروي پروړاندې وسله والې مبارزې کولې. ماویستي ډلو د نوې رژیم په لومړنیو ورځو کې کلکې وسله والې چریکي جګړې کولې. کله چې پخواني شوروي افغانستان ونیو او د خلق د دیموکراتیک ګوند مشري له پښتانه و تاجک ژبي کارمل ته ورسېده، ملي ستم او سازا په دې موده کې ډېرلږ فعالیت درلود. یوه ډېره بریالۍ ډله د عبدالمجید کلکاني په مشري دافغانستان د خلګو آزادي غوښتونکي سازمان (ساما) په نامه په ۱۹۷۹ کال کې جوړه شوې وه[۷۰]. که څه هم عامو وګړو دې ډلې ته ماویستان ویل، مګر په حقیقت کې دا ډله لکه د دې ډلې پیژندل شوی مشر، له پخوانیو شعلیانو او یاغي کینې لاسو او له هغو یاغیانو چې دوی ورته تبلیغ کاوه یوه ګډه ډله وه. د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په میاشت کې ساما د ټلوالې د جوړولو یو پراخ پلان پیل کړ، په دې ټلوالې کې پخواني شعلیان، د ستمیانو ځوانې ډلې، کینې لاسې پښتانه ملت پال او مذهبي مشران لکه د هرات ولایت د اوبې پیر ګډون درلود. ددې ټلوالې نوم دافغانستان د یووالې ملي ټلواله کینښودل شوه[۷۱]، دې ټلوالې د کلکاني د جمهوریت غوښتنې د نظر تعقیبولو ته دوام ورکړ[۷۲]. ساما ډېر ژر د اسلامي جمیعت او اسلامي ګوند تر نظامي فشار لاندې راغئ، کلکاني ونیول شو او څلور میاشتې وروسته د ۱۹۸۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې اعدام شو. د ساما ځینو مشرانو له حکومت سره د تسلیمېدو معامله وکړه چې پایله یې لا نور انشعابونه و[۷۳].

نورې پټې کینې لاسې ډلې د افغانستان د خلاصون د پیکار سازمان چې د سرخها یا د افغانستان د خلګو د خلاصون سازمان ځایې نیولی و، چې حکومت له منځه یووړل[۷۴]، او دملي ستم څانګه، دافغانستان خواریکښو د فدایان سازمان (سافزا) وې. د ۱۹۷۹ کال د اګست په میاشت کې ددې سازمان مشر مولوي بهاوالدین بایز چې هغه ځان ته اسلامي سوسیالیست ویل په یوه نامنظم

۶۹–په پیل کې د علي شریعتي د اسلامي انقلاب نظرونو پر دې ډلې اغیز کړی وو، وروسته په ۱۹۹۰ کال کې له دې ډلې څه نه و پاتې. محسني د اسماعیل بلخي زده کوونکی وو. وګورئ: دورانسورو (Dorronsoro)، ۵۵ – ۱۶۰ مخونه.

۷۰–ویل کیږي چې د جمهوري غوښتونکو په نامه ډله پخوا په ۱۹۶۲ یا ۱۹۶۳ کې د کلکاني په مشري شتون درلود. د لیکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.

۷۱–دورانسورو، ۲۱۴ او ۲۱۳ مخونه. تایزي، ۱۱۴ مخونه. د لیکوال مرکې، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کلونو کې.

۷۲–حکیم توانا اوف ند یب، په افغانستان کې د ماویزم د ستراتیژي ماتي (شکست ستراتیژي ماویزم در افغانستان)، nd، کابل، ۱۹۸۷ یا ۱۹۸۸ کلونه، ۴۶ مخ.

۷۳–د لیکوال مرکې، کابل، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کلونه.

۷۴–په ۱۹۷۹ کال کې جوړشوی وو، دې دلې د ایران د فدایین خلق (اکثریت) لیکې تعقیبولې. توانا اوند یب، سرلیک. د لیکوال مرکه، کابل، ۲۰۰۶ کال.

په دې وخت کې د کارمل د پرچم يوي بيلې شوي څانگې بيا فعاليت پيل کړ، د نجيب الله نوې پاليسي يې رد کړه، دوی ويل چې دا سياست غليم ته د انقلاب تسليمول دي، اونجيب الله يې د روسانو لاس پوځی وباله[۸۷]. له ۱۹۶۵ کال نه وروسته د خلق ديموکراتيک گوند د ۱۹۹۰ کال د جون په مياشت کې د کانگرس لومړنی غونډه وکړه، او خپل نوم يې د وطن گوند په نوم بدل کړ. نجيب الله وويل چې تريوه "مشخصه ايديولوژي" لاندې راتلل "يوه تاريخي" خطا وه. په نوې کړنلاره کې د وطن گوند په ديموکراسی د څوگوندي سيستم پر اساس تعهد وکړ[۸۸]، مگر د خلق د گوند ټول مشرتوب د وطن گوند ته يووړل شو.

## سياسي گوندونه د مجاهيدينو او طالبانو په رژيمونو کې

د نجيب الله د حکومت له نسکوريدو وروسته، د بېلا بېلو ډلو ترمنځ د جگړو او بيا د طالبانو د واکمنی په وخت کې سياسي گوندونو ته ډېر د فعاليت ځای نه و[۸۹]. دا دواړې دورې د تنظيمونو ترمنځ د نظامي جگړو او د بېلا بېلو ايتلافونو د جوړېدو وخت و، چې بيا وروسته دا حالت د طالبانو او دافغانستان خلاصون لپاره د اسلامي متحدې ټلواله، چې په ۱۹۹۷ کال د جون په ۱۳ جوړه شوې وه او خلگ يې د شمال د ټلوالې په نوم پيژني ترمنځ بيا تکرار شو[۹۰].

ځينې معتدلې ډلې لکه د جگړې پر ضد او دملي وحدت لپاره نهضت، چې د نجيب الله په حکومت کې فعاله شوي وې، بيايې وروسته د مجاهيدينو د حکومت لاندې دننه په افغانستان کې او د طالبانو د رژيم په وخت کې يې په بهر کې فعاليت کاوه. پدې ډله کې مهمه ډله دمعتدلو قوماندانو اوغيرې اسلامي روڼ اندو نه جوړه شوې د افغانستان د ملي وحدت دتفاهم شورا وه، چې په ۱۹۹۰ کلونو کې تاسيس شوې وه[۹۱].دا شورا ځکه ناکامه شوه چې يوه مشرله منل شويو پريکړونه سرغړوي وکړ او مشرتوب يې بل مشر ته پرې نښود. دا شورا بيا اسحق گيلاني په ۲۰۰۱ کال کې په پاکستان کې جوړه کړه. د طالبانو له نسکوريدووروسته ځينې واړه گوندونه لکه د اسحق گيلاني دملي يووالې نهضت له دې شورا را پيدا شوو.

۸۷–گنگوسې د افغانستان د ملي نجات سازمان (سازمان نجات ملی افغانستان) په اړه را پورته شوې، ددې سازمان په دری کې لنډ توري (سينما) د خلق ديموکراتيک گوند تاريخ ته اشاره وه، کله چې مشرانو د نوي ښار د سينما په پارک کې پټې ليدنې کولې. بيا هم وگورئ: کاکړ، ۲۶۱ مخ.

۸۸ –برادشير (Bradsher)، ۳۳۹ مخ.

۸۹–د پراخ کارول شوي کورنی جگړې اصطلاح دلته نده کارول شوې، اووجه يې دا ده چې دا جگړه د بېلا بېلو تنظيمونو ترمنځ مشخص واک تر لاسه کول وو، اونه د خلگو ترمنځ جگړه. د خلگو ډېری له جگړو ستړې شوې وو.

۹۰–په دې کې مهم نظامي ځواکونه، جميعت، د نظار شورا، د وحدت يوه څانگه او جنبش و، اسلامي اتحاد، دسباوون د اسلامي گوند څانگه، د مجددي نجات گوند او د منصور اسماعيليه مليشه کوچنی شريکان و. تردې وړاندې له وطنه د د فاع عالي شورا وه چې د ۱۹۹۶ کال د اکتوبر په ۱۰ کې جوړه شوې وه. وگورئ محمد حسن کاکړ: د افغانستان سياسی انځور، ۷ مخ. See: Kakar, Afghan Political Landscape, p7.

په انترنت کې، د افغانستان د مطالعاتو مرکز <http://www.afghan-politics.org> www.afghan-politics.org. احمد رشيد، ۱۲۱ مخ، آلماني گڼه. کول (Coll)، ۳۴۴ مخ.

۹۱–ډېر پيژندل شوي گډون کوونکي لکه جنرال حکيم کټوازی، پروفيسور بهاوالدين مجروح، عزيز الرحمن الفت، قوماندان عبدالحق او حکيم تنيوال ووژل شول.

ګوند د واک پر انحصار باندې یې نیوکې وکړې[۸۱]. دافغانستان د کروندګرو د عدالت ګوند (هدا) د ناظر په توګه ګډون کړی و.

په دې وخت کې یوازې کیڼ لاسي ګوندونو، او په ډېره کچه د سازا هغه څانګه چې د استخباراتو سره یې ګډ کار کړی و[۸۲]، او په لږه کچه ځینو اسلامي ګوندونو او نورو ګوندونو چې خاص مقصدونه یې لرل[۸۳]، د دې شېبه ومونډله چې په آزاده توګه فعالیت وکړي. نجیب الله و نه شو کړای چې لکه د هغه وخت د ختیځې اروپا د حکومتونو په بڼه خپل څو ګوندي سیستم په بڼه توګه کنترول کړي. پایله یې دا شوه چې خپلواکو سیاسي فعالیتونو ته لار خلاصه شي، ماویستي ډلو په ډېر بریالیتوب سره د هدا په ګوند کې لار پیدا کړه. د هدا مشر عبدالحکیم توانا د پیکار له کدرونو نه و. روڼ اندي لیبرالان چې بیرته له تبعید نه راستانه شوی وو، هم هڅې وکړې چې له نوي پیدا شوي سیاسي فضا نه ګټه واخلي. په ۱۹۸۶ کال کې دوی د آزادی او دیموکراسی لپاره ملي اتحاد جوړ کړ[۸۴]، ددې اتحاد لومړنی مشر د کابل پوهنتون ریس محمد اصغر و، د ده له مړینې وروسته میر محمد محفوظ ندایي مشر شو، دوی ته د قانوني فعالیت اجازه ورنه کړای شوه. افغان ملت ته هم په څو ګوندي سیستم کې بلنه ورکړای شوې وه او دوی ته د حکومت د څوکیو وړاندیز هم شوی و. دافغان ملت ځینې بندي مشران له بنده خلاص شول او ولس مشر نجیب الله ورسره وکتل[۸۵]، مګر دوی د خلق د دیموکراتیک ګوند تر لاس لاندې کار کول و نه منل.

پارلماني ټولټا کنې د ۱۹۸۸ کال د اپریل له ۶ تر ۱۵ پورې ترسره شوې، مګر ډېرې څوکۍ لا وړاندې د خلق دیموکراتیک ګوند ته ساتلې شوې وې، او لکه براد شیر(Bradsher) چې وایي دا د پردې ترشاه په ټولټاکنو کې لاس وهنه وه[۸۶]، نویو ډلو ته یوازې څو څوکۍ ساتلې شوې وې. د نوي کابینې صدراعظم د خلق ګوند غړی نه و، سازا او څو نورو چې ځینو یې د پاچاهي له کړی سره په بهر کې اړیکې درلودې په دې کابینه کې غړیتوب درلود.

---

۸۱–د ټلوالې د جوړولو په اړه د سازا د مشر نوی نظروګورئ، کابل تایمز، د ۱۹۸۸ کال د سیپټمبر ۵. په ۱۹۸۸ او ۱۹۸۹ کال کې د افغانستان د ځوانانو د کارګرانو سازمان د صوفي شینا په مشری او د افغانستان د سولې او ترقي د مبارزینو یووالې د زمان ګل دهاتي په مشری له دې ټلوالې سره یوځای شول.

۸۲–خاد د سیزا ګوند په دوو څانګو ویشلئ وو، یوه رسمي پیژندل شوې څانګه د حمدالله ګران په مشري، او بله ډله چې غیر قانوني وه د زمان ګل دهاتي په مشري. دلیکوال مرکې، په ۱۹۸۸ او ۱۹۸۹ کلونو کې.

۸۳–له دې سیستمه په ختیځ آلمان کې کار اخیستل شوی وو، هلته نورو ګوندونه هم د کمونست حاکم ګوند تر څنګ شتون درلود، د کمونست ګوند درهبری ونډه په اساسي قانون کې ضمانت شوی وو. د ختیځ آلمان مشوره د نجیب الله په څو ګوندی سیستم کې یو څه برخه درلودله. یوه افغان سیاسي مشرو ویل چې "هدا او هما بې له دې چې د خلق د دیموکراتیک ګوند څانګې وې نور څه ندي". د لیکوال مرکه، کابل، ۱۹۷۷ کال.

۸۴–د افغانستان د ملي رستګای د ګوند په نامه هم پیژندل کېدل.

۸۵–د هیت مشري د ګوند سکرتر جنرال، عبدالحمید یقین یوسفزي کوله، هغه په ۱۹۸۳ کال کې نیول شوی وو په حکومتي تلویریون کې مرکه، د ۱۹۸۳ کال پای. ډاکټر نجیب الله د افغان ملت هیت سره وکتل، کابل نوي تایمز، د ۱۹۸۷ کال د اکتوبر ۲۹.

Dr. Najibullah receives Afghan Millat delegation, Kabul New Times, 29 Oct 1987. بیا هم وګورئ: کاکړ، ۱۵۵ – ۲۶۱ مخونه.

۸۶–براد شیر (Bradsher)، ۱۶۶ مخ.

جنګېدلې وو او د نظار له شورا سره يې اړيکې درلودې په دې ګوند کې راټول شوي وو.

- د افغانستان د قومونو اسلامي او ملي شورا، دپاکستان د کوټې په ښار کې د طالبانو پر وړاندې د قومونو شورا وه[۹۷].
- او دافغانستان د سولې او ترقی د مبارزینو یووالی، د زمان ګل دهاتي په مشرۍ د سازا پر ځای ناستې ډله چې په بهر کې اوس فعالیت کوي[۹۸].

کله چې د ۲۰۰۱ کال په پای کې د ملګرو ملتونو د دفترمشر په کابل کې بدل شو[۹۹]، پورتنيو ډلو ونشو کړای چې په پوره توګه د بن په غونډه کې برخه واخلي، اودوی یوازې د ناظرینو په توګه بن ته ولاړل. ددې کار پایلې سمې نه وې، ځکه چې دیموکراتیک ځواکونه په پوره توګه د افغانستان لپاره د بن له غونډې دباندې پاتې شول[۱۰۰].

## د طالبانو له حکومت نه وروسته ګوندونه

## د ۲۰۰۳ کال د ګوندونو قانون

وروسته له دې چې د طالبانو رژیم د ۲۰۰۱ کال په وروستیو میاشتو کې نسکور شو، درې ځانګړې جریانونه، اسلامي، کیڼ لاسي، قومي ملت پال، او دیموکراتان د نویو دیموکراتانو په جامه کې د څو ګوندي سیستم د ملا د تیر په بڼه را څرګند شول. کله چې زړو تنظیمونو او نوروو وسله والو ډلو غوښتل د ګوندونو په بڼه را څرګند شي، په عین وخت کې انشعابونه منځ ته راغلل او د ټلوالو دجوړولو هڅې وشوې. ددې ګوندونو ډیری بیله کومه توپیره ددوی په کرنلارو کې د دویمې لیکې د مشرانو په مرسته جوړ شوي وو، کیت سپنس ( Kit Spence)دا ګوندونه "پوچې پروژې" بولي[۱۰۱].

۹۶-دې ډلې خپل نوم وروسته په د خلګو ګوند د سولې او پراختیا لپاره (حزب مردم برای صلح و توسعه) واړوه، اووجه يې دا وه چې دا نوم د بل ګوند نوم واوله دوی نه يې وړاندې ثبت ته غوښتنلیک ورکړی و. دې ګوند بیا وروسته پریکړه وکړه چې ځان ثبت نه کړي اومشرانو يې پام بشري حقونو کارونو ته واړول. دویمه ډله په همدې نوم د عبدالقدیر رووفي په مشرۍ هم د مشرتوب د ستونزې له وجې يې ثبت ونه منل شو. دریمه ډله د احمد شاه اثر په مشرۍ په پایله کې تردې نوم لاندې ثبت شوه.

۹۷-ددې مشري سمیع الله ساپی، کیڼ لاس پلوې کوله چې په ۱۹۷۸ کال کې يې د شوروي پروړاندې د قومونو د پاڅون مشر د کنړ په ولایت کې کړې وه، اوبیا وروسته يې د ساما استازیتوب د بن په غونډه کې وکړه. وګورئ: داود ب ایدوارډز (David B. Edwards) له ۹۵ مخ نه. او د افغانستان د ملي مبارزینو دآزادي غوښتنې د اتحادیې (اتحادیه ملی مبارزین آزادیخوا افغانستان) استازی وو، اوبیا په ګوند او د افغانستان لپاره د دیموکراسی په شورا بدل شو. د شورا له نه ویشتونه یوویشتو غړو بیا پریکړه وکړه چې د افغانستان د اقوامو د ملي یووالې ګوند (حزب همبستگی ملی اقوام افغانستان) جوړ کړي، چې مشري يې د ساما پخواني قوماندان محمد ظریف ناصري کوله.

۹۸-آریایي، کوهستاني، ساپي اودهاتي د بن په غونډه کې ګډون کړی وو، او د خلګو ګوند استازیتوب په بن کې نادر نادري چې اوس د بشر حقونو په کمیسیون کې کار کوي کوله.

99-له فرانچیسی ویندرل د ملګرو ملتونو د سرمنشي د دایمي استازي نه ولخدار ابراهیمي د ملګرو ملتونو د سرمنشي و ځانګړي استازي ته.
From PRSG Francesc Vendrell to SRSG Lakhdar Brahimi.

۱۰۰-د بن له غونډې ددوی ایستل یووازې له دې وچې ددوی د الوتکې ټکټونه لاوړاندې اخیستل شوي و او ځینې لا د بن پر لور خوځېدلي و. یوه جګ پوړې آلماني دیپلومات بیا وروسته دې لیکوال ته وویل چې ددوی ایستل یوه لویه خطا وه.

۱۰۱–کیت سپنس ( Kit Spence)، ۱۱مخ.

د طالبانو پرووړاندې پټ سیاسي فعالیت د۱۹۹۰ د لسیزې په پای کې پیل شو، په هغه وخت کې نړیوال له دې فعالیتونو نه خبر نه و. په دوی کې د یموکراسی پلوې ډلې وې چې په دیموکراتیکو او بشري حقونو په ارزښتونو یې باور درلود، دا د طالبانو د تیریو پرووړاندې غبرګون و. لکه د جمهوریت غوښتونکو ګوند، ډېرې په افغانستان کې دننه پیدا شول. کله چې په ۱۹۹۹ کال[۹۲] کې دا ګوند جوړ شو، دیو سمبولیک عمل په توګه یې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو اعلامیه د خپلې کړنلارې په توګه غوره کړه. دا له هغو ګوندونو دی چې له هره قومه غړي لري. په دې څو کلونو کې پخوانیو خلقیانو[۹۳] اودسیاف اتحاد ګوند هڅې وکړې چې دا ګوند په لاس کې ونیسي، دې هڅو ځیني غړي له دې ګوند نه لرې کړل. که څه هم د خلق د ګوند پخواني غړي د غړیو په توګه مني، ولې د خلق د ګوند د مرکزي کمیټې غړو ته په ګوند کې هیڅکله لوړې څوکی نه ورکوي.

په ۱۹۹۲ کال کې ځینو سیکولرانو او روڼ اندو په آلمان کې د افغانستان لپاره د یموکراسی شورا جوړه کړه[۹۴]. په ۱۹۹۸ کال د دې شورا له نووښتونه د ملي نهضت جوړول و، دا د ګوتینجن (Gottingen)د پروسه په نوم هم یادېږي. په دې نهضت کې پخواني ماویستان، مستضعفین، د پاچاهي پلویان او معتدله اسلامي ډلو ګډون درلود، مګر تر دې وړاندې چې خپل جوړښت په افغانستان کې دننه خپور کړي، نهضت له منځه ولاړ. د ۲۰۰۱ کال د جون په میاشت کې د آلمان د آخن (Aachen) په ښار کې دافغانستان لپاره دیمو کراسی شورا[۹۵] بیا هڅې و کړې چې که د دیموکراتو ځواکونو ترمنځ ګډ کار وشي، اود عزیز ګردیزي ترمشري لاندې یې د هماهنګی شورا جوړه کړه. پنځو ډلو چې په کابل کې دافغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر اونسما(UNSMA) سره یې د طالبانو په وخت کې اړیکې درلودې، او د ۲۰۰۱ کال په پای کې د بن غونډې ته را وبلل شو، هغه دادي:

- د جمهوریت غوښتونکو ګوند.
- د خلکو ګوند،[۹۶] د محمد فرید حمیدي په مشری، په مزارشریف کې د محصلینو له غیر قانوني سازمان نه جوړ شوی و.
- دافغانستان د آزادی او دیموکراسی نهضت، د عبدالرقیب جاوید کوهستاني په مشری، هغه پخواني ماویستان، کیڼ لاسي او مجاهدین چې د شوروي سره

۹۲-په لومړي ځل ضیا آریایي د محمد داود د جمهوریت د وخت سیاستمدار جوړکړ او د داود د فواید عامې وزیرغوس الدین فایق یې پلوي کوله. د ۲۰۰۴ کال د مارچ په ۶ کې دا لمړنی ګوند ووچې ثبت شو.

۹۳-دګوند مشر سنجر په شپاړلس کلنک کې د یوه کال لپاره د خلق ګوند غړی و، دی د ګلاب زوی د وزارت په موده کې پولیس صاحب منصب و.

۹۴-خپرونه یې فریاد (نعره) نومېده او په منظمه توګه د طالبانو په وخت کې افغانستان ته قاچاق کېدله.

۹۵-په دې ګډون کوونکي، دافغانستان لپاره د دیموکراسي شورا چې په ۱۹۹۲ کال د آلمان د کلون (Cologne) په ښار کې جوړه شوې وه، د افغانستان د ښځو دیموکراتیک اتحاد، د افغانستان دملت د رستګاري شورا چې مرکزیې په آلمان کې دی او مشري یې اسد روستا حبیبي کوي ( کېدای شي چې دا به په سازا پورې یوه تړلې ډله وي)، افغان ملت، په آلمان کې میشت د کبیر ستوري په مشری ولسي ملت، یوه کیڼ لاسي له افغان ملت نه بېله شوې ډله د پروفیسور پښتونیار په مشری، سازا او ساما. ګردیزي د افغانستان لپاره د دیموکراسي شورا غړی وو

## سني تنظیمونه

د پیښور د اوه ګونو اسلامي ګوندونو نه اتحاد خپل نوم د افغانستان په اسلامي دعوت واړوه، د پیر سید احمد ګیلاني اسلامي ملي محاذ، او د پروفیسور صبغت الله مجددي د افغانستان د نجات ملي اسلامي جبهه، او وروسته له دې چې انشعابونه په جمیعت او دعوت کې راغلل خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. د اسلامي حرکت انقلاب او د خالص اسلامي ګوندونه نور په هغه پخوانی بڼه پاتې نه وو، او ځکه چې د ګلبدین حکمتیار اسلامي ګوند د بن غونډې ته نه ووبلل شوی، نو د سولې د پروسې نه بهرپاتې شو، او د متحده ایالتو پرضد یې جهاد اعلان کړ[۱۰۶]. د شیعه ګانو دوه عمده ګوندونه وحدت او حرکت هم سره بېل شول. په ځانګړې توګه په جمیعت کې دننه د نوي کېدو هڅې روانې وې. د مقاومت په دوره کې د مشرانو په منځ کې سیالی روانې وې، او دا هغه وخت وو کله چې احمد شاه مسعود د شمال د نظار د شورا په نوم یو بل موازي حرکت په ۱۹۸۵ کال کې تر خپلې قوماندې لاندې جوړ کړ. رباني د یو سمبولیک مشر په بڼه د جمیعت او د حکومت په څوکۍ کې پاتې و، او د طالبانو په دوره کې مسعود د مشر په توګه را څرګند شو. وروسته له دې چې مسعود ووژل شو، د پنجشیر د درې ګونو په نوم یوې ډلې: د بهرنیو چارو وزیر، ډاکتر عبدالله عبدالله، د استخباراتو مشر، محمد قسیم فهیم او د کورنیو چارو وزیر، محمد یونس قانوني ددې حرکت مشري په غاړه واخیستله. د قانوني د مذاکرې کولو مهارتونه د دې سبب شول چې د نظار شورا د جمهور ریس حامد کرزي په اداره کې خپل ځواک ټینګ کړي[۱۰۷]. لکه څنګه چې موقت جمهور ریس رباني ته وعده ورکړ شوې وه، د بن غونډه په کابل کې جوړه نشوه، او د بن په غونډه کې د هغه نشتوالي، دا ټول کېدای شي چې د دې درېو پنجشیریانو په سلاح مشوره او د لویدیځ هیوادونو د پردې تر شا په موافقه شوې وي، چې واک د جمیعت نوی نسل ته ولیږدول شي.

په ۲۰۰۳ کال کې هڅې وشوې چې جمیعت او که کیدای شی نور د مجاهدینو تنظیمونه د یوه نوي سیاسي ګوند د افغانستان دملي نهضت په بڼه را څرګند شي. ددې هلو ځلو موخه د جهاد او مقاومت پلوي وه، مګر د ننه په نهضت کې دوو ډلو د مشر تابه سیالی کولې: دا درې پنجشیریان وو چې دیر وخت یې په یو ځای کېدو کې ستونزې درلودې، او د مسعود پاتې ورونه، احمد ولې مسعود او احمد ضیا مسعود وو. که څه هم د نظار شورا اصلي ځواک له لومړنی ډلې سره و، مګر دویمې ډلې خپل ځان د خپل ورور میراث خواره ګڼل. دې اختلاف یو کال دوام وکړ چې په دې

۱۰۶-وروسته له دې چې حکمتیار د امریکې پرضد د ځان مرګي بریدونو غوښتنه وکړه، واشنګټن هغه د نړیوالو ترهګرو په لست کې راوړ، مګر امریکې اسلامي ګوند د ترهګرو په ډله کې ګډ نکړ.

Guerillafuhrer Hekmatyar ruft zu Selbstmordanschlagen auf, Associated Press, 24 Feb 2003.

۱۰۷-فهیم د دفاع وزیر او د جمهور ریس مرستیال شو، قانوني او ډاکتر عبدالله د کورنیو او بهرنیو چارو وزیران، امرالله صالح د استخبارا تو ریس، ډاکتر اعتبار د اداري چارو ریس او عبدالحفیظ منصور د رادیو تلویزیون ریس و ټاکل شو.

د یوه قانوني چوکاټ اوارامي سیاسي فضا په نشتوالي کې اوپه خاصه توګه د وسله والوملیشو د نه خلع سلاح کولو نه، د نویو ګوندونو هیلې له خنډ سره مخامخ شوې. له دې کبله چې وسله وال ځواک اود سرچینو کنترول له تنظیمونو سره وو، اود حکومت د بېلا بېلو پوړونو واک یې په لاس کې وو، د طالبانو نه وروسته پړاو په افغانستان کې سیاسي ډلو او د مختلفو وسله والو جنګسالارانو سیاست په میراث وړی دی[۱۰۲]، اوپایله یې داده چې دویم سیاسي ځواکونه په ویره کې ژوند کوي اویوازي کولای شي په لویو ښارونو کې اوځو لږیو پرتو سیمو کې تریوه کچه آزاده فعالیت وکړي[۱۰۳]. ددې ګوندونو ډېری تر اوسه هم ډېر پام کوي او د خپل جوړښت او غړیتوب له اعلانولو ډډه کوي. د ګوندونو قانون له دوو کلونو وروسته د ۲۰۰۳ کال د سپټمبر په میاشت کې تصویب شو، ددې قانون مسوده تر یوه کاله پورې د وزیرانو په شورا کې وځنډېدله [۱۰۴]، ددې قانون پراساس ټول نوي ګوندونه اوهغه ګوندونه چې پخوا جوړ شوي مکلف دي چې د عدلیې وزارت سره ځانونه ثبت کړي، او د دې کار لپاره د عدلیې وزارت د یوې بلې خپلواکې ادارې پر ځای ټاکل شوی و. دا قانون وایي چې د افغانستان سیاسي سیستم د دیموکراسي او د سیاسي ګوندونو د ډېروالي پر بنسټ ولاړ دی، مګر دا قانون دا هم وایي چې هغه ګوندونه به ثبت نشي چې د هغوی موخې د اسلام د اساساتو سره مخالفې دي اووسله والې ملیشې ډلې لري.

د طالبانو نه وروسته ګوندونه، حسین راموز[۱۰۵]، په دوو پړاونو ویشي: د ګوندونو دډېروالي د هیلې پړاو (۲۰۰۱ - ۲۰۰۴) او د مایوسی پړاو. په لومړي پړاو کې دیموکراسي پلوي ګوندونه له پټو ځایونو راووتل او یا نوي جوړ شول، ولې اسلامي ګوندونه ټوټې شول او دننه پکې یو اصلاحي میکانیزم راغئ. تر دې مودې نړیواله ټولنه اوولس مشر ډاډه نه وو چې کوم دریځ غوره کړي (د ګوندونو پلوي وکړي اوکه یې ونه کړي) . دویم پړاووروسته له ۲۰۰۴ کال نه پیل شو، کله چې نړیوالې ټولنې اوحکومت د پارلماني ټولټاکنو لپاره د (SNTV) یا دیوې رایې ورکونکي اویوې رایې سیستم غوره کړ. ګوندونو خپل فعالیتونه لږ کړل اوپه ګوندونو کې دننه اصلاحي میکانیزم ناکامه شو. اسلامي ګوندونه لا سخت دریځه اوځواکمن شول، اویوه هم په عامه توګه یوه غونډه جوړه نه کړه.

۱۰۲–روف روشن، په افغانستان کې د نویو ګوندونو دریځ نیول۱ مخ.

۲۰۳–یونما او د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هڅې وکړې چې دا ستونزې پخپل ګډ کمپاین کې چې د سیاسي حقونو د تشخیَص کمپاین وو حل کړي، مګر دا راپورونه د یونما د دریځ له کبله ډېر احسان پلوه وو (اوپه لوړو پوړو کې د یونما ظرفیت او کارکول محدود وو) له دې کبله دې کمپاین د ټولټاکنو پر فضا اغیز نه درلود.

۱۰۴–لږ ترلږه درې مسودې ولیکل شوې. لومړنیو دریو که څه هم محدودیتونه وضع کړي وو، مګر هغو ګوندونه ته چې له وسله والو ملیشه وو سره یې اړیکي درلودې د فعالیت اجازه ورکړای شوې وه. دا ستونزه په څلورمه مسوده کې حل شوه. د دې قانون د کتنې لپاره دا ویبپانه وګورئ : http:/www.ag-afghanistan.de/files/partylaw-engl.htm – د وزیرانو په شورا او د عدلیې د وزارت د تقنین په ریاست کې ډېرچارواکي جهادیان وو. د لیکوال مرکه په کال ۲۰۰۳ کې.

۱۰۵–راموز په دې دوره کې سیاسي فعالیت کاوه، هغه د ملي دیموکراتیک انستیتوت (National Democratic Institute) سره کار کاوه، اوس په کابل کې د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې په کار بوخت دی. هغه دا ارزونه په ۲۰۰۶ کال کې د لیکوال سره په مرکې کې وکړه.

د ۲۰۰۵ کال د اپریل په میاشت کې دوولسو مخالفینو د افغانستان د ملي تفاهم د جبهې په نوم یوه ټلواله جوړه کړه[۱۱۰]، ولس مشر کرزي په رسمي اعلامیې کې د دې ټلوالي هرکلی وکړ[۱۱۱].
دې جبهې بیا غوښتل چې په پارلماني ټولټاکنو کې برخه واخلي او د یو پارلماني سیستم د جوړولو لپاره په اساسي قانون کې بنسټیز تعدیلات راوړي[۱۱۲]. د راتلونکي لپاره قانوني د یو واحد اصلاح پال ګوند وړاند یز هم وکړ[۱۱۳]. مګر دوې اونی وروسته لطیف پدرام د ملي کنګرې مشر او معتدله کیڼ اړخې میر محمد محفوظ ندایي پر قانوني نیوکې وکړې او ویې ویل چې دی د ولسمشر کرزي سره پټې اړیکې لري، دوی ویل چې کرزی هغه څوک وچې باید د دې ټلوالي تر نیوکو لاندې راغلي وای. ندایي او پدرام له دې ټلوالې نه ووتل[۱۱۴]. دې ټلوالی ونکړای شو چې خپل کاندیدان پارلماني ټولټاکنو ته وړاندې کړي او د پارلماني ټولټاکنو په ترڅ کې ټلواله له منځه ولاړه. احمدشاه احمد زی او عبدالحفیظ منصور په قانوني تور ولګاوه چې د دوی له هغو غوښتنو یې ملاتړ ونکړ چې په ټولټاکنو کې درغلي شوي، او دوی په ټولټاکنو کې بریالي نه شول، نو ځکه دوی له ټلوالی ووتل[۱۱۵]. او کله چې محقق په آزاده توګه د ولسي جرګې د ریاست لپاره د کرزي د خوښې کاندید سیاف څخه پلوي وکړه، دا ټلواله د ۲۰۰۶ کال په لمړیو ورځو کې له منځه ولاړه. په یوې نوي لوبه کې د ۲۰۰۵ کا ل د دسمبر په میا شت کې، قانوني بیا له رباني سره اړیکې تودې کړې. داسلامي جمیعت او د نوي افغانستان ګوندونو د مشرانو په ګډه غونډه کې چې د ملي نهضت ځینو مشرانو هم ګډون درلود، هغوی دا وویل چې "ټول هغه ګوندونه چې له جمیعت نه جلا شوي دي، باید دهغو د بیا یو ځای کېدو لپاره لارې چارې ولټول شي او یوځای کېدل یې اړین دی". رباني پدې غونډه کې د حکومت مخالف مشروټاکل شو،

۱۱۰-د ملي تفاهم ټلواله له یوولسو ګوندونو او یو ( چې په پیل کې درې وو) د جمهوري ریاست له پخواني کاندیدانو نه جوړه شوې وه: د نوي افغانستان ګوند د قانوني په مشري، د افغانستان د خلګو د وحدت ګوند د محقق په مشري، د افغانستان د اسلامي اقتدار ګوند د احمد شاه احمد زي په مشري، د فغانستان د اسلامي حرکت ګوند د سید محمد علي جاوید په مشري، د افغانستان اسلامي او ملي ګوند دمحمد اکبري په مشري، د افغانستان د ملي استقلال ګوند د تاج محمد وردګ په مشري، د افغانستان د ملي او اسلامي انقلاب حرکت د احمد نبي محمدي په مشري، د افغانستان د ځوانانو اسلامي سازمان د سید جواد حسیني په مشري، د افغانستان اسلامي اعتدال ګوند د قره بیګ ایزیدیار په مشري، د افغانستان د سولې او وحدت ګوند د امامي غوري په مشري، د افغانستان د قومونو د وحدت ګوند د نصرالله بارکزي په مشري، د مجاهد پلوې خپرونې پیام مجاهد د اونیزې مدیر عبدلحفیظ منصور، د جنبش استازي ټول لا وړاندې له دي ټلوالي وتلي ول. میر محمد محفوظ ندایي او د ملي کنګرې مشر دوې اونی وروسته دا ټلواله پریښودله. د خالد موهد لیکنه وګورئ په Frontier Post کې، ۲۰۰۵ کال، د اپریل ۷: قانوني به د حکومت د اپوزیسیون مشري کوي.
See: Khalid Mohed, Qanooni to head opposition alliance, Frontier Post, April 7, 2005
.د ۲۰۰۵ کال د مې په میاشت کې (جنبش همبستگی ملی افغانستان ) د افغانستان دملي یووالې غورځنګ د انجنیر احمد په مشري ددې ټلوالي سره یو ځای شو، وګورئ: پیام مجاهد، ۱۳۸۴ کال د غویې ۱۵.
۱۱۱-د جمهوري ریاست درسنیو دفتر اعلامیه په انیس ورځپاڼې کې، کابل، ۲۰۰۵ کال، د اپریل ۶.
۱۱۲–قانونې په ټولټاکنو کې د لاسوهنو ادعا وکړه، پژواک خبري اژانس، ۲۰۰۵ کال د اپریل ۲۶.
۱۱۲–د افغانستان د اپوزیسیون مشر د اپوزیسیون د ټلوالې د منشور، موخو او غړیتوب اعلان وکړ، انیس، کابل د ۲۰۰۵ کال د اپریل ۶.
۱۱۴–میرویس هاروني، جبهه تفاهم ملي در نخستین روزها ی حیاتش درز برداشت، هفته نامه کا بل، د ۲۰۰۵ کال د اپریل ۱۳.
۱۱۵–"Understanding Front faces misunderstanding" چراغ ورځپاڼه، د ۲۰۰۵ کال د نومبر ۲۸. خروج احمد شاه احمدزی از جبهه تفاهم ملی، چراغ، د ۲۰۰۵ کال د نومبر ۲۳. نجیب خلوت ګر، د قانوني په مشري ټلواله کېدای شي د حکومت پر لیکه ولاړ شي. پژواک افغان خبري آژانس، د ۲۰۰۵ کال د نومبر ۱۳.

ترخ کې نورو تنظیمونو لیوالتیا له لاسه ورکړه او دا احساس یې کاوه چې دوی د پنجشیریانو د شطرنج په لوبه کې یوازې دانې دي. دا ابهامات کله ډېر شول چې قانوني په ۲۰۰۴ کال کې د جمهوري ریاست ټولټاکنو ته دنهضت کاندید شو، د مسعود وروڼو دې ادعا ته په ډاګه چلنج ورکړ. په پایله کې نهضت د احمد ولي مسعود تر مشرۍ لاندې دعدلیې له وزارت سره ثبت شو، او قانوني چې تر ۲۰۰۴ کاله پورې د دې ګوند د بنسټ ایښودنکو نه و، ډېرژرېې د نوي افغانستان ګوند په نامه خپل ګوند جوړ کړ.

د جمعیت یوې بلې ډلې بیا هڅې کولې چې دا سازمان د کرزي د اپوزیسیون په بڼه را څرګند کړي. ددې ډلې مشري عبدالحفیظ منصور او ډاکټر محي الدین مهدي کوله. ددوی لومړنی هڅې د اساسي قانون د لویې جرګې په موده کې پیل شوې، کله چې منصور د کرزي د جمهوري ریاست دسیستم د مخالفینو مشري کوله. د پارلماني سیستم پلویانو تاجکانو، ازبکانو، هزاره ګانو، ځینې دیموکراتانو او حتا د پښتنو وکیلانو وړې ډلې ځکه دوی ته جذب شول چې دوی د ا احساس کاوه چې قصداً د دوی سره سم چلند نه دې شوی او بېل شوي دي. په سلو کې پنځه څلویښت وکیلانو جرګه بایکاټ کړه او د جرګې کار څوورځې په ټپه ودرید. د جرګې نه ډېر ژر وروسته منصور او مهدي هڅې کولې چې دې غیرمنظمې ډلې ته د یوه اوږد مهاله سیاسي سازمان بڼه ورکړي. لومړنی هڅه دا وه چې په دې سازمان د رای د بایکات د پیل ورځ نوم یانې د یولسم د جدی د ټلوالې نوم کېږدي. وروسته د عدالت او دیموکراسی د جبهې نوم پرې کیښودل شو. مهدي ادعا کوله چې ملي نهضت، نوی افغانستان، د وحدت ګوند، حرکت، جنبش، د ملي کنګرې ګوند، وړو ګوندونو او د ټولنیزو سازمانونو ډلې په دې ټلوالي کې برخه درلوده[۱۰۸]. دې ټلوالي غوښتل چې د ولس مشری ټولټاکنو ته یو کاندید وړاندې کړي، مګر دا هڅې وروسته له دې ناکامې شوې چې هر مشر غوښتل خپل ځان کاندید کړي، وروسته بیا هر یوه ولس مشری ټولټاکنو ته ځانونه کاندید کړل.

د کرزي د مخالفانو د راټولولو نوښت قانوني په لاس کې واخیست. کله چې قانوني په ټول ټاکنو کې دویم راغئ، هغه هڅې وکړې چې د ناکامو کاندیدانو ټلواله جوړه کړي[۱۰۹].

---

۱۰۸-کابل اونیزې سره مرکه، ۲۰۰۴ کال د می ۱۹.

۱۰۹-د ۲۰۰۴ کال په ریاستي ټولټاکنو کې قانوني ۱۶.۳٪، محقق ۱۱.۷٪ او دوستم ۱۰٪ یوورې. دوی له کرزي نه ډېر شاته پاتې شول، هغه ۵۵.۴٪ رای وګټلې. د معلوماتو لپاره دا ویب پانه وګورئ <http://en.wilkipedia.org/wiki/Afghan_presidential_election%2C_2004>
دې پورتنئ ویب پاڼې تر اوسته د پایلې نتیجې ساتلې، چې اوس پدې ویبپاڼې کې نشته <http://www.elections-afghanistan.org.af>
www.elections-afghanistan.org.af

د کمیټې په مجلسونو کې برخه اخیستله. یوه بله ډله چې مشرې یې مولوي انور الحق مجاهد د اسلامي ګوند د بنسټ ایښودونکي مولوي خالص (۲۰۰۵کال کې وفات شوی دی) زوی کوله په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو کې یې د کرزي د دولت پر وړاندې جهاد اعلان کړ.

د اسلامي انقلاب حرکت تر ډېره کچه له منځه تللې دی. مولوي محمد نبي د دې حرکت مشر په ۲۰۰۱ کال کې مړشو او له ده نه وروسته دده زوی احمد نبيمحمدي مشري په لاس کې واخیستله، اونوم یې د افغنستان د ملي اسلامي انقلاب حرکت کېښود، خو په دې موده کې له دې تنظیم نه څه پاتې نه وو. د ۱۹۹۰ کال په نیمایي کې د دې تنظیم ډېرغړي له دې ګوند نه ووتل [۱۲۱]. یوه بله ډله چې د دې تنظیم نه بېله شوې ده هغه د مولوي محمد عثمان سالک زاده، د افغانستان د ملي او اسلامي سعادت ګوند دی. په شمالي ولایتونو کې دا ګوند د حرکت د تنظیم چارې په لاس کې اخیستي دي[۱۲۲]. بله ډله چې ددې‌حرکت نه پاتې ده هغه د خدام الفرقان ټولنه ده، دا ټولنه ادعا کوي چې دوی هغه اسلامي ډلې را ژوندی کوي چې د ۱۹۶۰ په لسیزه کې یې شتون درلود. دا ټولنه ډېر ژر د طالبانو د رژیم له نسکورېدو نه وروسته د ځینولوړ پوړو طالبانو او دیپلوماتانو په مرسته جوړه شوه[۱۲۳].ددې ډلې مشری په تصوري توګه روحاني شخصیت، محمد امین مجددي کوي.

د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په میاشت کې دې ټولنې د اسلام آباد په ښار کې خپل ځان له طالبانو نه د معتدلو بیلې شوي ډله په بڼه معرفي کړ او د ملګرو ملتونو لویې جرګې د پروسې د جوړولو ملاتړ یې وکړ، او په دې توګه یې خپل ځان په سیاسي پروسې کې ګډ کړ. د اسلام د شریعت، قران او سنت په رڼا کې د نارینه او ښځو د مساوي حقونو ملاتړ د دې ټولنې کړنلاره وه، چې تر اوسه د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د قانون جوړونې ځانګړې سرچینه ده [۱۲۴].

د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کې تر ټولټاکنو وړاندې دې ډلې د سیاسي ګوند د ثبتولو هڅې وکړې او غوښتل یې چې په کابل کې دفتر پرانیزي[۱۲۵]. دې ډلې یو ځل بیا د طالبانو د مرګ ژوبلې وهلو او ټکولو نه ځان لرې کړ او وې ویل چې دوی نور له طالبانو سره اړیکې نه لري. خو سره له دې چارواکو د دې ګوند له ثبتولو نه ډډه وکړه.

۱۲۱–فضل رحیم مروت او پرویز خان تورو، ۴۵ مخ.

۱۲۲–سالک زاده د سرې پل په ولایت کې اوسېږي.

۱۲۳–پدې ډله کې دا کسان غړیتوب لري: ارسلا رحماني، چې پخوا د سیاف د اتحاد د اجرایه شورا غړی وو، وروسته بیا د رباني د ۱۹۹۰ د حکومت په کلونو کې د حج او اوقافو وزیر وو، او کرزي په ۲۰۰۵ کال کې مشرانو جرګې ته وټاکه. رحمت الله واحد یار، د مجددي د حکومت په موده کې د محاجرینو وزیر او د طالبانو په حکومت کې د وزیرمرستیال وو، لکه عبدالرحمن هوتکي (د اطلاعات او کلتور مرستیال وزیر) او عبدالحکیم مجاهد چې د طالبانو په حکومت کې د ملګرو ملتونو استازی و.

۱۲۴–د خدام الفرقان مطبوعاتي اعلامیه، ۲۰۰۱ کال د دسمبر ۹ اسلام آباد، د خدام الفرقان د ټولنې کړنلاره، ۲۰۰۱ کال د دسمبر ۹.

۱۲۵–کله چې لیکوال د ۲۰۰۶ کال په سپټمبر کې وغوښتل له اسلامي انقلابي حرکت سره اړیکې ونیسي، ده دا پخواني حرکت پیدا نشو کړای او ده ته وویل شو چې د خدام الفرقان غړیو سره اړیکې ونیسي. وګورئ: د طالبانو بېله شوې ډله د کرزي د حکومت ملاتړ وکړ، Frontier Post (Peshawar) د ۲۰۰۳ کال د مي ۳.

او د قانوني ځای يې ونيو، او ر باني د ولسي جرګې د رياست د څوکی لپاره د قانوني د کانديدېدلو وړانديز وکړ. ددې غونډې ټولو ګډون کونکو ګوندونو رباني ته رای ورکړه.[116] د مسعود وروڼو په دې غونډه کې برخه نه درلوده. دنوي افغانستان ګوند لپاره له جميعت نه بېل شوی دافغانستان د ملي او اسلامي اعتدال ګوند، د قره بيګ ايزيديار په مشری يو لنډ محاله ځای ناستی وو، که د نوي افغانستان ګوند ثبت نه شي .

د ملي محاذ تنظيم له سياسي اړخه ډېر فعاله دی. د دې ګوند ترشاه د پير ګيلانی دوه زامن دي او د ا فغان ملت له ګوند سره چې مشري يې د ماليې وزير انور الحق احدي کوي په ګډه ټلواله کې دي [117]. دوی وکړای شو چې په بريالیتوب سره د کرزي د پښتنو پلويانو په شمول دې دعوت اسلامي او د اسلامي ګوند د قانوني څانګې په منځ کې په بريالیتوب سره ټلواله جوړه کړي. محاذ دا هڅه هم کوي چې يوه معتدله ټلواله چې له نورو تنظيمونو سره توپير ولري وړاندې کړي. په پکتيا ولايت کې د حامد ګيلاني ماتې د ۲۰۰۵ کال په پارلماني ټول ټاکنو کې وښودله چې د محاذ ګوند حتا پخپلو ادعا شويو د نفوذ ځايونو کې هم کمزورتيا لري[118]. د حضرت مجددي د نجات ګوند تل تر ډېره کچه د يو کس ګوند پاتې شوی دی، او د يو سياسي ګوند په بڼه اغيز نه لري. نورو تنظيمونو ډېر تغير نه دې کړی. د سياف اتحاد يا دعوت هڅه کوي چې ددولت په پوړو کې دننه نفوذ وکړي. احمد شاه احمدزی چې د کابل په شاه وخوا کې د ډېرو وشتمنيو خاوند دی د جمهوري رياست ټولټاکنو نه وړاندې يې د اتحاد ګوند پريښود او د افغانستان د اسلامي اقتدار په نامه يې خپل ګوند جوړ کړ[119]. دا ګوند ثبت نه شو، سره له دې چې يوې افغاني خبري آژانس د ۲۰۰۶ کال په لومړيو ورځو کې ويلي وچې دا ګوند ثبت شوی دی. دې خبرې دا مانا درلوده چې دولت او يونما (UNAMA) ترمنځ تړون شوی دی چې دا ګوند به نور د وسله والو ډلو پلوی نه کوي[120] .

د خالص اسلامي ګوند د دولت د پلويانو او مخالفانو په ډلو ويشل شوی دی. پلويان يې چې د ننګرهار ولايت اداره يې په لاس کې وه تر ډېره کچه يې نور د يو سازمان په څېر فعاليت نه کاوه. دې ډلې د ګوند د ثبتولو هڅې و نه کړي، مګر دوی د ننګرهار ولايت د يونما د سياسي همغږی

---

۱۱۶–توافقنامه ای جميعت اسلامی افغانستان، حزب افغانستان نوين و نهضت ملی افغانستان، پيام مجاهد، د ۱۳۸۴ کال د جدي مياشت. ولې د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر په نيمايې کي دې دری ګوندونو لا هم جلا فعاليت کاوه.

۱۱۷–دا اړيکې د جهاد په وخت کې هم وې، افغان ملت ته په پاکستان کې يوازې د مهاذ تر سيورې لاندې د فعاليت کولو اجازه ورکړای شوې وه. وګورئ: کاکړ، ۱۰۴ مخ. احدي د بن په کنفرانس کې د پير ګيلاني د حيت (د پېښور ګروپ) غړی و.

۱۱۸–ليکوال پدې سيمه کې په ټولټاکنو کي لا سوهنې وليدلي، ځکه نورو ډلو په لاسوهنو کې ډېربری درلود. وروسته له ټولټاکنو حامد ګيلاني د مشرانو جرګې سناتور وټاکل شو، هغه اوس د مشرانو جرګې مرستيال دی.

۱۱۹–د ولس مشری په ټولټاکنوکې احمدزی ۸٪ رايې وګټلې.

۱۲۰–دوو نوي ګوندونو جوازونه تر لاسه کړل، پژواک خبري آژانس، د ۲۰۰۶ کال د جنوري ۳. د ګوند نوم ورک وو (لاسي ليکنه!)، مګر دعليې وزارت د ويب پاڼې په چاپي لست کې ددې ګوند نوم نشته.

بېړنی حرکت نه و. دی ډلې د ګوند د ثبتولو لپاره په غوښتنلیک کې د حکمتیار د اسلامي ګوند اصلي نوم او د ګوند د تاسیس اصلي نېټه ورکړی وه، او د مشرانو د نوم ځای یې تش پرې ایښی و، مګردا غوښتنلیک ونه منل شو. دوی وړاندیز وکړ چې د ګوند او د مشر نوم بدل کړي اودا وښیي چې دا د حکمتیار د ګونډ د ثبتولو لپاره یوه لاره نه ده، دا وړاندیز ومنل شو او دا ګوند ثبت شو. حکمتیار ځان له دې ډلې نه لیرې کړ، دایې یوه وړه ډله وبلله چې هیڅوک یې نه پیژني، او په دوی زور راغلی و چې د کابل امریکایي پلوه حکومت نه د ملاتړ اعلان وکړي.

دا ګوند په ولسي جرګې کې قوي (ولې رسمي نه) ډله لري، او تر اوسه په خپل دریځ باندې شک لري. ددې ګوند یوه لوړ پوړې غړي لیکوال ته په مرکه کې په دې ټینګار کاوه چې د دې ګوند مشرتابه اوس بیخي له حکمتیار نه ځان لیرې کړي، مګرنوروغړو بیا ویل چې دا یو بېل ګوند نه دی. په عین وخت کې د ۲۰۰۶ کال د سپټمبر په میاشت کې، فاروقي دا ادعا کوله چې د اسلامي ګوند پخواني غړي له دوی سره یوځای دي او ډېر ژر به د اسلامي ګوند د ولایتي مشرانو شورا جوړوي. د افغانستان د چارو کارپوهان وایي چې دا بیلتون مصنوعي دي او دا ډله به د کرزي په حکومت کې لکه د تروجن آس وي.

اسلامی ګوند پخوا هم د انشعابونه تجربې تېرې کړي دي. په ۱۹۸۸ کال کې د دې ګوند مرستیال قاضي محمد امین وقاد دا ګوند پرېښود او د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد په نوم یې د یوي ټلوالې مشري کوله[۱۳۰]. په ۱۹۹۴ کال کې وحیدالله سباوون ددې ګوند د استخبارانو مشر له دې ګوند نه ووت او بیا وروسته د شمال ټلوالې سره یوځای شو. په ۲۰۰۶ کال کې هغه خپل ګوند د افغانستان اسلامي متحد ګوند په نوم ثبت کړ. په ۲۰۰۵ کال کې د روح الله لودین او عبدالحق صادق په مشری د افغانستان د ملي اسلامي ګوند او د افغانستان د ملي اسلامي متحد ګوند په نومونو د ثبت غوښتنلیکونه ورکړي وو، ولې تر اوسه دا ګوندونه ثبت شوی نه دې. کېدای شي چې دا پورتني ګوندونه به د اسلامي ګوند لپاره ځای ناستي ګوندونه وي که اسلامي ګوند تر خپل اصلي نوم لاندې ثبت نشي. عبدالقادر امامي غوري د اسلامی ګوند پخوانی لوړ پوړی غړی چې اوس په ولسي جرګه کې د غور ولایت استازی دی، د افغانستان د ملي وحدت او د سولې ګوند په نامه یو ګوند ثبت کړی دی[۱۳۱].

---

۱۳۰-Afghan Jehad (Peshawar), 1 (1987/1988)P.142.

۱۳۱-د ۲۰۰۵ کال د مارچ په میاشت کې ددې ګوند په مشرتابه کې بدلون راغئ، او امامي غوري ددې لپاره چې د ګوند پریکړو ته یې پام نه کاوه له مشرتوب نه لري کړای شو، او د هغه ځای ډاکټر نصار احمد احمدزي ونیو (ددې ګوند ارتباطات).

اسلامي ګوندونو په خپلو کړنلارو او حتا په عملي پالیسیو کې دا غوښتنه کوله چې افغانستان دې هرومرو اسلامي نظام ولري، او دوی دا هم ویل چې دوی د مجاهدینو د حقونو مدافعین دي. د بشري حقونو مبارزینو د ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۶ د مجاهدیدینو د پخوانیو مشرانو پر کړنو باندې ډېرې کلکې نیوکې کړي دي. حتا ځیني لکه د ولسي جرګې ریس، یونس قانوني وایي چې د اسلام او سیاست په منځ کې بیلتون ناشونی دی: دلته په افغانستان کې د سیکیولرزیم لپاره هیڅ ځای نشته او بې له اسلامه بل سیستم د منلو وړ نه دی[126]. ځیني افغانان بیا په دې باور دي چې له اسلام نه د یوې وسیلې په توګه ګټه اخیستل کېږي. د آفتاب په ورځپاڼې کې په دې هکله په ۲۰۰۳ کال کې لیکنه شوې وه. ددې لیکنې سر لیک مذهبی فاشیزم و او پر جهادي مشرانو نیوکې شوې وې، چې دوی له اسلام نه ناوړه ګټه پورته کوي تر څو په واک پاتې شي[127]. په پایله کې د دې ورځپاڼې چلوونکې ته د اتو کلونو د بند سزا ورکړ شوه، ولې هغه چاره ندرلوده مګر ځان پټ کړي او په پایله کې له هیواد نه بهر ته وتښتېد.

## دنته او بهر: اسلامي ګوند

د ګلبدین حکمتیار په مشری اسلامي ګوند یوه ځانګړې قضیه ده. دا ګوند د بن د پروسې نه ایستل شوې و. اسلامي ګوند د کرزي د حکومت او ددې حکومت د نړیوالو ملاتړ کوونکو پر وړاندې وسله واله مبارزه پیل کړه، مګر د دې ګوند ډېرو کدرونو د کرزی سره د همکاری لاره غوره کړه[128].

د ۲۰۰۴ کال د مې په میاشت کې، وروسته له یوه کاله مقدماتي خبرو، یوې ډلې دا ادعا کوله چې له حکمتیار او د ده له سیاست نه بېله شوې ده، دوی په عامه توګه دا وویل چې د کرزي د حکومت ملاتړ کوي، او په دې موافق دي چې د اساسي قانون په چوکاټ کې کار وکړي او له تاو تریخوالي، ترروریزم او د مخدره توکو له کښت نه ځان لیرې وساتي. ددې ډلې مشري د پکتیکا ولایت د اسلامي ګوند پخوانې قوماندان خالد فاروقي کوله. دې ډلې داهم ویل چې دوی د (ټول) اسلامي ګوند په استازیتوب خبري کوي[129]. له اسلامي ګوند څخه د دې ډلې بیلیدل یو

۱۲۶–پدې مرکه کې قانوني یو معتدله او با تحمله اسلام د افغانستان راتلونکی بولي. وګورئ: سید سلیم شهزاد، د افغانستان د اپوزیسیون څېره، آسیا تایمز ویب پاڼه، ۲۰۰۵ کال د سیپټمبر ۲۱.

۱۲۷–میر حسین محدوي، فاشیزم مقدس، د آفتاب ۲۰ ګڼه، ۱۳۸۲کال د غبرګولې ۲۱. او د دا نش کروخیل لیکنه هم وګورئ: د ارتداد مسول پښیمانه نه دي، د جګړې او سولې د انستیتوت راپور، د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر میاشت.
Blasphemy Editor Unrepentant, Institute of War and Peace Reporting, ARR NO. 76 1 Oct 2001

۱۲۸–لیکوال ته د اسلامي ګوند د ۲۰۰ پخوانیو لوړ پوړو غړیو لست چې د دولت په ادارو کې کار کوي ښودل شوي دي.

۱۲۹–وګورئ: پشتیبانی شورای تصمیم گیری حزب اسلامی از دولت، انیس، کابل، ۱۳۸۵ د غويي ۱۴. اعلامیه هیت با صلاحیت شورای تصمیم گیری حزب اسلامی افغانستان، ځیني لیکوال پدې اند دي چې د اسلامي ګوند مرستیال، قطب الدین حلال چې افغانستان ته ندې راستون شوی ددې ډلې ترشا ولاړ دې. وګورئ: Sayed Salim Shahzad, Assault on Afghanistan's political soul, Asia Times online, 12 Apr 2004.

ځرګنده شوه چې خليلي دې ته چمتو نه دې چې له مشرتوب نه لاس واخلي او نوي ځېرو ته لاره پرانېزي، د نورو ډلو مشرانو او انفرادي کسانو په دې غونډه کې ګډون ونه کړ. په حقيقت کې خليلي ګډ ونکوکو ته وويل چې د ګوند بنسټ ايښودنکو شورا لا پخوا دا پرېکړه کړې وه چې دی بيا د ګوند مشر شي، او په دې غونډه کې هغه خپل دوه مرستيالان وټاکل.

## غير جهادي تنظيم: جنبش

که څه هم د افغانستان ملي اسلامي جنبش، لکه نور اسلامي ګوندونه يوه پوځي سياسي سازمان دی، مګردا ګوند يو بېل تيرشوي تاريخ لري او بايد له نورو تنظيمونو نه بيل وګڼل شي. په پيل کې دا دحکومت ملاتړه ملېشه وه، او وروسته په ۱۹۹۲ کال کې له شمالي ټلوالې سره يوځای شوه. دا هغه وخت و چې جنبش په رسمي توګه د ګوند په بڼه جوړ شو. د طالبانو له نسکورېدو وروسته، جنبش کله د حکومت ډلې ته اوکله مخالفې ډلې ته ځي. لکه نور تنظيمونه جنرال دوستم اوس هم د جنبش پرجوړښت باندې واک لري، مګر انتونيو جيوستوزي (Anthonio Giustozi)وايي چې دا يوازې د نظامي قوماندانو يو سسته ټلواله نه ده، په دې کې سياسي ګوندونه او ډلې لکه د خلق ديموکراتيک ګوند غړي، ګروه کار، د سزا فعالين او حتا پخواني ماويستان چې د هغوی لپاره د جنبش سيکولر بڼه ښه برېښېدله شته. وروسته له دې چې په ۱۹۹۲ کال کې د خلق ديموکراتيک ګوند او د وطن ګوند رژيم نسکور شو، ازبکانو، ترکمانانو او اسلام پالو جنبش پری نښود چې يوه ښکاره سياسي او ايديولوژيکي هويت و مومي. دې ګوند يو ښکاره قومي هويت هم نه درلود، د جيو ستوزي په اند جنبش د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو په لويو جرګو کې قومي مسايلو ته پام واړوه. که څه هم دا اعلاميه په ټولنه کې د جنبش له لورې د ترکمن ټوکمو د خصوصياتو په اړه خپره شوې نه ده، خو په شخصي او عامه خبرو کې د جنبش سيميزو مشرانو ويل چې دوی په افغانستان کې د ازبکو او ترکمنو د حقونو مدافعان دي. دې خبرو او دا ګومان چې ازبکان په مرکزي حکومت کې ونډه نه لري د دوستم دريځ چې په ۲۰۰۲ کال کې کمزوری شوې و بيا ځواکمن کړ. لکه څنګه چې انتونيو جيوستوزي وايي: که دوستم له پامه وغورزول شي، دا د دوستم لپاره چې يووازی د ترکمن ټوکمو د ګټو مدافع دی په ګټه تماميږي[۱۳۴]. کله چې د شان پاچاه شينواري په مشري د افغانستان ملي ديموکرات د سولې مبارزينو ګوند له جنبش سره د ۲۰۰۵ کال د جون په مياشت

---

۱۳۴–انتونيو جيو ستازي (Anotnio Giustazi)، د يو ه افغان ډلې قومي کول (The Ethnicisation of an Afghan Faction)ملي جنبش له پيله تر ولس مشری ټولټاکنو( Junbish-e-Milli from its Origion to the Presidential Elections)، د کړکېچ د هيوادونو پروګرام(CrisisStates Programme)، کاري سند (Working paper) پرله پسې شمېره ۱ ( Series no 1)، د لندن د اقتصاد ښوونځی (Londo School of Economice)، کاري سند شمېره ۶۷، ۵ – ۱۴ او ۱۶ مخونه.

## د طالبانو يو قانوني ګوند؟

په ۲۰۰۴ کال کې طالبانو غوښتل چې لکه اسلامي ګوند د يوه ګوند بنسټ کېږدي. د محمد عارف حقاني کرزي په نوم يوه ناپيژندل شوي څېره د افغانستان مدني اسلامي ملي تنظيم په نوم د ګوند د ثبتولو غوښتنليک ورکړی و. حقاني وويل چې د طالبانو ټولې ډلې به سره يو ځای کوي، او ددې ګوند کړنلاره به په بشپړه توګه د سخت دريځو طالبانو پر ضد وي، مګر بيا له دې ګوند نه نور څه نه دي اورېدل شوي[۱۳۲].

## شيعه ګوندونه

کله چې استاد اکبري له طالبانو سره پريکړي ته ورسېد او د ځينو کندهاريانو تر څارنې لاندې يې هزاره جات د ځينو سيمو کنترول په لاس کې ونيو، د شيعوو دوحدت ګوند په دوو ډلو ووېشل شو. د خليلي ډله د شمال د ټلوالې سره پاتې شوه. له ۲۰۰۳ کال نه وړاندې، محقق او کاظمي بې له دې چې په رسمي توګه د وحدت ګوند پريږدي، په شمال کې يې خپلو ډلو ته ودې ورکولې. د ولس مشري او پارلماني ټولټاکنو په وخت کې، محقق په ډېره اغيزناکه توګه د حامد کرزي پر وړاندی د هزاره ګانو ټولنه را ټوله کړه او د هزاره ټولنې د مشر په توګه را څرګند شو. په رياستي ټولټاکنو کې دريیم شو او په پارلماني ټولټاکنو کې د کابل د ولايت ځواکمن کانديد و[۱۳۳]، مګر محقق له پارلماني ټولټاکنو وروسته بيا د حکومت کمپ ته ورغی. کله چې محقق دولسي جرګې د رياست لپاره د حکومت د کانديد سياف ملاتړ د خپل پخواني ملګري قانون پر ضد وکړ، هغه پخوانی ګټلې اغيز يې له لاسه ورکړ. يوه بله بيله شوې ډله د افغانستان د ملت اسلامي وحدت ګوند وه چې قربان علي عرفاني يې مشري کوله. د حرکت ګوند هم په دوو ډلو ووېشل شو، د محسني ډلې خپل پخوانی نوم وساته او د مذهبي ځانګې استازيتوب يې کاوه. د سيد حسين انوري ډله، د افغانستان د خلکو اسلامي حرکت په نامه چې د پوځي ځانګې استازيتوب کوي او سيکولره برخه لري يو بل ګوند جوړ کړ. د ۲۰۰۵ کال د فبروري په مياشت کې، محسني د ګوند له مشرتابه نه استعفا ورکړه او مشرتوب يې سيد محمد علي جاويد ته چې د بن له تړون نه وروسته د کرزي په لومړنی کابينه کې وزير و وسپارله.

څو ځلې هڅې وشوې چې د شيعوو ډلې سره يو ځای شي، ورسته دا هڅه هم وشوه چې لږ تر لږه د وحدت ګوند بېرته سره يوځای شي، ولې دا ټولې هڅې ناکامه شوې. د ۲۰۰۴ کال د سيپټمبر په مياشت کې خليلي په کابل کې د خپلې ډلې د بيا جوړښت غونډه جوړه کړه، کله چې دا

---

۱۳۲–سالم منډوخيل: په هيواد کې د علماوو او طالبانو ګوند اعلان شو، د کابل اونيزه، د ۱۳۸۳ کال د غويي ۲۳. د ګوند د مشر تخلص، کرزی، دا ښودله چې دی هم د ولس مشرد سيمې دی، ولې دا د دې اوونيزې په پښتو او دري پاڼو کې ليکل شوی و او په انګليسي پاڼو کې نه و.

۱۳۳–دی له قانوني ۵.۶٪ وړاندی و. دا ويب پاڼه وګورئ:

<http://www.results.jemb.org/results.asp?ElectionsID=1&ProvinceID=1&Order=Vote>

## قومي ملت پال او قومي کيڼ لاسي

په قومي ملت پالو کې افغان ملت د پښتنو دځانګړې ګوند په توګه له خپل ټول ځواک سره د حکومت پلوي کوي. ددې ګوند مشر، انورالحق احدي په دولت کې وزير دی، او دا ګوند په ولسي جرګې کې لس وکيلان لري[۱۴۲]. دا ګوند د ښه دريځ خاوند اوسرچينو ته لاس لري. د دې ګوند لپاره د غير دولتی موسساتو يوه شبکه نه يوازې د پښتنو په سيمو کې، بلکې په نورو سيمو کې هم کار کوي. تر اوسه د دې ګوند ډېرغړي پښتانه دي، مګرغواړي چې خپله پښتني څېره واړوي، اوهڅه کوي چې نور قومونه هم ځان ته نږدې کړي[۱۴۳]. د افغان ملت دوې نورې ډلې، يوه د شمس الهدا شمس، چې د ۲۰۰۵ کال د دسمبر په مياشت کې جوړه شوي، چې مشري يې د ده زوی انجنير اجمل شمس کوي[۱۴۴]، او بله ډله د قدرت الله حداد په مشری ده چې اوس نور نفوذ نه لري.

د افغانستان د ملي کنګرې ګوند چې لومړی د ۲۰۰۱ او۲۰۰۲ کال په ژمې کې د بلجيم په هيواد کې د افغانستان د ملي کنګرې په لورې د يون په نامه جوړ شو، بيا وروسته په ۲۰۰۳ کال کې د ګوند نوم پرې کيښودل شو. رسنی دا ګوند ښه پيژني.

ددې ګوند مشر، لطيف پدرام، په عامه توګه پردواړولويو جرګو نيوکې وکړې، هغه ويل چې دا لويې جرګې غيرې ديموکراتيکې دي. پدرام د افغانستان په ارضي تماميت کې د متحده ايالاتو د هڅو جوړول، او د افغانستان او د متحده ايالاتو ستراتيژيکې همکاري ونه منلې، او په ولس مشري ټولټاکنو کې ۴.۱٪ رايې يوړې. دی په وړو کانديدانو کې ځواکمن برېښېدو. په ۲۰۰۶ کال کې په دې ګوند کې يو انشعاب راغئ، ځينو مشرانو د پدرام نفوذ د ګوند پر چارو او د پښتنو په وړاندي د هغه د مخالفت په آواز باندې نيوکې وکړې.

د لويديځ او د شمال د کليو ډېر روڼ اندي اوس هم د سازا غړي دي، هغو مليشو چې د نجيب الله د حکومت په وخت کې د حکومت پلوي کوله اوس هم په سازا کې شتون لري. په ۲۰۰۱ کال کې د نهضت ميهني نوم د آلمان د آخن (Aachen)د ښار د کنفرانس په موده کې پرې کيښودل شو. مشر محبوب الله کوشاني د خلق د ديموکراتيک له ګوند سره، او په ځانګړې توګه د

۱۴۲–د ۲۰۰۶ کال د سپټمبر په مياشت کې د ګوند مشر ادعا کوله چې دوی ۱۴ وکيلان او ۹ پلويان په پارلمان کې لري. د ليکوال سره مرکه، ۲۰۰۶ کال.

۱۴۳–د مثال په توګه د ګوند د ښځو د څانګې مشره تاجکه ده، د ليکوال مرکه په کابل کې، ۲۰۰۶ کال. داسې برېښي چې دا اړيکې لا پخوا پيل شوي وي، خو بيا هم وګورئ: Bocherer-Dietsch and Jentsch (eds), op. cit., p. 368.

۱۴۴–د افغان ملت مشر شمس الهدا شمس مړ شو، The News International، ۲۰۰۵ کال د دسمبر ۶. په رياستي ټولټاکنو کې د شمس الهدا ډلې له واصفي نه پلوي وکړه.

کې یو ځای شو[۱۳۵]، جنبش دا شېبه ومونډله چی یو افغانشموله ګوند شي. په دې وخت کې د جنبش ډیموکراتیک کولو لپاره څو ناکامې هڅې ددې ګوند ددویمې لیکې ډېرغړي له دې ګوند نه لیرې کړل[۱۳۶]. وروسته له دې چې دوستم د وسله وال ځواک د لوی درستیز سمبولیک پوست ته په جمهوری ریاست کی وټاکل شو، دوستم وویل چې دی به په راتلونکو دو میاشتو کې د جنبش له مشری نه استعفا ورکړي،[۱۳۷] او د ده مرستیال سید نورالله به د دې ګوند" لند محاله" مشر وټاکل شي. د بدلون لپاره اړتیا هغه وخت ډېره شوه چې په ۲۰۰۶ کال کې د جنبش په اړه ګنګوسې را پورته شوې، کله چې یوه غړي دا نظرورکړ چې دوستم دې له مشری نه لرې شي تر څو جنبش ته د یوه عصري سیاسي سازمان د جوړښت لاره خلاصه شي[۱۳۸]، اوهمدا وجه وه چې د عصري غوښتونکو ډله په ډېرپام سره د بدلون لپاره درییمې ځندېدلې غونډې ته ځانونه چمتو کړي، بېله دې چې دوستم د یوه مخالف په بڼه له ګوند څخه لیري کړي. دوه کاله کېږي چې د دې ګوند مهمې غونډې نه دي جوړې شوي[۱۳۹]. د جنبش راتلونکي روښانه نه بریښي، ځکه چې د دې ګوند پوخې ډله او د دوستم پلویان د پخوانیو اسلامي ګوندونو په مرسته ځواکمن شوي او د دې ګوند اصلاح غوښتونکي هم په عین کچه ځواکمن دي.

له طالبانو نه وروسته د دوستم او د افغانستا ن د آزادی ګوند مشر جنرال عبدالمالک تر منځ په شمال کې جګړې د دوی تر منځ تر ټولو خونړی جګړې شمېرل کېږي. د افغانستا ن د آزادی په ګوند دا نیوکي کېږي چې ګواکې دا ګوند د جمیعت دلاس یوه وسیله ګرځېدلې چې ددوستم واک په سیمه کې لږ کړي[۱۴۰]. کومې اعلامیې چې د ۲۰۰۶ کال د اګست په میاشت کې د کورنیو چارو وزیر له خوا خپرې شوې او ویلي دي چې دا "ګوندونه وسلوالې ډلې لري او باید منحل شي[۱۴۱]، دا اعلامیه ښیې چې د ګوندونو د ملیشو له خلع سلاح کول سره هم سلیقوي چلند کېږي.

---

۱۳۵–د آینه تلویزیون(چوزجان)، ۲۰۰۵ کال د جون ۱۵.

۱۳۶–د جنبش د یو غړي په وینا ، د اتو نه شپږو مرستیالانو جنبش پرېښود. وزیران دادفر او قرقین پدې ډله کې ول. هغوی د جمهور ریس کرزي کمپ ته نږدې شول خو له جنبش او دوستم سره یې اړیکې ساتلي دي. د لیکوال مرکه په کابل او مزار کې، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کال.

۱۳۷–دوستم به له خپل ګوند نه استعفا ورکوي، د چراغ اونیزه، ۲۰۰۵ کال د اپریل ۵.

۱۳۸–دا تور په لمړي ځل د نیو یارک ټایمز په ورځپاڼې کې خپور شو، ۲۰۰۶ کال د جون ۳۰. بیا وروسته افغاني رسنیو دا خبر خپور کړ. د پارلمان ځینو غړو د رسمي معلوماتو غوښتنه وکړه.

۱۳۹–د لیکوال مرکه په کابل کی، ۲۰۰۶ کال.

۱۴۰–وروسته تردې چې ددوستم پخوانی مرستیال، جنرال عبدالمالک په دوستم تور ولګاوه چې دده ورور رسول پهلوان یو کال وړاندې دوستم وژلی دی، مالک په ۱۹۹۷ کال کې د لنډې مودې لپاره طالبانو سره یو ځای شو. کله چې مالک پدې وپوهېد چې طالبان به دی د شمالي ولایتونو حاکم نه کړي نو ده طالبان د وحدت د ګوند په مرسته له مزار نه وشړل. نیول شوي طالبان یې ټول ووژل. کله چې طالبانو یو کال وروسته مزار ونیو، مالک بهر ته وتښتېد او د طالبانو د حکومت په موده کې د امریکې په متحده ایالاتو کې اوسېده. طالبانو دا هم ویل چې دوی به اوسامه له مالک سره بدل کړي. کله چې طالبان له واکه ولوېدل، مالک کابل ته راستون او بیا شمال ته ولاړ، او ښکاره ده چې دی د دوستم د سیال عطا محمد، د بلخ والي او د کابل د متحدینو له خوا ساتل کېدو.

۱۴۱–سید یعقوب ابراهیمي، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت له وسله والو ډلو سره مقابله کوي، د جګړې او سولې د انستیتوت ( IWPR)راپور، راپور شمیره ۲۲۸، ۲۰۰۶ کال د سیپټمبر ۱.

کارملیانو له څانګې سره یانې نهضت میهني او پخواني ماویستانو سره اړیکې ساتلي دي. وروسته له دي چې د طالبانو حکومت نسکور شو، سازا بیا د ننه په افغانستان کې فعالیتونه پیل کړل، یوه څانګه یې له پیمان کابل سره[۱۴۵]، او بله څانګه یې د افغانستان د ملي سولې او دیموکراسی شورا [۱۴۶] سره د یوې لنډې مودې لپاره یو ځای شول، مګر دریمې څانګې یې د یوې لنډې مودې لپاره په خپلواکه توګه فعالیت کاوه. په دې ټوله موده کې سازا له پخوانیو ملت پالو پښتنو سره همکاري کوله، ددې مانا دا ده چې سازا غوښتل خپله پخوانی اصلي قومي ملت پاله څېره له ځانه لیري کړي. سازا تر اوسه د ګوند ثبتولو لپاره غوښتنلیک نه دې ورکړی. کاشاني وایي چې دوی په پام کې لري چې په یوه مناسبه موده کې یو لوی ګوند جوړ کړي. دا ګوند د سولې اوسنی پروسه نه مني، او وایي چې دا پروسه په اصل کې دیموکراتیکه نه ده[۱۴۷].
دوې نورې کیڼ لاسې ډلې هم فعالیت کوي: ګروه کار په ۱۹۹۰ لسیزه کې ددوستم له جنبش سره اړیکې ساتلې وې، مګر یوې ډلې یې په ۲۰۰۲ کال کې یو ګوند جوړ کړ. او د جنبش همبستګي ملي افغانستان[۱۴۸]، انجنیر احمد مشري کوي. په ۲۰۰۴ کال کې سافزا رسماً له فعالیت نه ولوېد، خواوس هم داسې راپورونه راځي چې ځینې پلویان په شمال ختیځ اویوه وړه ډله د ملیشوو د بدخشان ولایت د درواز په ولسوالی کې لري[۱۴۹].
بل ګوند د افغانستان د ملي تړون په نامه د بغلان د اسماعیلیو د لړکیو د ټولنې د مشر، سید منصور نادري د خپل سیاسي ماشین په توګه پیل کړ. په بیلا بېلو رژیمونو کې دده زوی د خپلې ټولنې د ساتلو لپاره د اسماعیلیوو د ملیشوو د یوې وړې ډلې مشري کوله. د دې ټولنې اصلي نوم، د روڼ اندو جبهه وه، او پخوانیو کیڼ لاسو لکه ظهور رزموج، د سیاسي بېرو پخواني غړې پکې غړیتوب درلود. د عدلیې وزارت د ثبتولو غوښتنلیک تر دې نوم لاندې رد کړ، بله چاره نه وه مګر نوم بدل کړي.

۱۴۵–د نویو دیموکراتانو څېرکی وګورئ.
۱۴۶–د نهضت میهنی، آخن، پیمان کابل او د افغانستان د ملي سولې او د یموکراسي شورا په اړه د نویو دیموکراتانو څېرکی په راتلونکو پاڼو کې وګورئ. ۴۷–۱ د لیکوال مرکه په کابل کې، ۲۰۰۶ کال.
۱۴۸–دا د اسحق ګیلاني د ملي یووالې له نهضت سره توپیر لري، یو د نهضت کلمه کاروي او بل د جنبش.
۱۴۹–۲۰۰۴ کال کی د سازا او سافزا ملیشی د ملګرو ملتونو د دی دی آر تر پروګرام لاندی راغلل.

## پخواني کيڼ لاسي - د خلق ديموکراتيک ګوند

هغه څه چې ددې ګوند نه پاتې دي نن تر پخوا لا ډېر ټوټې ټوټې دي. لږ تر لږه پنځلس نوي ګوندونه د دې ګوند د پخوانيو چارواکو له خوا ثبت شوي دي، اوهڅه کوي چې خپل غړيتوب ډېر کړي. که څه هم دې بيلتونونو د پخواني خلق او پرچم واټن لږ کړې دی، مګر تو پيرونه نن لا تر پخوا ژور دي، چې د امينيانو، نجيبيانو او کارمليانو تمايلات څرګندوي. دا ګوندونه ادعا کوي چې دوی تېر هير کړي دي. ځيني دا هم وايي چې دوی هيڅکله هم کمونيستان نه وو، مګر د وطن مينه وال وو[150]. دوی دا هم وايي چې دوی کمونيستي ايديولوژي نه لري[151]، او د آزاد مارکيټ اقتصاد ملاتړ کوي[152]. نور وايي چې دوی تل د ټولنې د پرمختګ پلويان وو، د نورالحق علومي مثال وګورئ: موږ ترقي غوښتله، او اوس يې هم غواړو[153]. عبدالکبير رنجبر، د ديموکرات ګوند مشر وايي چې دی په خپل تېر ژوند وياړي، ځکه دی تل د خلګو په چوپړ کې و[154]. لومړی ګوند چې ددې سياسي ډلې له خوا د ۲۰۰۳ کال د اګسټ په مياشت کې جوړ شو، هغه د پخواني جنرال نوروالحق علومي په مشری، د افغانستان د يووالې ګوند و. هغه غونډه چې لومړی د روڼ اندو، ملي شخصيتونو او د وطن ګوند د پخوانيو غړيو د غونډې په نامه جوړه شوې وه، وروسته بيا ورته د دې ګوند د بنسټ ايښودونکو د غونډې نوم ورکړ شو. په غونډه کې ويانديانو پردې ټينګار کاوه چې دې ګوند له پخوا دا تجربه اخيستې چې نور به پخوانی "تير وتنې نه تکرار وي". د ۸۵۰ ځينو غونډه والو څو ځلې د وطن ګوند او ډاکټر نجيب الله شعارونو ورکول او يو بل ته يې د "رفيق" خطاب کاوه[155]. دې خبرو د ثبتولو په وخت کې دې ګوند ته ستونزې پيدا کړې. د ۲۰۰۳ کال د اګسټ په مياشت کې سترې محکمې چې د مجاهدينو د پنځو مشرانو[156] دغوښتنليک په اساس يې عمل کاوه، د مجاهدينو په حکومت کې د نجيب الله د حکومت له نسکورېدو وروسته د ۱۹۹۲ کال[157] د مې په مياشت کې د وطن

---

۱۵۰– دوی وايي چې حفيظالله امين د شوروي اشغالګروواژه ، مګردا نه وايي چې هغه دا اعلان کړی ووچې افغانستان د "دوهم مادل انقلاب" هيواد دی. د ليکوال مرکه په کابل کې، ۲۰۰۳ کال.

۱۵۱– وګورئ: د ملي مترقی ګوند يو لنډ انځور، دا ګوند اعلان کوي چې ايديولوژيکي بنسټ نلري، مطبوعاتي اعلاميه، کابل، ۲۰۰۴ کال د نومبر مياشت.

۱۵۲–وګورئ مثال: د يووالې په لور، د پخوانيو خلقيانو د ګوندونو ګډه اعلاميه، ملي يووالې، ملی ګوند او د سولې غورځنګ، د ۱۳۸۴ کال د زمري ۲۱.

۵۳–۱ګرايم سميت، کېدای شي افغانان به هغو کمونستانو ته راې ورکړي چې دوی لرې کړل، د تورانتو، ګلوب اوميل، د ۲۰۰۵ کال د سيپټمبر ۲۲.
Graeme Smith, Afghans may vote in communists they drove out, Globe and Mail (Toranto), 22 September 2005.

۱۵۴–د آزادی له راديو سره مرکه، د ۲۰۰۵ کال د نومبر ۲۹. په حقيقت کې ډېرېدونکي شمېره د افغانانو په پټه وايي چې ځينې کارونه د خلق د ديموکراتيک ګوند د حکومت ښه ول. په ځانګړې توګه ښځو لږ ترلږه په ښارونو کې ډېر حقوق لرل.

۱۵۵–ليکوال د ملې يووالې ګونډ (حزب متحد ملی) په لمړنی غونډه کی د واوريدل، ۲۰۰۳ کال د اګست ۲۲.

۱۵۶–د باختر د آژانس خبر، ۲۰۰۴ کال د اګست ۱۶.

۱۵۷–د مشرانو شورا د کمونست جوړښت له منځه يووړ، راديو افغانستان، ۱۹۹۲ کال د مي ۶.

افغانستان د تفاهم او ديموکراسی ګوند مشر ادعا کوي چې د ده ګوند لا پخوا په ۱۹۸۹ کال کې جوړ شوی و، اومحمد ذبير پيروز وايي چې دده په مشری د افغانستان د خلګو د سعادت ګوند چې دافغانستان د متحدې ملي ټلوالې په نامه پيل شوی وهم په ۱۹۸۹کال کې جوړ شوی دی[۱۶۵].
د ټلوالي جوړول هم له خنډونو سره مخامخ شو. د خلق د ديموکراتيک ګوند پخواني غړي په دې نه سره جوړيدل چې د غوبې د اوومي پېښه، انقلاب و که کودتا وه. دې خبرو د خلق ديموکراتيک ګوند، شعله يان او د نويو ديموکراتانو د پنځو ويشتو ګوندونو د يوځای کېدلو هڅې د ۲۰۰۶ کال د جولای په مياشت کې ناکامه کړي.
په اوس وخت کې لږ ترلږه درې نوښتونه روان دي چې د خلق د ديموکراتيک ګوند د پخوانيو کيڼ لاسو يوه ټلواله جوړه کړی. دوه نوښتونه د پخوانيوسياسي غړو چې په بهر کې اوسي او اوس مهال افغانستان ته ډېر راځي له خوا پر مخ وړل کېږي. د نجيب الله پلويانو د جون په مياشت کې د ننه په هيواد کې او د باندې، د افغانستان لپاره د ديموکراسی سازمان چې ثبت شوي نه دي او دوطن ګوند د مقاومت د انسجام کميسيون چې مشري يې پخواني وزير او د خلق ګوند د مرکزي کميټې پخواني غړي انجنير نظر محمد کوله، د همکاری يو پروتوکول لاسليک کړ، تر څو دوطن ګوند غړي اونور سياسي مينه وال د هماهنګی اوسازمانې جوړښت لپاره را ټول کړي. له دې يوځای کېدو نه د وطن د غړو او نورو ملي اوله وطن سره د مينوالو د انسجام لنډ مهاله کميسيون جوړ شو. دا ټلواله د يوه متحد مرکز پلو يان د ي او غواړي چې د وطن د مينوالو ځواکونو يو غير قومي، غير سيمه ييز او هيواد شموله ګوند جوړ کړي[۱۶۶]. د ۲۰۰۶ کال د سيپتمبر په ۷، د ۱۲ وړو ګوندنو استازي او ځينې نورې ډلې چې ثبت شوي نه دي په افغانستان کې د يوه واحد ګوند د يوځای کېدو پرېکړه وکړه[۱۶۷].
په درييم حرکت کې د کارمل د پلو يانو د افغانستان د هيواد د ديموکراسی او ترقي نهضت چې په بهر کې جوړ شوی[۱۶۸] و په افغانستان کې د ننه يې دافغانستان د پرمختګ او ديموکراسی د

---

۱۶۵–۴ شمېره ريفرنس وګورئ.

۱۶۶–اعلاميه مشترک سازمان ديموکراسی برای افغانستان و کميسيون موقت انسجام اعضای حزب وطن، کابل، ۱۳۸۵ کال د جوزا ۲۵.

۱۶۷–دا دې هغه ګوندونه: حزب مترقی ملی، حزب تفاهم و دېموکراسی افغانستان، حزب سعادت مردم افغانستان، شورا ي مصلحت ملي (محمد صديق خاورې)، يوه ډله د سازمان برای ديموکراسی در افغانستان، د عبدالرشيد جانباز په مشري ، سازمان افغانستان نوين (د عبدالخليل ميهن پور په مشري ، دا ډله د سولې له غورځنګ نه جلا شوی دی)، حزب افغانستان نوين ( د محمد واصل رحيمي په مشري)، شورای انسجام حزب واحد (د محمد اکبر اوريا په مشري)، شورای صلح و ديموکراسی برای افغانستان (د سيد سرور تابش په مشري)، شورای انسجام برای ديموکراسی برای افغانستان ( د ميرمحمد اکبرظفرپه مشري)، اتحاد ملت افغانستان ( د ميرمن عادله کوهستاني په مشري)، او د بخش اکثريت اصول ګرا و وحدت خوا حزب ملی افغانستان، د وکيل سيد محمد ګلابزوی په مشري، د خلق دديموکراتيک ګوند غړي او د کورنيو چارو پخوا âIوزير هغه د آرين له ګونده نه بيل شوی دی. د ليکوال مرکه له ډاکټربکتاش سره، د ۲۰۰۶ کال د سپټمبر ۱۰. ددې په اړه تر اوسه کوم رسمي سند نه دی تر لاسه شوی.

۱۶۸پدې ډله کې د خلق د ديموکراتيک ګوند پخوانی لوړ پوړو مشرانو، محمود بريالی، نور محمد نور، نجم الدين کاوياني، فريد مزدک او نورو برخه اخيستې وه.

ګوند پر فعالیتونو بندیز ته اشاره کوله. په پایله کې له څوارلسو میاشتو وروسته دا ګوند ثبت شو. د ګوندونو قانون وايي چې د ثبت موده درې میاشتې نیسي[۱۵۸].
ډېرو پخوانیو کیڼ لاسو ددې ګوند پر تاسیس باندې نیوکې وکړې، ځکه چې د تاسیس لپاره یوازې دوه کاله کار شوی و، دخلق دیموکراتیک ګوند یوویشتو پخواني کیڼ لاسو ډلو په دې غونډه کې ګډون کړی وو. دوی له کښته و پورته ته د ګوند د جوړښت لپاره لا هم نور وخت غوره ګانه، او پر علومي باندې یې نیوکې درلودې چې[۱۵۹] ده په یوازې د ګوند د جوړولو اقدام کړی دی. په پای کې اتلس ډلې له دې ګوند نه ووتلې. ډېرژر درې نورې ډلې چې مشري یې خلقیانو کوله را څرګند شوې: دافغانستان ملي ګوند د پخوانی وزیر عبدالرشید آرین په مشری[۱۶۰]، د افغنستان د سولې غورځنګ، د دفاع د پخوانی وزیر شاه نواز تنې[۱۶۱] په مشری او د ملي یووالې ګوند د امین په حکومت کې د عبدالرشید جلیلي په مشری وو. دې ګوندونو په ثبتولو کې کومه ستونزه لکه دعلومي ګوند نه درلوده، اوډېر ژر ثبت شوو. د ۲۰۰۵ کال د جولای په میاشت کې دې درېیو ګوندونو اعلان وکړ او وې ویل چې دوی به یو پراخ، ځواکمن، هیواد شموله، خپلواک او ملي ګوند جوړوي، او دوی پریکړه وکړه چې د ګډ پروګرام پر بنسټ "ټلواله" جوړه کړي. د دې ټلوالې دروازه به نورو ملي، مترقي، دیموکراتو ګوندونو او انفرادي اشخاصو ته پرانیستي وي او په ټولټاکنو کې به ګډ کمپاین کوي[۱۶۲].
ځیني نور واړه ګوندونه چې پخوا اصلاً پرچمیان وو، د نویو دیموکراتو ګوندونو د یووالې په هڅو کې سره یو ځای شوو. ددې ګوندونو له ډلې نه ډېر فعال د ډاکټر بکتاش په مشری د ملي پرمختګ ګوند دی[۱۶۳]، دا ګوند پخپله له ۱۷ ډلو جوړ شوی دی. بل فعال ګوند د افغنستان د خلګو د سوکالی ګوند، د میاګل وثیق په مشری دی[۱۶۴]. دا دواړه ګوندونه کیڼ لاسې دي چې د ۱۹۹۰ د لسیزې په پای کې په پاکستان کې دچوپو ډېره کیو او د جګړې پروړاندې د نهضت په نومونو د یو پراخ اتحاد په جوړولو کې یې برخه لرله. پخوانی مرستیال وزیر احمد شاهین د

---

اورسولي هم وګورئ، ۳۲۰ مخ.

۱۵۸– د ګوندونو دقانون ۵ ماده، ۱ فقره وايې چې د ګوندونو د قانون په اساس د عدلیي وزارت باید هغه ګوند ته چې د ثبت غوښتن لیک یې ورکړی په د وومیاشتو کی مثبت یا منفی ځواب ورکړی.

۱۵۹– په عین موده کې علومي ادعا کوله چې دیری بیرته دی ګوند ته راغلل کله چې دوی وپوهېدل چې دا ګوند کار کولای شي. په حقیقت کې دا ګوند د هیواد په ډیرو سیمو کې شتون لری.

۱۶۰دې ګوند تر دیري مودې د خلق د دیموکراتیک ګوند له نومه کار اخیست. دلیکوال مرکه، ۲۰۰۳ کال.

۱۶۱– تنې په ۱۹۹۰ کی د نجیب پر وړاندې د یوې ناکامې کودتا هڅه وکړه اوبیا پاکستان ته وتښتید، هلته د ده ډیر پښتانه کدرونه له طالبانو سره یو ځای شول.

۱۶۲د یووالی په لور.

۱۶۳– د ملي پرمختګ ګوند پخپله له ۱۷ ډلو جوړ شوي دي او په پیل کې د شاهي کورنی یو غړی علی احمد سراج ددی ګوند ملا تړی و.

۱۶۴– په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کلونو کې ددې ګوند نوم حزب نجات ملي افغنستان وو. د حزب رفاه مردم افغنستان یو لنډ لرلید، د ګوند پانی، کابل، د ۲۰۰۴ کال د نومبر میاشت.

## نوي ديموكراتان

وروسته له طالبانو هغې ډلې چې تر اوسه پټ وو او نور چې په بهر کې وو د نوي ديموكراتانو په نامه يو نوي بهير پيل کړ. دا د پښتانو کېڼ لاسو، ماويستانو او د ځينو هغو پخوانيو مجاهيدنو نوی نسل دی چې غوښتل يې تير شوی بېلوونکي سياست هېرکړي. په نو يو ديموكراتانو کې د پام وړ ګوندونه چې د ځوانانو له خوا جوړ شوي او په کورنی جګړو کې يې لاس نه درلود، د افغانستان د کار او پراختيا ګوند، د جمهوري غوښتونکو ګوند، د افغانستان د ځوانانو د يووالې ګوند او د افغانستان د آزادی او ديموكراسی نهضت دی[۱۷۴]. په ۱۹۹۹ کال کې د کار او پراختيا ګوند د ملي پخلاينې په نوم د ذولفقار اميد په مشری د روڼ اندو هزاره ځوانانو له خوا دننه په هيواد کې جوړ شو. هغه د دايکنډي د يوه با نفوذه خان کورنی غړی دی، چې د ۱۹۹۰ په لسيزه کې د اتفاق شورا سره يې هم کار کاوه. د اتفاق شورا په تهران کې د روڼ اندو له ډلې او حتا د افغانستان د شنو له ګوند سره چې مشري يې ميرمن سوما محمدي کوله يو ځاي شو[۱۷۵]. د عدليې وزارت د ملي پخلاينې ګوند په نوم د ثبت غوښتنليک رد کړ، د عدليې وزارت يو حيرانونکی دليل وړاندې کړ او هغه دا و چې ملي پخلاينه لا پخوا سر ته رسېدلې، نو ولې د دې ګوند نوم ملي پخلاينه ده؟[۱۷۶] د دې ګوند مستقبل کولای شي د نو يو ديموكراتانو او د هغو پخوانيو جهادي ځواکونه ترمنځ چې اوس ديموكرات شوي د يو طبيعي پله په بڼه کار وکړي. او اوس دا ګوند د دې کار لپاره اړ شوي دی، ځکه د دې ګوند ټول مشران د هزاره د قوم دي[۱۷۷]، او د ګوند د بنسټ پراخول هم ستونزمن ښکاري، له دې کبله دا ګوند د قومونو په منځ کې د ګوندونو د ټلوالې د جوړولو په غونډو کې برخه اخلي. په ۲۰۰۶ کال کې هغه هزاره ګان چې د ملي کنګرې له ګوند نه جلا شوي وو له دې ګوند سره يوځای شوو. د ۲۰۰۶ کال د دوبې په هغه کنفرانس کې چې ۴۷۰ غړو په کې برخه اخيستې وه، محمد ايوب باران د مشر په توګه وټاکل شو. دا له طالبانو نه وروسته په افغانستان کې لومړی ګوند و چې د ګوند مشر له مشرتوب نه ويستل شو، مګر بيا هم هغه په ګوند کې پاتې شو[۱۷۸].

---

۱۷۴– د جمهوري غوښتونکو او د افغانستان د آزادي او ديموكراسی د نهضت په اړه معلومات په تير شويو پاڼو کې وګورئ.

۱۷۵– نور معلومات د دې ډلې په اړه نشته.

۱۷۶– د ښاغلي اميد سره مرکه، کابل ۲۰۰۳ کال.

۱۷۷– دا ګوند ادعا کوي چې ۳۰٪ بې له هزاره غړيتوب لري.

۱۷۸ – مونږ دا ارمان درلود چې پراخې ټولټاکنې ولرو (د ګوند د ټولو غړو) مګر د موږ بودجه دا تقاضا نکوله. له ښاغلي اميد سره خبري، کابل، ۲۰۰۶ کال. د ۲۰۰۲ کال په پای کې د ګوند مشري له آريايي په ټولټاکنو کې سنجر يوړله، آريايي له سياست لاس اخلي. په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان د ملي سولې او يووالې ګوند (حزب صلح ووحدت ملی افغانستان) کې بدلون د مشرتابه د پريکړې پر بنسټ وو. د کار او توسعه د ګوند پخوانی مشر اوس ددې ګوند د جوړښت د پراخولو لپاره کار کوي.

پراخ نهضت په نوم یو ګوند جوړ او ثبت کړ. د خلق ګوند د دویمې پوړو مشرانو شیر محمد بزګر او سلیمان کامجو د دې همغږ کوونکی دی . دې ډلې د ۲۰۰۶ کال د فبروری په میاشت کې یوه اعلامیه صادره کړه او وې ویل چې دې نهضت خپل پروګرام او منشور تایید کړی او د ایې هم وویل چې دا نهضت به منحل کړي او یو نوی سازمان به جوړ کړي. په عین وخت کې هغو پخوانیو مشرانو چې دا نهضت جوړ کړی وو، وویل چې دوی په دې نوي ګوند کې لوړې څوکی نه غواړي، تر اوسه د نهضت ثبت کېدل عام وګړي ځان ته نه دې را نږدې کړي[۱۶۹].

بې له دې ډلو نه نورې ډلې په بهر کې هم شته. تر ټولو د پام وړ ډله د افغانستان د نوي وطن ګوند ډله ده چې د ۱۹۹۷ کال د جون په ۲۸ د آلمان د مونیخ په ښار کې یې لومړی کنفرانس جوړ کړ، او د وطن ګوند پخواني ځوان غړي محمد عیسی جسور یې مشروټاکه. دا ګوند خپل ځان د خلق د دیموکراتیک ګوند او د ډاکټر نجیب الله د ګوند ادامه بولي او د هغه د ملي پخلاینې د پالیسي پلوي کوي، مګر ددې ګوند له ناکامو یو، ذهني انحرافونو او افراطیت نه ځان لرې بولې، او وایي چې دا یو نوی پیل دی[۱۷۰]. دې ګوند د ۲۰۰۰ کال د نومبر په میاشت کې یو بل ګام اوچت کړ او د ګوند په دویم کانګرس کې چې د فرانکفورت په ښار کې جوړ شوی و ټول پخواني مشران، کارمل او هغه صاحب منصبان چې له دوستم سره تړلې وو او په ۱۹۹۲ کال کې د نجیب پر وړاندې کودتا کړې وه ملي خاینین اعلان کړل او له ګوند نه یې ویستل[۱۷۱]. دا روښانه نه ده چې په افغانستان کې دننه دا ګوند څومره فعالیت کوي.

د صوفي محمد شینا په مشری د خلق دیموکراتیک ګوند کیڼ لاس ته، د افغانستان د خلګو د آزادی اتحاد یا پخوانی "کجا" اوس هم فعالیت کوي، مګر ثبت شوي نه دي[۱۷۲]. تر اوسه هیڅ (واحد) ګوند چې د خلق د دیموکراتیک ګوند ځای ونیسي نه دې پیدا شوی[۱۷۳].

---

۱۶۹–دا ګوند ادعا کوی چی په پارلمان کی ۵ وکیلان لری. دا معلومات له انتونیو جیوستوزی نه اخېستل شوي دی.

۱۷۰–کمیته مرکزی حزب وطن افغانستان، پیام اولین کنفرانس سراسری حزب وطن در خارج کشور توسط احزاب، سازمانها ونیروهای صلح دوست جهان، وطن (Antwerp) ، ۲ شمیره، د ۱۳۷۶ کال د سنبلي ۱۳.

۱۷۱–وګورئ: د شنو کین لاسو اونیزه، برودواي، نوي سهیلي ویلز، استرالیا، شمیره ۳۶۴، د ۱۹۹۹ کال د جون ۹.

Green Left Weekly, Broadway NSW (Australia), no. 364, 9 June 1999.

د لیکوال مرکه له ښاغلي جسور سره په برلین کې، ۲۰۰۰کال.

شاهد شمیم، د نجیب الله د وطن ګوند اصلاح شو، د نشن ورځپاڼه، لاهور، د ۲۰۰۱ کال د فبروري ۲۶.

Shamim Shahid, Najibullah Watan Party reformed, The Nation ,(Lahore), 26 Feb 2001.

۱۷۲–دي ګوند د خلق ګوند په ۱۹۸۸ کال کې پریښنو د اووجه یې دا وه چې د جینوا تړون یې رد کړ. وګورئ: ریفرنس ۸۰.

۱۷۳–Ishiyama ایشیاما، ۲مخ.

جوړه کړه او د هزاره او ازبکانو له کاندیدانو سره یې اړیکې ټینګې کړې چې یو ګډ کاندید پیدا کړي. کله چې دې کار ګټه و نه کړه، دوی یوازې عمل وکړ او د کانو او صنایعو له مرستیال، پخواني فعال دیموکرات میر محمد محفوظ ندایي څخه یې ملاتړ وکړ[۱۸۴]. ندایي په ټولټاکنو کې۸۹ رایې یوړې، چې د ده د نومولو نه لږې رایې وې. نورو دیموکراتانو مسعوده جلال، یواځینی ښځینه کاندیدې ته رایې ورکړې.

دا څرګنده شوه چې نوي دیموکراتانو د بیړنی لویې جرګې په۱۵۰۱ وکیلانو کې ډېرلږ وکیلان لرل او ونه توانېدل چې په غونډه اغیز واچوي. د لویې جرګې تر جوړېدو وړاندې پرمختګونه هم د دوی په ګټه نه وو. دې نو یو ډلو د خلکو په منځ کې خپل کارونه لږ کړل او د سیاسي ګوندونو د قانون د تصویب انتظارې کاوه. دوی غوښتل چې دا ثابته کړي چې د دوی د قانون د حاکمیت د پلي کېدو غوښتنې جدي وې، مګر دې کار د دوی واټن له خلکو نه ډیر کړ. وسلوالې ډلې لا هم په ټول هیواد کې ځواکمنې وې. د ۲۰۰۲ کال د فبروری په میاشت کې د ترانسپورت وزیر، ډاکټرعبدالرحمن وژل، داسې ګنګوسې را پورته کړې چې ګواکې هغه نور د نظار له شورا سره ښې اړیکې نه لرلې، او غوښتل یې چې شاهي پلوه ګوند جوړ کړي[۱۸۵]، او بیا دوې میاشتې وروسته د اسلامي ګوند د ډیرو غړ و نیول په کابل کې نوې دیموکراتانو ته یو اخطار وو. په بیړنی لویې جرګې کې وسلوالو ډلو د جرګې ترتیب او تنظیم چارې د والیانو له لارې په لاس کې نیولې وې، بې له شکه والیانو له دوی سره تړ او درلود، او والیانو له خپله واکه په خپلو سیمو کې کار واخیست چې نا مطلوب کسان په ټولټاکنو کې ونه ټاکل شي[۱۸۶]. کله چې ملګرو ملتونو، د متحده ایالاتو استازي او ولسمشر کرزي د جرګې پر کمیسیون فشار راوړ چې د تایید شوي مقررې پر ضد یې ۵۰ نور وکیلان تایید کړل، وسلو والو ډلو ته دا چانس ور کړ شو چې د لویې

---

۱۸۴–ددې ټلوالې لمړی کاندید، محمد نور سوهیلی موافقه وکړه چې د زوړ ندایې لپاره له خپلې کاندیدی تېرشي، سره له دې چې ندایي خپل ځان د ټلوالې کاندید ښودلې و، خو ده د تیار شوي وینا نه ګټه وانخیستله او دا چانس یې له لاسه ورکړ چې دهیواد دیموکرات ځواکونه د افغانستان خلګو ته ورو پیژني. بیا هم وګورئ: اسماعیل اکبر، ۸۲ مخ.

۱۸۵–وګورئ: اسماعیل اکبر، فصل آخر، ۷۲ او ۷۴ مخونه. ډاکټرعبدالرحمن د طالبانو په پیر کې د احمد شاه مسعود معاون و. کرزي د هغه وژنه یو قتل وباله، چې پکې لوړ پوړو چارواکو لاس درلود او دهغوی د نیولو حکمې صادر کړ، مګر په تحقیقاتو کې شک پیدا شو او تورن کسان بې له کومې خبرې خوشې شول. کرزی وایي چې وزیروژل شوی دی، او ګوتې د حکومت چارواکو ته نیسي.

CNN, 15 Feb 2002

<http://www.cnn.com/2002/WORLD/asiapcf/central/02/15/afghan.minister/index.html>

جان ف برنز، افغان مشر چاروا کې د وزیر په وژنه کې تورن کړي، نیویارک ټایمز، د ۲۰۰۲ کال د فبرورئ ۱۶.

John F. Burns, Afghan Leader Blames Officials in Killing of Aide, New York Times, 16 Feb 2002.

۱۸۶–رسماً ۸ کاندیدان له بېړني لویې جرګې وړاندې ووژل شول او د ملګرو ملتو د سرمنشي استازي نه غوښتل چې خلګو ته ووایي. یوه مطبوعاتي اعلامیه څوورځې د جرګې له دایرېدو وړاندې خپره شوه. وګورئ:

د افغانستان د ځوانانو د یووالي ګوند په ۱۹۹۸ کال کې د پښتنو ځوانانو له خوا د کوټې په ښار کې جوړ شوی و. ددې ګوند مشري جمیل کرزی کوي، چې اوس هم د ځوانانو په راټولولو کار کوي. دا ګوند وايي چې دوی معتدله دي، کله پر کرزي نیوکې کوي او کله یې هم پلوي کوي[۱۷۹].

د ۲۰۰۱ کال د جون په میاشت کې د کابل تړون د آلمان د آخن په ښار کې جوړ شو او د ۲۰۰۲ کال په پای کې دا کار په کابل کې تکرار شو. د کابل تړون ۶ پخواني کيڼ لاسي ډلې سره یو ځای کړي دي، او دوی وايي چې دوی مشروطه غوښتونکي دي. د دې تړون موخه د ټولو افغانانو نه یو غیرې قومي سوسیال دیموکراتیک ګوند جوړول دي[۱۸۰]. په ۲۰۰۴ کال کې رنګین دادفر سپنتا، او خپلواک فعالین لکه اسماعیل اکبر او قسیم اخګر هڅې وکړې چې خپلواک روڼ اندې له ټول هیواد نه د خپلواکو روڼ اندو په اتحادیې کې سره را ټول کړي، دې ډلې ته دریم لېک هم وايي. د ۲۰۰۴ کال د نومبر په میاشت کې دوی له جنګسالارانو سره د کرزي پر یو ځای کېدو په عامه توګه نیوکې وکړې او وې ویل چې په کابینه کې باید د کار وړ او سم کسان وټاکل شي، تر څو د وسلو ځواک ته د پای ټکی کېښودل شي[۱۸۱].

په افغانستان کې دننه، هغو ډلو چې د بن په غونډه کې یې د ناظرینو په توګه ګډون کړی وو، د نړدې همکاري لپاره ګام پورته کړ. تر بېړنی لویې جرګې څو اونی وړاندې د ۲۰۰۲ کال د مې په میاشت کې څلورو ډلو[۱۸۲] د سولې او دیموکراسی د مدافعانو شورا جوړه کړه. په یوه بله حیرانونکې ټلواله کې اسلامي ګوند، سازا، مستضعفین او د شمال کيڼ لاسې پخواني فعالین سره یو ځای شوو، او د انجنیر عثمان[۱۸۳] په مشری یې د افغانستان د ملي سولې او دیموکراسی شورا په نامه یوه ټلواله جوړه کړه. دواړه ډلې په دې بریالي شوي چې د قومي او سیاسي بیلتون لیکې شاته پرېږدي. دیموکراسي پلوه ځواکونو سیکولر سیما سمر، د ښځو دچارو وزیره او ازبک پخوانی ماویست، اعظم دادفر د لویې جرګې دوه مرستیالان د جهادیانو پر ځای وهڅول. دوی پریکړه وکړه چې په ولسي جرګې کې د ولس مشري لپاره کاندید ونوموي. له دیموکراسي پلوه ځواکونو سره په همغږی کې دوی د افغانستان ملي او دیموکراتو ځواکونو په نامه یوه ټلواله

---

۱۷۹–جمیل کرزی د جمهور ریس کرزي وراره دی.

۱۸۰–دې ډلو پدې پیمان کې برخه اخیستې وه: د دیموکراسی شورا، سازا، حزب عدالت و رفاه افغانستان د شیرپاچاه قیام په مشري، ولسي ملت، او دوی نورې ډلې چې د افغانستان په لوېدیځ کې فعالیت کوي، شورای انسجام ملی و مردمی افغانستان او انجمن وفاق ملی. د لیکوال مرکه په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې.

۱۸۱–هیواد ورځپاڼه کابل، د ۲۰۰۴ کال د نومبر ۲۳. پدې غونډه کې د نظار د شورا روڼ اندې انجنیر محی الدین محدي هم برخه اخیستې وه.

۱۸۲–تردې مودې اتفاق مبارزین لا په پشپړه توګه دننه په افغانستان کې نه وو جوړ شوي.

۱۸۳–بیا هم وګورئ: محمد اسماعیل اکبر، فصل آخر، ۷۵ – ۷۶ مخونه.

اعظم دادفر د سیکولرهزاره ګانو او ازبکانو له خوا کاندید وټاکل شو. د دې پريکړې پر خلاف د دیموکراسی د ټلوالي ویاند خواجه شیر پاچا قیام د جرګې مرستیالی ته ځان کاندید کړ او ۸ رايي يې یوړې، چې دې رايو دادفر د مرستيالی له دوهمه مقامه وغورځاوه. دې خبرو د دیموکراسی د ټلوالي اتحاد په جرګې کې پای ته ورساوه او د احتمالي ملګرو په منځ کې ډېره بې اعتمادي را پيدا شوه[۱۹۳]. د اساسي قانون لويې جرګې د کرزي او ديموکراتانو تر منځ واټن ډېر کړ، دوی تر دې محاله له کرزي نه پلوي کوله. دوی په دې ډېر خپه شوي وو کله چې کرزي له ۵۰ وکيلانو يو ديموکرات وکيل هم انتصاب نه کړ. کرزي د دوی پر ځای له استاد سياف او نورو جنګسالارانو سره ايتلاف وکړ. په دې وخت کې ټلوالې ډېر ارزښتناکه وخت د ۲۰۰۴ کال د ولس مشرۍ ټولټاکنو لپاره په ټول هيواد کې د جوړښت چانس له لاسه ورکړ. په پايله کې هيڅ ديموکرات ځواک رياستي ټولټاکنو ته خپل کانديد وړاندې نکړ[۱۹۴]. کله چې کرزي خپله اصلاح پاله اجندا وړاندې کړه دوی بيا له ده حمايت وکړ. په دې وخت کې دملي ديموکراسی ټلواله ډېره لويه شوې او بې اغيزه وه، او ډېر ژرېې فعاليتونو له منځه ولاړل. د افغانستان د ملي سولې او ديموکراسی شورا بيا ټوټې شوه[۱۹۵]، او د سولې او ديموکراسی د مدافعانو په شورا کې هم ګډودي وه. د ټلوالې مرګ لا رسماً نه و اعلان شوې چې ځينې د ټلوالې محرکو ډلو دبل اتحاد د جوړولو هڅې څو ورځې وړاندې له ولس مشرې ټاکنو پيل کړې. د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر په ۱ نېټه، ۱۵ ګوندونو د افغانستان ملي او ديموکراتيک مشورتي کميسيون بنسټ کېښود[۱۹۶]. په اولو شپږو مياشتو کې دوی هڅې کولې چې له پخوانيو خطا و نه څه زده کړي او پارلماني ټولټاکنو ته په همغږي توګه تياري ونيسي او ريښتني استازې خلګو ته وړاندې کړې چې د بريالیتوب چانس ولري. دې نوي تلوالې حامد کرزی وهڅاوه چې متخصصه کابينه جوړه کړي، دوی

---

۱۹۳–ديموکراسي ټلوالې داسې هوکړه کړې وه چې شيرپاچا قيام دې د کانديدی له چانسه ګټه واخلي او ټلواله دې معرفي کړي او وروسته دی له خپلې کانديدی د دادفر په ګټه تېر شي، په پايله کې به دادفر د سياف د کانديد کشاف سره يو رقم رايې ولري ، کشاف دريم مرستيال وټاکل شو. قيام وروسته د نظار له شورا سره همکاری کولې.

۱۹۴–ندايي بيا کانديد وولې دی د نظار شورا ته نږدې شوی و.

۱۹۵–بيا هم وګورئ: محمد اسماعيل اکبر، فصل اخر، ۷۵ – ۷۷ مخونه.

۱۹۶–رسماً دا کمسيون يوه مياشت وروسته اعلان شو. اعلاميه کمسيون مشورتی ملی و ديموکراتيک افغانستان، اعلاميه مطبوعاتی، ۱۰ عقرب سال ۱۳۸۳. د بنسټ اېښودنکي غړي دا ول: د افغانستان د ځوانانو د يووالې ګوند د جميل کرزي په مشري، د جمهوری غوښتونکو ګوند د صبغت الله سنجر په مشري، د کار او توسعې ګوند د ذولفقاد اميد په مشري، د افغانستان د خلګو د رفاه ګوند د ميا ګل وثيق په مشري، د افغانستان د قومونو د ملي يووالې ګوند د محمد ظريف ناصري په مشري، د ملي يووالې ګوند د عبدالرشيد جليلي په مشري، دځوان افغانستان اسلامي سازمان د سيد جواد حسيني په مشري، د افغانستان د خلکو د ارمان ګوند د سراج الدين ظفري په مشري، د افغانستان د تفاهم او ديموکراسی ګوند د احمد شاهين په مشري، د افغانستان د ملي ترقي ګوند د اصف بکتاش په مشري، د افغانستان د خلګو دسعادت ګوند دمحمد ذبير پيروز په مشري، د افغانستان ليبرال ګوند د اجمل سوهيل په مشري، د افغانستان د يووالې ګوند د عبدالخالق نعمت په مشري، د افغانستان د آزادی او ديموکراسی نهضت د عبدالرقيب جاويد کوهستاني په مشري، د افغانستان دخلګو د آزادي غوښتونکو ګوند د فدامحمد احساس په مشري. ذولفقار اميد ولايتي وياند وټاکل شو. د افغانستان د خلګو د رسالت ګوند د نور آقا روين په مشري او د افغانستان واحد ګوند د محمد واصل رحيمي په مشري وروسته له دې کمسيون سره يو ځای شول.

جرګې چارې په خپل لاس کې ونيسي. د جرګې د کيږدی لاندې د نظار شورا تر کنترول لاندې استخبارات په آزاده توګه وکيلان تحديد ول[۱۸۷].

وروسته له دې چې ديموکراتانو په لويه جرګې کې ماتې وخوړه، دوی يو بل ګام د يوه لويې ټلوالې د جوړولو لپاره پورته کړ تر څو رياستي ټولټاکنو ته ځانونه چمتو کړي. د ۲۰۰۳ کال د جنوری په مياشت کې يولسو ګوندونو د اسلام آباد په ښار کې په يوه ورکشاپ کې سره وليدل او د اپريکړه يې وکړه چې د افغنستان ديموکراسی لپاره د ملي ټلوالې پر جوړولو کار وکړي[۱۸۸]، او په فعاله توګه به نور ملي، ديموکرات او رون اندې د ګډون لپاره ټلوالې ته رابولي. ددې ټلوالې پلان دا و چې د ۲۰۰۴ کال رياستي ټولټاکنو ته ګډ کاري پلان جوړ کړي. د ټلوالي موخې د افغنستان ديموکراتيک کول و. د افغنستان لپاره د سولې او ديموکراسی شورا[۱۸۹]، د افغنستان ملي او مترقي ټلوالې ځواکونو، د افغنستان د ملي سولې او ديموکراسي د پلوي شورا د افغنستان لپاره د ملي سولې او ديموکراسي د شورا يوه څانګه، او په خاصه توګه يې پخواني مستضعفين او د سازا غړي را ټول کړی و[۱۹۰]. کله چې دا ټلواله په رسمي توګه د ۲۰۰۳ کال د مارچ په ۱۱ کې له ۴۰ سياسي ګوندونو څخه جوړه شوه، د جوړېدو په غونډه کې ښځو، زده کونکو، د ځوانانو سازمانونو، د علماوو شوراګانو، قومي مشرانو او لړه کيو، چې نيمايي د طالبانو په حکومت کې هم فعال و، او همدا ډول د افغنستان لپاره د ديموکراسی شورا ګډون کړی وو. په دې غونډه کې د کابل تړون دوو ګوندونو هم ګډون کړی وو، مګر د افغنستان ملي او مترقي ځواکونو ټلواله او د افغنستان د ديموکراسی لپاره ملي متحدې ټلوالې ګډون ونکړ[۱۹۱].

د اساسي قانون په لوې جرګې کې چې ديموکراتانو له ۳۸ تر ۴۰ وکيلانو د لرلو ادعا کوله، يو ځل بيا يې يوه بله ماتې وخوړله[۱۹۲].

---

۱۸۷بيا هم وګورئ: عمرزاخيل وال او ادينه نيازی، جنګسالاران په کابل کې بريالي شول، نيويارک تايمز، د ۲۰۰۲ کال د جون ۲۱.

۱۸۸پدې کتنه کې دې ګوندونو برخه اخيستې وه: د افغانستان د سولې او ديموکراسی د شورا د غړو څلور ډلې، دافغانستان د ترقي غوښتونکو ملي شورا د ابوالحرار رامزپور په مشري، دا ګوند د افغنستان د ليبرال له ګوند نه بېل شوی وو، د ديموکراسی مشعل د ورځپاڼې ډله د فضل رحمن اوريا په مشري، د افغنسان د عدالت او رفاه ګوند، د افغنستان د ديموکراتانو کانون د انجنير محمد نور سهيلي په مشري، د مبارزينو اتفاق او د ټول افغنستان د ښځو اتحاديه د ثريا پرليکا په مشري، چې د خلق دديموکراتيک ګوند لوړ پوړي غړي وه او د ښځو د حقونو فعاله ده.

۱۸۹دې ۱۶ د کيڼ لاسو ډلو د پيښبور په ښار کې کار کاوه چې وروسته په ملي مترقې ګوند (حزب مترقی ملی) بدل شو.

۱۹۰دوی وروسته له دې بېل شول کله چې پښتنو غړو د افغنستان د ملي سولې او ديموکراسي شورا مشرتوب يوه نظامي قوماندان ته ورکړ.

۱۹۱دا ټلواله په ۱۹۹۴ کال کې بيا را ژوندي کړای شوه، په ۱۹۹۸ کال کې د يوې پراخې ديموکراتيکې ټلوالې، د افغنستان د خلګو د متحدې ټلوالې په نامه د جوړلو لپاره هڅې ناکامې شولې، دوی اوس هم له مترقي ديمکراتانو سره له دې نومه کار اخلي.

۱۹۲يو حرکت چې رسماً د هيواد نوم د اساسي قانون په مسوده کې له اسلامي جمهوريت نه د افغنستان جمهوريت ته واړی ۱۵۱ لاسليکونه را ټولې کړې ( ۵۰۲ وکيلانو د اساسي قانون په لوې جرګې کې ګډون کړې وو)، دې حرکت دا وښودله چې ديموکراتان پدې جرګې کې يوازې نه ول. سره له دې چې د اساسي قانون د لوې جرګې ريس لاسليک کونکو ته د "کافرانو" خطاب وکړ او دايې رد کړ چې پر وړانديز دې رايې واچول شي، يوه ديموکرات فعال وروسته ليکوال ته وويل چې دا ۱۵۱ دې لاسونه سره ورکړې.

بروسو (Jose Manuel Barroso)او یاشکه فیشر (Joschka Fischer) له بنسټ پالانو په معتدله کيڼ لاسو بدل شوي دي. ساما په بهر کې پټ مشرتوب لري. ساما په دې باور نه لري چې د ديموکراسی پرمختگ بيرته په شاه نه شي تلای، ځکه نه غواړي خپل پاتې جوړښت ميدان ته را وباسي، او په هغو ملگرو نيوکي کوي چې د قانوني سياسي گوندونو د ثبتولو لاره يې غوره کړې ده. ځينو بيا په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د کمونيست (ماويست) گوند پيدا کړ. داسې ښکاري چې دا به يوازې په بهر کې فعاليت کوي، د شعلې جاويد خپرونه هم هلته بيا خپريږي[۲۰۱].

## د معتدلو تشه او "دجمهوري گوند" نشتوالی

کله چې د محمد ظاهر شاه، سلاکار، خليل الله خليلی د ۱۹۶۰په کلونو کې د ملي متحد گوند په جوړولو کې ناکامه شو، بيا هيڅ بل منظم معتدل، غيرکيڼ لاسی او غير اسلامي حکومت پلوی گوند نه دې را څرگند شوي. کيدای شو دا تشته د پاچا د کورنی خوځښت ډکه کړي. د افغانستان د ملي وحدت تحريک گوند، چې د روم له ډلې جوړشوي و، د قومونو معتدلو اسلامي مشرانو او روڼ اندو ورسره ليوالتيا ښودله. کله چې د ۲۰۰۳ کال د اگست په مياشت کې دا گوند رسماً د کابل په شمال لوېديځ کې د يوه واده په سالون کې د ۲۰۰۰ کسانو په گډون پيل شو، ډېره پاملرنه يې ځان ته جلب کړه. عزيزالله واصفي د روم د ډلې وياند، چې د پاچا په وړاندي يې د محمد داود له کودتا په ۱۹۷۳ کال کې پلوي کړې وه، پروفيسور عبدالشکور رشاد، رسول امين او عبدالستار سيرت، د روم د ډلې او د بن په غونډه کې د کرزي سيال، او حتا شهزاده ميرويس او مصطفی د دې گوند د بنسټ اېښودنکو په شورا کې غړيتوب درلود. سلطان محمود غازي د پخواني صدراعظم، شاه محمود خان زوی د دې گوند مشر او پخوانی کمونيست عبدالحکيم نورزی، د استخباراتو مرستيال، چې دا دنده يې پريښودله، ددې گوند تنظيموونکي وټاکل شول. د داسې يوه شاليد په لرلو سره، دې گوند کولای شول چې يو فوق العاده پراخ بنسټ کېږدي، او له نوي ديموکراتانو سره د زړو کيڼ لاسو او اسلامي ښي لاسو تر منځ تشه ډکه کړي[۲۰۲].

---

۲۰۱–دا د څلورو ماويستي سازمانونو اتحاد دی (پيکار هم پکې شته). د نړيوال انقلابي حرکت غړيتوب لري، دا هغه تمايلات دي چې پدې ډله کې د پيرو د هيواد سيندورولومينوس (Sendro Luminous) هم په کې گډون لري. دا نوي گوند په ۲۰۰۴ کال کې جوړ شو، موخې يې دخلگو د مقاومت جنگ د اشغالگرو ځواکونو لکه دامريکې د متحده ايالاتو په وړاندې دی. ددې گوند نفوذ د ننه په افغانستان کې معلوم ندې. وگورئ: http:/www.sholajawid.org/.

۲۰۲–ددې احتمالي دريم ځواک مشران لا پخوا د اسلامي گوندونو له خوا په بهر کې وژل شوي ول، لکه پروفيسور سيد بهاوالدين مجروح او عزيز الرحمن الفت د ويښ زلميانو د بنسټ اېښودونکي زوی. وگورئ: کاکړ، ۲۶۷ مخ.

ویل چې د کرزي بریالیتوب په ټولټاکنو کې دا مانا لري چې خلک افراطیت، د ده مصالحت او د واک وېشل له جنګسالارانو سره نه غواړي.

په ټولیزه توګه د دوی په منځ کې متقابل اعتماد نه و، او د دیموکراسی د ټلوالي ځینو ګوندونو دخپل ځواک لوړ اټکل کړی و، په پایله کې دوی ونشوکړای چې د کاندیدانو ګډ لست پارلماني ټولټاکنو ته وړاندې کړي. ځینو غړو تر ټولټاکنو وړاندې دا ټلواله پرې ایښې وه. جمهوري غوښتونکو له سترې کیدونکو خبرونه ډډه وکړه او د راتلونکې لپاره یې د خپل ګوند پر جوړښت فکر کاوه. د ملي یووالې ګوند نه غوښتل چې خپل مشر، عبدالرشید جلیلي[197] بدل کړي، دا ګوند له نورو پخوانیو خلقیانو سره یو ځای شو. د جمیل کرزي ګوند نور پیاوړي متحدین لټول او د کرزي له ډلې سره یو ځای شو. د سید جواد حسیني ګوند هم دا کار وکړ او د قانوني له ډلې سره یو ځای شو او په ټلواله کې یې هم غړیتوب له لاسه ورنه کړ[198]. په پایله کې د دې ټلوالې ګوندونو خپلې رایې په ټول هیواد کې بیل بیل وویشلې، او یوازې په کابل کې د لسو ګوندونو مشرانو له یوبل سره سیالی وکړې[199]. بې له جمیل کرزي نه نورو کلکه ماتې وخوړله. په اوس وخت کې دا کمسیون په ټیټه کچه کار کوي او په عین وخت کې غړي یې د نورو ټلوالو او اتحادونو د جوړولو په لټه کې هم دي. د دوی دا ادعا چې دوی په پارلمان کې ۸ وکیلان لري یا د دوی سره خواخوږي دي، او یا دا وکیلان په خپل منځ کې په منظم ډول همکاري کوي هیڅ ثبوت نه لیدل کیږي. سره له دې چې پارلماني تجربه نشته، خو بیا هم دا ډېر ستونزمن کار دی چې دوی دې د وسله والو ډلو له جذبي ځواک او قومي انسجام نه ځان لري وساتي. دیموکراتیک ځواکونه اوس هم ډېره اوږده لاره په مخ کې لري تر څو د یوه ځواک په توګه را څرګند شي.

د ماویستانو له ډلو ځیني اوس هم فعاله دي، مګر دا روښانه نه ده چې آیا دوی خپلواک سازمانونه لري او که نه یې لري. رهایې، چې په ځانګړې توګه د افغانستان په لوېدیځ کې ځواکمن و، داسې ښکاري چې اوس هم هلته پلویان لري. ځینې غړې یې له پخوانیو مجاهدینو سره د افغانستان د یووالې ګوند د مشورتي کمیسون له یوه غړي سره یوځای شو. ځیني مشهور غړي لکه سپنتا او دادفر[200]، دواړه لکه اروپایي سیاستمداران حوزه مانویل

۱۹۷–کمسیون دا پرېکړه وکړه چې ددې کمسیون هیڅ ګوند به د خلق ددیموکراتیک ګوند غړي (سیاسي بیرو او د کابینی) غړي به د ګوندونو مشري نه کوي، دا له دې کبله وه چې د پارلماني ټولټاکنو په وخت کې مجاهدین پر دوی نیوکې ونه کړي.

۱۹۸– د جمیل کرزي ګوند رسماً د ۱۳۸۳ کال د مرغومې په ۱۷ اعلان وکړ چې دا کمیسیو ن یې پرېښود. د حسیني ګوند د دې کمسیون له پریکړې ګټه واخیسته چې غړي ګوندونه کولای شي په عین وخت کې په نورو ټلوالو کې هم برخه واخلي. د ګوند یو مشر لیکوال ته وویل چې یوازې لامل د ټلوالې بدلول مالي حمایت برابرول په بل ځای کې و.

۱۹۹–رویین، ناصري، بکتاش، نوریه حقنګر، وثیق، رحیمي، پیروز، صبحاني، شاهین، حسیني، جمیل کرزي، سنجر، رامزپور او قیام.

۲۰۰–وګورئ: د دوی هڅې د سوسیال دیموکرات ګوند د جوړولو لپاره. دوی دواړه پخوا د رهایې غړي وو.

د کرزي پلوه غورځنګ د جوړولو لپاره لږ تر لږه درې هڅې وشوې. د ۲۰۰۳ کال په مني کې کانادا او د امریکې متحده ایالاتو په سفرونو کې ده وویل چې د ریاستي ټولټاکنو لپاره به د "خلګو په منځ کې د یوه غورځنګ" مشري کوي اونه د "یوه سیاسي غورځنګ". د اکتوبر په ۵ ده خپل ځان د شمال له ټلوالې څخه لرې کړ. کرزي وویل چې اوسنی "ایتلافي حکومت" د اصلاحاتو په راوړلو کې پاتې راغلی او دی به بیا په ایتلافي حکومت کې برخه نه اخلي. دې خبرو جهادي مشران وارخطا کړل، څو غونډې یې جوړې کړې چې خپل کاندید وټاکي، وروسته له دې چې رباني ویل چې دی ټاکل شوی، مګر نورو برخه والو دا نه منله، غونډه په بی نظمي کې پای ته ورسېدله.

وروسته له دې بیا قیوم کرزي د ولس مشر ورور ته دنده ورکړ شوه چې معتدله او اصلاح غوښتونکي ځواکونه[209] له درېیو ټولنیزو ډلو: قومي مشرانو، تحصیل کړي دیموکراتانو چې ځینې یې د سیاسي ګوندونو غړي وو، او ځوانان سره را ټول کړي. ددې خوځښت نوم د ملي مصلحت شورا وه. کرزي د ځوانانو ډلې، ملي دیموکراسي ټلواله او د کابل ترون را وبلل. دوی د دیموکراسي اصولو ته، منل شویو نړیوالو بشري حقونو ته او د دیموکرسي پر اساس د یوه دیموکراتیک حکومت جوړولو باندی تعهد وکړ. او یوه ګډه مسوده یې جوړه کړه، ا و د همغږي یو ۵ کسیزه ټیم له قیوم کرزي، او درې روڼ اندي چې نوي له بهر نه راستون شوي وو(رنګین دادفر سپنتا، نجیب روشن او اعظم دادفر د کابل له ترون نه) او حسین راموز[210] د دیموکراسي له تلوالي نه وټاکل شوو. دې کار نو یو دیموکراتو ځواکونو ته نوی قوت ورکړ. د افغانستان د ملي پخلاینې د ګوند په وړاندیز د اکتوبر په میاشت کي د یوه همغږی هڅه بیا پیل شوه، په دې ډله کې یوازې د دیموکراسي د ټلوالي مهمه برخه نه بلکه د پاچاهي پلویان، د اسحق ګیلانی ګوند، افغان ملت او نورو وړو ډلو برخه درلوده، مګر دا هڅې بیا ناکامې شوي او وجه یې دا وه چې د کرزي وروڼو ویل چې نامطلوب کسانو (پخوانیو کیڼ لاسو) په دې کې علاقه ښودلې ده. موازي له دې خوځښت سره او ۱۸۰ درجې څرخېدل د ولس مشر ډلې او ځیني پښتانه تیکنو کراتان د پنجشیریانو، د مسعود د وروڼو او د خلیلي د وحدت د ګوند د یوه وړاندیز په لټه کې شول، چې ملي نهضت د ولس مشري ګوند جوړ کړي، مګر دا هڅې وروسته له دې چې کرزي، قسیم فهیم د ولس مشری له مرستیالی‌نه لرې کړ ناکامې شوي.

۲۰۹- وګورئ: محمد اسماعیل اکبر، فصل اخیر، ۱۲۸ او ۱۲۹ مخونه.

۲۱۰- لیکوال مرکه له راموز سره، ۲۰۰۶ کال، کابل. محمد اسماعیل اکبر، فصل اخیر ۱۲۸.

مګر دې ګوند په اول کې لا صدمه ولیدله کله چې په بیړنی لو یی جرګې کې پاچاه باندې فشار راغئ چې ووایي چې دی له هیڅ سیاسي ګوند سره تړاو نه لري، او د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو د اساسي قانون په لو یی جرګې[۲۰۳] کې په شاهي پلویانو ټولې لارې وتړل شوې. د ۲۰۰۶ کال په لمړیو ورځو کې ددې ګوند مهم غړي د کرزي وډلې ته ولاړل. نورزي په دې وخت کې د افغانستان د ملي وحدت ولسي تحریک په نامه خپل ګوند جوړ کړ[۲۰۴]. یوه وړه ډله د همایون شاه آصفي تر مشری لاندې خپلواکه پاتې ده. سلطان محمود غازي تقاعد وکړ او اوس په فرانسه کې ژوند کوي[۲۰۵]. د کرزي اصلاح غوښتونکي اجنډا لپاره به ډېره اسانه وه چې له دې ګوند نه یو "جمهوري ګوند"، چې ډېر اړین ګڼل کیده جوړ کړي[۲۰۶]، مګر کرزي څو ځلې خلګو ته ویلي و چې دی له سیاسي ګوندونه نه کرکه کوي. د ۲۰۰۳ کال د اکتوبر په میاشت کې کرزي له بي بي سي سره په مرکه کې وویل، "افغانستان د هغو سیاسي ګوندنونو له شخړو ویجاړ شو چې ملي نه وو، زجرونه یې ولیدل، او رنځونه یې تیر کړل. افغانستان ته اوس باید یو څه وخت ورکړو". هغه دا هم وویل، "زه نه پوهیږم چې زه به د یوه ګوند مشري وکړم[۲۰۷]، خو هرومرو به د خلګو په منځ کې د یوه غورځنګ مشري کوم". کرزي دا خبرې په خپلې وینا کې د اساسي قانون په لویې جرګې کې بیا وکړي، هغه ګوندونه او وسله والې ډلې "عموماً" کمزوری او بې له ډېرو پلو یانو وبللی. تر پارلماني ټولټاکنو وړاندې دوه ځله کرزي خلګو ته وویل چې هغو کاندیدانو ته رایي ورکړي چې له سیاسي ګوندونو سره تړاو نه لري او د کاندیدانو د "خپلواکې" او "صداقت" تر منځ یې تړاو راوړ[۲۰۸].

---

۲۰۳-په حقیقت کې د متحده ایالاتو استازی زلمی خلیل زاد ووچې د ۲۰۰۲ کال د جون په ۹ په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې پخوانی پاچا به په راتلونکو څو ورځو کې ووایي چې دی د ولس مشري څوکی نه غواړي. دا ربښتیا ده چې پاچاه دا وویل خو هغه خپله دا خبره ونکړه، یوه ویاند لیکل شوي لیک ولوست. پدې وخت کې متحده ایالاتو پر وکیلانو باندې ډېر فشار واچوه چې د کرزي په وړاندې بل پښتون کاندید وړاندې نکړي. وګورئ: د ګاردین (Guardian) د ورځپاڼې مضمون، لوژستیک او سیاست لو یه جرګه له ځند سره مخ کړي، د ۲۰۰۲ کال د جون ۱۰.

See: Logistics and politics delay Afghan grand council, The Guradian, 10 June 2002.

۲۰۴- واصفي چې د داود په کودتا کې برخه درلوده او بیا وزیر شواوس د کرزی سلاکار دی ( د نورودندو په څنګ کې د ولایتي شوراګانو پر قانون باندې کار کوي)، او نورزی، پخوانی خلقي چارواکی، بیا په ۲۰۰۶ کال کې د استخباراتو مرستیال وټاکل شو.

۲۰۵-د ۲۰۰۴ کال د ولس مشري په ټولټاکنو کې آصفي ۳٪ رایي وګټلې.

۲۰۶- د کرزي اولو یتونه اعلان شول، د مخدره توکو له قاچاق وړونکو سره مبارزه، اداري اصلاحات، د مرکزي حکومت د حکم پراخول او انکشافي پروژې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې. وګورئ: احمد رشید، د افغانستان ارامې ټولټاکنی په لاسوهنو خرابی شولي ، د نیشن ورځپاڼه (The Nation) پاکستان، د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر ۱۳.

See: Ahmad Rashid, Peacefull Afghan election marred by irregularities, The Nation (Pakistan), 13 Oct 2004.

۲۰۷- له بي بي سي سره مرکه، ۲۰۰۳ کال د اکتوپر ۱.

۲۰۸-اولني خبرې د یووالې په ملي پروګرام کې د ۳۵۰ سیمیزو استازو په غونډه کې د سیپتمبر په ۸ او بیا په رادیو کې وشوي. وګورئ: امیرشاه، افغانان وهڅول شول چې صادقه کاندیدانو ته رایې ورکړي، اسوشیتید پریس (Associated Press)، د ۲۰۰۵ کال د سیپتمبر ۱۳. ددی لپاره چې ولې کرزی نه غواړي ګوند جوړ کړي. وګورئ: سیتا د ماس (Citha D. Mass) ، افغانستان بې له سیاسي ګوندونو: آیا نوي پارلمان به خپل کار سر ته ورسوي؟ د Stiftung Wissenschaft und Politikنظرونه، د ۲۰۰۶ کال د مارچ ۶.

دا قانون د سیاسي ګوندونو د قانون له ۱۲ مادې سره په واضح ډول په تضاد کی و، دا ماده وايي، یو ثبت شوی ګوند له دې حقونو نه ګټه اخسیتلای شي او کاندیدان په ټولو ټولټاکنو کې وړاندي کولای شي، او ۴۷ ماده وايي د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون باید د مستحقو ثبت شو یو ګوندونو او خپلواکو کاندیدانو په شمول د ګوندونو د کاندیدانو د پای لست ننداري ته کېږدي. له ګوندونو سره موافقه شوې وه چې دا پریکړې به له دوی سره په مشوره کې اخیستل کېږي، مګر دا کار ډېر ناوخته د یوه رسمي چلند په بڼه وشو، مګر ګوندونو خپل نظرونو تر تولټاکنو د مخه په ډاګه کړی وو. ډېره مهمه خبره دا وه چې د ۲۰۰۵ کال د جنوري په میاشت کې ۳۴ بېلابېلو ګوندونه د تولټاکنو د قانون د تعدیل غوښتنه کړی وه او دوی ویل چې تولټاکنې دی د تناسبي (Proportional Representation) سیستم تر لاندې مخ ته یووړل شي[۲۱۵]. دې خبرو په کرزي اغیز نه درلود، او څو ورځې وروسته یې د کابینې غونډه جوړه کړه او د SNTV سیستم په پلوي پرېکړه وشوه.

نړیوالو ناظرینو هم لکه ګوندونه د SNTV پر سیستم نیوکې وکړې[۲۱۶]. سیاسي ګوندونه د یوه کامیابه پارلماني دیموکراتیک سیستم دجوړولو لپاره اړین دي[۲۱۷]، او له ټولټاکنو د ګوندونو عملي لرې کول به د افغانستان دیموکراتیک سیستم جوړولو ته زیان ورسوي. دا خبره د بن د پرېکړې په سرلیک کې د سیاسي موخې په توګه راغلی وه، چې "دا ومنو چې دا د افغا نستان د خلګو حق دی چې دوی په خپله د یوه سیاسي راتلونکې پریکړه د اسلام د اساساتو، دیموکراسی، پلورالیزم او ټولنیز عدالت پر بنسټ وکړي[۲۱۸]".

۲۱۵–د سیاسي ګوندونو اعلامیه د پارلماني تولټاکنو په اړه، کابل د ۱۳۸۳ کال د جدي میاشت. یووازې د پروفیسور مجددي ګوند له کرزي او د SNTVله سیستمه پلوي وکړه. وروسته له دې چې ددې غونډې ګوندونو د یوه مختلط سیستم پلوي وکړه، څلور ګوندونه چې لمړی ثبت شوي وو (د جمهوري غوښتونکو، د ځوانانو د یووالې ګوند، شاهي پلوه او د ملي یووالې ګوندونو) تقاضا کوله چې (یووازې) ۴۹ څوکی د ولسي جرګې له ۲۴۹ څوکیو د سیاسي ګوندونو د کاندیدانو لپاره "ملي څوکی" وساتل شي. د ۲۰۰۵ کال د جنوري په میاشت کي دیموکراتو ګوندونو کمیسون دیوه مختلط سیستم په پلوي خبري وکړې اووې ویل چې یو څه ډېر یانې ۷۰٪ څوکی دې سیاسي ګوندونو ته تخصیص ورکړ شي. وګوري: د څلورو ګوندونو ګډه اعلامیه چې د انتقالي دولت له خوا په رسمیت پیژندل شوي دي، کابل د ۲۰۰۵ کال د مې میاشت. او د فغانستان د ملي او د یموکراتو ګوندونو کمیسیون په هیواد کې د راتلونکې پارلماني ټولټاکنو په اړه، کابل د ۲۰۰۵ کال د جنوري ۱۲.

۲۱۶– د SNTV په اړه وګورئ: افغانستان له ولس مشري ترپارلماني ټولټاکنو، د نړیوال کړکېچ ډله، آسیا راپور شمېره ۸۸ د ۲۰۰۴ کال د نومبر ۲۳– اندرو رینولد او اندرو وایلدر، آزاد، عادلانه یا نیمګړې: د مشروع تولټاکنو لپاره په افغانستان کې خنډونه، د افغانستان د تحقیق د پلټنې واحد (AREU) لنډ راپور د ۲۰۰۴ کال د سپتمبر میاشت، ۳ – ۱۲ مخونه. د ملي دیموکراتیک انستیتوت (National Democratic Institute) تر ټولټاکنو وړاندې د هیت اعلامیه، کابل د ۲۰۰۵ کال د جولای ۱، ۳ مخ. د اروپايي ټولنې د دیموکراسک او ټولټاکنو پلوي هیت، افغانستان: ولس مشري ټولټاکنې د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر ۹ ، اخري راپور، ۳۱ مخ.

۲۱۷–رینولد او وایلدر، آزاد او عادلانه، ۱۷ مخ.

۲۱۸– د افغانستان د لنډ محالو تیاریو پرېکړه د حکومت د دایمي بنسټونو د تاسیس تر مودې پورې، <http://www.un.org/News/dh/latest/afghan/afghan-agree.htm> ، او یو څه روښنایي پدې اړه له لیکوال څخه.

په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د امنیت او اصلاحاتو لپاره ملي ټولنه په نامه له ۶۰ سیاسي، ټولنیزو، سیمیزو شوراګانو او انفرادي کسانو نه یو سوست فیدراسیون جوړ شو. دوی ویل چې دوی په افغانستان کې د ټول هیواد د ټولو قومونو د یوه معتدله ګوند استازیتوب کوي، او له کرزي نه یې پلوي کوله[۲۱۱]. د ولس مشر ډلې دا وړاندیز د ۲۰۰۴ کال په مني کې ومانه، مګر د دې ډلې درجه یې یوه چینل ته ټیټه کړه چې له دې لارې سرچینې د ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټولټاکنو د کمپاین په وخت کې کاندیدانو ته ورسوي. زلمی هیواد مل د ولس مشر د کلتوري چارو سلاکار ددې حرکت شاته بې رنګه لوی کس و. ددې جوړښت چوکاټ به په راتلونکې کې تر دې پوښتنې لاندې راځي چې آیا دا حرکت د ولس مشر کمپ ته دوامداره سیاسي پلوي برابره ولای شي؟

## د ۲۰۰۴ کال د ولس مشري او د ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټولټاکنو په پیر کې ګوندونه

د بن د پریکړې پر اساس ولس مشري او پارلماني ټولټاکنې باید په یوه وخت کې ترسره شوي وای، مګر افغان حکومت بله پریکړه وکړه. ددې وجه دا وه چې ولس مشر کرزي او ده بهرنیو پلویانو نه غوښتل چې د ولس مشر واک دې د یوه انتخابي تقنیني قوه له خوا وځارل شي، او په پایله کې دېرو سیاسي ګوندونو پر دې پریکړې نیوکې وکړې. او تر ولس مشري تولټاکنو وړاندې له جنګسالارانو سره د کرزي پر خبرو هم نیوکې وشوې. کرزي وویل چې دی خپلواک کاندید دی، یووازې د ده درې سیالان قانوني د نهضت له ګوند نه، چې ولې مسعود هم ددې ګوند د مشري ادعا کوله[۲۱۲] ، پدرام د کنګرې ګوند او فاروق نجرابي[۲۱۳] د استقلال له ګوند نه په ټولټاکنو کې د ګوندونو کاندیدان وو.
نور پیژندل شوي مشران لکه محقق، دوستم، ګیلاني، احمدزی او آصفي خپلواک کاندیدان وو. بې امنیتي یوه مسله وه او بله مسله چې ډېرې خبرې پرې کېدلې هغه د تولټاکنو سیستم و، چې کوم سیستم باید غوره شي. د تولټاکنو قانون د ۲۰۰۴ کال د مې په ۲۷ تصویب شو او په دې کې د SNTV سیستم (د یوه رایي اچونکي لپاره د یویې رای سیستم) غوره شوې و، او سیاسي ګوندونو ته په ټولټاکنو کې کومه برخه نه وه ورکړ شوي[۲۱۴] .

---

۲۱۱– د لیکوال مرکه، ۲۰۰۴ کال.

۲۱۲– بل ورور ضیا مسعود د ولس مشر مرستیال کاندید و.

۲۱۳– نجرابي ۳٪ رایې یوړې.

۲۱۴– په ټولټاکنو کې د ګوندونو لست نه وو. کاندیدانو یوازې کولای شول چې د ثبت په پاڼو کې د ګوند د احتمالي غړیتوب ځای په نښه کړي د احصاییې لپاره، مګر د رایي اچولو په پاڼه کې دا ونښودل شو.

قومي اساس لري، دوی د پارلمان د جرګو پر رياستونو او مهمو کميسيونونو کنترول لري، مګر قومي مسايل د ولسي جرګې د رياست په ټولټاکنو کې د ولس مشر د ډلې پر ضد واقع شول او د کرزي کانديد استاد سياف په لږو رايو مات شو.

## پايله: درې تاريخي بهيرونه په شمول د يوه نوي او يو ورک شوي بهير

له طالبانو وروسته د افغانستان درې تاريخي سياسي ايديولوژيکې بهيرونه بيا تر پخوا ډېر فعاله را پيدا شوو، مګر دوی تر پخوا اوس په ډلو ويشل شوي دي. پر يو شمېر تاريخي ګوندونو سر بيره چې تر اوسه په زاړه جوړښت کې دي، ځينې نوي ډلې او ځينې بيخي نوي ګوندونه را پيدا شوو، مګر درې بهيرونه اوس هم د نني افغانستان په سياسي لرليد کې لکه د بدن د اډوکو په شان څرګند دي. د نوي ديموکراتانو څلورم بهير هم پيدا شو. دې عناصرو دا ګډ نظر درلود او هغه دا حقيقت و چې يو نوی شی د زړو ايديولوژيکي خنډونو سر بيره پيل کړي. په نويو ديموکراتانو کې ځواکمن د ديموکراتانو ټلواله، د جمهوري غوښتونکو ګوند، د ځوانانو د يووالې ګوند او د کابل تړون دي. دوی اوس د بيا يوځای کېدو په لټه کې دي.
نوي ديموکراتان، کيڼ لاسي، قومي ملت پال او اسلامي ګوندونه د يوه سرحدي ليک په واسطه سره بېل شوي دي، دوی د اسلام او حکومت په اړه مختلف دريځونو لري. اسلامي ګوندونه د اسلامي جمهوريت پلويان دي ، او نور سيکولريزم غواړي. دا خبره د دوی په پروګرامونو کې نه ده ذکر شوې، او وجه يې له اسلامي ګوندونو ډار دی. اسلامي ګوندونه سيکولريزم د اسلام ضد بولي، او کېږي دوی له دې فرصته ګټه واخلي او د سيکولريزم پلويان د قضا، اساسي قانون او د سياسي ګوندونو دقانون[223] له لارې وځپي. داکټر مسعود متين دافغانستان د يووالي[224] ګوند وياند وايي چې موږ نشو کولای سيکولرزيم د خپل ګوند په کړنلارو کې راوړو، مګر موږ دا و خلګو ته څو ځلې ويلي دي. د ديموکراسي ټلواله يو څه بی باکه ده، د وينا، فکر او مذهب په آزادي باندې ټينګار کوي او په اسنادو کې وايي چې اسلام او سياست بايد سره بېل وي[225].
يو بل سرحد د خلق د ديموکراتيک ګوند چې د شوروي پلوېې کوله او د هغو ګوندونو ترمنځ شته چې د دې ګوند پروړاندي يې په جهاد کې برخه اخيستې وه، مګر د کمونيست د وخت ګوندونه اوس په دواړو سيکولر او اسلامي ګوندونو کې ليدل کېږي. د فيدراليزم پلويان د قومي

---

۲۲۳-دسياسي ګوندونو ۶ ماده وايي سياسي ګوندونه نشي کولای د اسلام د اساساتو ضد موخې تعقيت کړي. وګورئ:.
http:/www.ag-afghanistan.de/files/partylaw-engl.htm

۲۲۴- ليکوال سره مرکه، کابل ۲۰۰۶ کال.

۲۲۵- د افغانستان د ملي ديموکراسي جبهې کړنلاره، کابل ۲۰۰۳ کال.

مارک سیدرا (Mark Sedra) او پیټر میدل بروک (Peter Middlebrook) بیا وایي چې "دا سیستم ددې لپاره غوره شوی و چې د سیاسي ګوندونو جوړولو مخه ونیسي"[۲۱۹].

له دوو خنډونو وروسته، تولټاکنې د ۲۰۰۵ کال د سیپټمبر په ۱۸ د SNTV ترسیستم لاندې ترسره شوې. د ملګرو ملتونو په احصایه کې یوازې ۱۲٪ د ولسي جرګې (۳۸۱ له ۲۳۸۱) کاندیدان د سیاسي ګوندونو تر نومونو لاندې ځانونه ثبت کړي وو. ملګرو ملتونو د اشمېره د ګوندونو د نه پېژندلو پورې وتړله. په حقیقت کې دا شمېره ډېره وه ، اوله ۷۲ نه چې هغه وخت ثبت وو، ۵۳ ګوندونو کاندیدان تر خپل نومونو لاندې وړاندې کړي وو[۲۲۰]. دیموکراټو ګوندونو د امنیت له کبله یو څو کاندیدان تر خپل نومونو لاندې وړاندې کړي وو او ډېرو کاندیدانو په خپلواکه توګه په تولټاکنو کې برخه واخیستله. د دیموکراسی د ټلوالې له ۱۹ ګوندونو ۱۲۰ خپلواکو کاندیدانو په ټولټاکنو کې ګډون وکړ. د مجاهدینو ډېر ثبت شوي ګوندونو هیڅ او یا لږ کاندیدان تر خپلو نومونو لاندې وړاندې کړل. د قانوني د نوي افغانستان او د جمیعت ګوندونو هیڅ کاندید نه درلود. د بشر د حقونو خپلواک کمیسون چارواکو دا اټکل کړی وچې ۶۰٪ کاندیدان د ګوندونو وو، او په کابل کې دا کچه ۹۰٪ کې وه. دا هم ویل کېږي چې له ۲۴۹ د ولسي جرګې وکیلانو نه ۲۰۰ غړي د ګوندونو سره خواخوږي لري، دوی د ۳۳ سیاسي ګوندونو استازیتوب کوي: ۱۹اسلامي ګوندونه، ۷ نوي دیموکراتان، ۴ کیڼ لاسي او ۳ قومي ملت پال ګوندونه دي[۲۲۱].

د SNTV د سیستم په اړه بله وړاند وینه هم ربښتیا شوه، ویلیام مالي (William Maley) لیکلي و: د " ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټولټاکنو سیستم نېغ په نېغه د سیاسي ګوندونو پر ضد و، مګر هغې ډلې چې د هغو پایلو په لټو کې وچې په پارلمان کې د نویو قوانینو د جوړولو لپاره یو بلاک جوړ کړي، بیا وروسته یې لاسونه قومي مسایلو ته واچول، چې پلویان ډېر کړي"[۲۲۲]. په ربښتیا هم دا کار وشو: د ښه تنظیم شویو او تمویل شویو مجاهدین تنظیمونه، چې ټول په ځانګړي توګه

۲۱۹–مارک سیدرا او پیټرمیدل بروک، ۲ مخ. د بلې خوا د استدلال لپاره، هغه سند وګورئ چې ترپرېکړو وړاندې په کابل کې خپور شوی: دا ربښتیا ده چې د SNTVسیستم به د ګوندونو ځواک لږ کړي، مګر که ګوندونو دیموکرات ندی او غیر رسمی ملیشې د میړو په جامه کې دی نو دا په حقیقت کې به دا یو بد کار نه وي. ولې دا استدلال دا حقیقت هیروي چې ټول ګوندونه غیر رسمي ملیشې ندی. تیم میسبورګر: د تناسبی سیستم د یوه رای په وړاندې. د ټولټاکنو سیستم په بي وده دیموکراسیو کې. د آسیا بنیاد (The Asia Foundation)، د ۲۰۰۴ کال د نومبر ۱۸. Tim Meisburger: PR vs SNTV. Elections System in Developing Democracies. The Asia Foundation, November 18, 2004.

۲۲۰–دوه لوی ګوندونوه د ولس مشر پلویان افغان ملت او مهاذ ول.

۲۲۱– د لیکوال مرکه ۲۰۰۵ کال. د ولسي جرګې د ترکیب په اړه، وګورئ: اندرو وایلدر (Andrew Wilder) ولسي جرګه وېشل شوې ده؟ د ۲۰۰۵ کال د تولټاکنو تحلیل، (AREU( دا افغانستان د څېړنې او ارزیابی واحد، کابل، د ۲۰۰۵ کال د دسمبر میاشت. ددې کتاب لیکوال پدې راپور کې برخه درلوده. دا هم وګوري: نومان دوست، ولې روڼ اندی او تیکنو کراتان ناکامه شول، د پژواک خبري آژانس، د ۲۰۰۵ کال د نومبر ۱۳. د "خوشاله کولو دریځ" لپاره ووګورئ:(مارک سیدرا او پیټر میدلبروک، ۹ مخ. له وسلوالو ملیشوو سره د کندیدانو د اړیکو د تشخیص د پروسې لپاره، وګوري: جنګسالارن، بري په تولټاکنو کې، آیرین (IRIN)، ۲۰۰۵ کال د اکتوبر ۱۸.

۲۲۲–ویلیام مالي، "بې تجربې دیموکراسي د خرابي یوه نښه"، د آسترالیان ورځپاڼه (The Australian)، ۲۰۰۶ کال د سیپټمبر ۱۲.

* دسیاسي ګوندونو قانون وایي چې سیاسي ګوندونه نشي کولای د اسلام د اساساتو ضد موخې ولری.

کلمې لکه: خپلواکي، ملي وحدت، ديموکراسي، ډېر وخت د بشر او ښځو حقونه او نور تکرار وي. د ټولنيز عدالت اصطلاح کېن لاسي کاروي (اسلامي ډلې هم له دې اصطلاح ګټه اخلي، مګر دې اصطلاح ته بل آواز ورکوي)، اسلامي ګوندونه بيا د مجاهدينو پر حقونو ټينګار کوي. نوي ديموکراتان او سيکولر ډلې پر ديموکراتيکو ارزښتونو او د قانون پر حاکميت ټينګار کوي، مګر دا د ګوندونو مشران دي چې ګوندونو ته د خلګو په سترګو کې رنګ ورکوي، لکه چې وايې، يوځلې د اسلامي ګوند غړي هر وخت د اسلامي ګوند غړي. د افغانستان ګوندونه د مذهبي اسلامي ښي لاسي او سيکولر په قطبونو وېشل شوي دي، او ټوټې ټوټې دي، لکه چې پورته وليدل شو. په ولسي جرګې کې ۳۰ ګوندونه غړي او يا خواخوږي لري. دوی تر اوسه په دې لټه کې دي چې له خلګو مشروعيت تر لاسه کړي، دا به هغه وخت شونې وي چې دوی نوی سياسي کلتور او سياسي پلوراليزم، چې په اساسي قانون او د ګوندونو په قانون کې ذکر شوی په پام کې ونيسي.

دا يو حقيقت دی چې په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو لپاره ګوندونو سازمان شوي هڅې کړي دي. تر ټولو ستر ګواښ د افغانستان ديموکراسۍ او سياسي سيستم لپاره لکه څنګه چې د بن پرېکړې تصور کړي و هغه د واکمنو ځواکونو د وسلوالو مليشو شتون دی. اوس هغه وخت رارسېدلی چې دوی خپل پخوانی د وسلو له لاري واک تر لاسه کول پرېږدي او په آرامه سياسي سيالی کې خپل موکلين ډېر کړي. افغانان هر وخت وايي چې ګوندونه بايد په "رښتيا ملي" شي، ځينې لا وړاندې په دې لور روان دي.

لېرکيو او د ځينو هغو تنظيمونو او پښتنو ملت پالو چې د مرکزي حکومت پلويان دي تر منځ هم واټن شتون لري.

د سياست په مرکز کې تشه لا تر اوسه ډکه شوې نه ده. کېدای شو چې دا تشه د معتدلو قومي اسلامي، د پاچاهي پلوه ملي وحدت تحريک له نويو ديموکراتانو سره ډکه کړي وای، مګر داساسي قانون له لويې جرګې وروسته له منځه ولاړل. د کرزي پلوه اصلاح پال ګوند هيڅ جوړ نشو، او وجه يې دا وه چې کرزي او د ده يارانو د سياسي ګوندونو او ټلوالو له جوړولو سره دښمني لرله[۲۲۶]. دېرو نورو معتدله روڼ اندو او سياستمدارانو په سياست کې هيڅ برخه وا نخيستله.

پرته له سازماني دوامه چې په څلورو بهيرونو کې ليدل کېږي او حتا په ځينو ګوندونو کې، شخصي سياسي دوام هم ډېر دی. د لومړی او دويمې ديموکراتيکې دورې ځينو مشروطه غوښتونکو هم خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړ. ويښ زلميان او د دوی خپلوان او دوستان هم په وروستنيو سياسي بهيرونو کې ليدل کېږي. هغه کسان چې د شوروي او طالبانو پر ضد جنګېدل، او ډېر وخت په خپلو منځو کې هم جنګيدل، له طالبانو نه وروسته په اوسني آزاده سياسي وخت کې خپلو فعاليتونو ته ادامه ورکوي.

ډېر ګوندونه لويديځ عصري کټګوری ته پاملرنه نه کوي، که د افغانستان ګوندونه د نيدرماير[۲۲۷] (Niedermayer) له نظره وګورو، هغه څه چې وضاحت لري هغه د مشر او پيروانو اصول او کلک کورنی جوړښت دی. ډير لږ نوي ګوندونه، مشران په اصلي ټولټاکنو کې ټاکي. شخصيتونه د سياست پر فضا او د ګوندونو مرکزي دفترونه پر ګوندونو باندې اغيز لري. د ګوندونه د غړيو او خوا خوږو تر منځ توپير نه ليدل کيږي[۲۲۸]. هغه ګوند ته به غړي ګوند وايي که په ټولټاکنو کې ودريږي. ګوند د مشرتابه په جوړښت، کړنلاره او عملي پاليسيو کې ډېر لږ اغيز لري. هغه انفرادي کسان چې د بيلا بيلو ګوندونو په غونډو کې برخه اخلي، د ګوندونو مشرانو ته يوه ستونزه جوړوي، ځکه دوی نه پوهيږي چې په چا اعتماد وکړي. د ګوند دفتر نه شته، سره له دي چې د ځينو ګوندونو مشران په دفترونو، پارلمان او حتا په کابينه کې ليدل کېږي. د ګوند کړنلاره دېر رول نلري. د ګوندونو کړنلارې له يو بل سره دېر توپيرونه نه لري او دا عيني

---

۲۲۶–ويليام مالي (William Maley)، د افغانستان ژغورل، لندن، ۲۰۰۶ کال، ۴۸ مخ.

۲۲۷–مثال وګورئ: نيدرماير، ۱۶۹ – ۱۶۶ مخونه.

۲۲۸–د ګوندونو پر معلوماتو او غړيتوت اسنادو باندې اعتماد نشي کېدلای. يو څو ګوندونه خپل غړي ثبت وي او د غړيتوب کارتونه ويشي. کله چې غړي د ګوند کارت واخلي، دا د دوامداره تعهد مانا له ګوند سره نلري، کارت د ددې لپاره اخلي چې که يوه ورځ حمايت ته ضرورت شي، لکه هغه کارتونه چې د ملګرو ملتونو او انجيوګانو ګټه اخيستونکي اخلي. نور ګوندونه تراوسه هغه لاسليکونه شمېري چې د جهاد په وخت کې يې ټولې کړي دي.

2007

## د لیکوال په هکله

توماس روتیګ اوس د آلمان د Stiftung Wissenschaft und Politik (نړیوال انستیتوت په امنیتي چارو کې) د برلین په ښار کې څېړونکی دی. له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۶ کاله، هغه په اونسما (UNSMA) او یونما (UNAMA) کې سیاسي افسر وو، او د اروپایي ټولنې د مرستیال په توګه او د سیاسي کونسلر په توګه په افغانستان کې د آلمان په سفارت کې دنده ترسره کړې ده. توماس روتیګ د افغانستان د هیواد په اړه د آلمان د برلین د همبولد په پوهنتون (Humboldt University) کې او په پښتو او دري ژبو کې یې د کابل په پوهنتون کې زده کړې کړې دي.